



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بریالیتوب

لیکوال : **Promod Betra**
**ژباړه او راټولونه: زاهد الله (ازل)**

**کال : ۱۴۰۱ل/۲۰۲۲م**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم: بــریـالیتوب
لیکوال: Promod Batra
ژباړن: زاهد الله ( ازل ) : 0787855543
ایمیل ادرس: zahidazal55@gmail.com
کمپوز: حکمت الله ( همکار) : 0730052600
ډیزاین چارې: زاهد الله ازل
خپرندوی: میهن خپرندویه ټولنه
چاپ شمېر: 1000 ټوکه
چاپ وار : لومړی
چاپکال : ۲۰۲۲م / ۱۴۰۱ ل

د چاپ حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دی

د تر لاسه کولو پتې :
میهن خپرندویه ټولنه، پېښور – جلال آباد
جلال اباد : اسحاقزی مارکېټ لاندې پوړ، لومړی دوکان
Email : khorshidhimat@yahoo.com
Abdurashid.himat@gmail.com
Cell: 0300-5981425 - 03219895621
078-8529194 - 0784882505

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

خوږې مور او پلار جان ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

**سرلیکونه** **مخونه**


محمد نبي (عرب) لیکنه ........................................الف
حاجي عزیز الرحمن ( عرب) لیکنه ........................................ ب
سریزه ........................................ ج
بـریـــــا د هر چا معشوقه ده........................................3
بریا څه ده ؟ ........................................ 4
بریا لټون که "ترلاسه کول" ........................................ 6
بـریـــــالي خلک څوک دي؟ ........................................ 9
نو رښتیا چې! ........................................ 10
هوصیب!........................................ 10
Problem are not Enemies........................................ 14
خپلې نېمګړتیاوې وپېژنۍ او همدا نن یې لرې کړئ ........................................ 16
د ژوند ویاله........................................ 18
راکړو، ورکړو کې پوخوالی هغه مهال راځي کله چې کارکوونکی ........................................ 19
د ژوند (۹۰) سلنه او (۱۰) سلنه حقایق ........................................ 21
نور هم ستاسو د قوت او بریا برخه ده ........................................ 22
د الفاظو مخکیوالی او وروسته والی ریشخندي او ټوکې جوړوي........................................ 23
هېڅ یو شی دومره ژر له منځه نه ځي، لکه څومره چې په بند دماغ کې نوی فکر ........................................26
انساني دماغ د پراشوټ په څېر وي تر هغې کار کوي چې خلاص وي........................................ 28
د دماغ کثافات دانې یا د خځلو ټیم ........................................ 30
یو وخت کې یوازې د شکو یو ذره! یو وخت کې یوازې یو کار! ........................................ 31
له can't نه T لرې کړئ!........................................ 33
خپل دماغ معلولیت ته مه پرېږدئ ........................................ 34
که چېرې تاسو فکر کوئ، کولی یې شم، نو کوې یې شئ!........................................ 35
د نېم دماغ سړی هېڅ نه شي کولی ........................................ 37
هېڅ یو شی دومره ژر له منځه نه ځي څومره چې په یو بند دماغ کې یو نوی خیال........................................ 38
نیمایي ډک، نیمایي تش ........................................ 39
ګټونکی هېڅکله نه تښتي........................................ 40
غوره فکرونه څرنګه قتلوی شو؟ ........................................ 42

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره کتاب مو ژوند بدلولی شي ........................................ 43
ګټوونکی د ناکام په وړاندې............................................ 46
الهي هر څه چې تا راکړي په هغې شکر!! ................................ 48
فرصتونه دوهم ځل لپاره هم په لاس راځي! .............................. 49
د ښو په لټه کې شئ نه د بدو ........................................... 50
د مثبت سلوک خپلولو لپاره اووه بنسټیز اصول ............................51
ماته یو داسې زوی راکړی ...............................................53
د مثبت فکر میوه هتمن ترلاسه کېږي .....................................53
هر کار په هوښیارۍ کوئ، په زور نه ..................................... 54
د خلکو تر جوړونې لومړی خپل ځان په ښه توګه جوړ کړئ.....................55
د پرمختګ لپاره (٦) غوره تګلارې........................................55
هېڅوک بې کاره نه وي...................................................57
دا خبره سمه ده، چې قسمت حتماً بدلېږي .................................58
کار و بار هم د سائیکل چلولو په څېر دی یا به یې چلوې او یا به ترې غورځېږې ..........59
ښه د غوره دښمن نه دی !.............................................. 60
په ځان باور وکړئ ......................................................61
ستونزې نهرې وساتئ او فرصتونه ماړه.................................... 63
څوک چې لومړی فکر کوي په پلور او شطرنج کې ګټه د هغوی وي ............ 64
ځان کې بدلون را ولئ ................................................. 65
زه .................................................................. 66
خپله د ځان ډریور شه! ................................................67
د تېروتنو له دوزخ نه را ووځئ.......................................... 68
خپلې تېروتنې مو په خوښۍ سره ومنئ .....................................71
ځینې وخت تېروتنې هم د ښه والي سبب ګرځي مګر! .........................72
په خپل فکر د خلکو قایلولو لپاره (١٢) تګلارې..............................73
نکته چیني یا په ګوته کول ...............................................74
سستۍ نه د ځان ساتلو لس تګلارې .......................................75
شپېږ لټان ..............................................................77
د وخت ساتلو لپاره شپېږ تګلارې .........................................77
که چېرته تاسو په سمه لاره یئ او ناست یې، نو حرکت وکړه ......................79
د ښو او ریښتینو خلکو په څېر فکر وکړئ ................................ 80

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مشر تگ د ټیم تگ دی ........................................ 82
د هڅونې حس به دی لوړ مقام ته ورسوي ............................ 83
خبره یوازې د فکر کولو ده ......................................... 85
هېڅکله داسې کارکوونکی مه ساتئ چې یوازې د پیسو لپاره کار کوي ........ 86
که ممپلي درسره وي نو بېزو پرې نیولی شئ.............................. 87
خلک هم د منو په څېر دي! ........................................ 88
خلک خپل کار سره هغه وخت خوشحاله وي کله چې! ........................ 88
د هولي په اړه نظریه ............................................. 90
د لرگي او زردکې توپیر ........................................... 91
بد حالت هېڅکله نه سمېږي، مگر ځواکمن خلک یې سمولی شي.................. 92
د کارکوونکو د کنټرول لپاره ...................................... 93
په احتیاط سره!!! ................................................ 94
د مالک تگلارې ................................................... 95
خلکو سره د راکړې ور کړې درې بنسټیز تکتیکونه ....................... 95
خلکو سره د وسېدو لپاره تگلارې .................................... 97
که چېرې گرمې نه شئ زغملی، نو له پخلنځي را ووځئ....................... 99
د خپلو ټیټ پوړو څخه کار اخیستولو کې شپږ تېروتنې ...................... 100
د ځان په څېر د خلکو جوړولو لپاره شپږ تگلارې .......................... 100
د مشرۍ لپاره غوره تگلارې ......................................... 101
اړیکو د ښه ټینگښت لپاره لس تگلارې ................................ 102
په گډه کار د ټولو لپاره گټور وي .................................... 103
تر هغې چې کاغذي لیکنې ترسره نشي کار نه پشپړېږي ...................... 104
د یو ښه مدیر لپاره د حیواناتو له نړۍ گټور درس.......................... 105
که زه لاړ نشم، نو تر لاسه به یې نکړم ................................ 106
د ښه او بد قسمت تر منځ ۷۰/۳۰ نسبت دی ............................ 107
کار، خو په گډه ................................................. 109
د میډال گټلو لپاره تاسو ته جنگ کول پکارېږي .......................... 110
په یو وخت کې یوازې یوه مرۍ ....................................... 112
مسکا توپیر ټینگوي ............................................... 113
هېڅکله لنډ فکر مه کوئ ........................................... 114
مونږ د ناکامۍ لپاره پلان نه جوړو، بلکې په پلان جوړونه کې ناکامېږو ........ 115

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهې او هنر احترام وکړئ ........................................117
قدم پورته کولو مخکې ښه وګورئ او فکر وکړئ ........................................ 118
د بریا قانون ........................................ 119
ستر فکر ........................................ 120
فکر وکړئ کېدای شي چې یوه غوره لار وي ........................................ 121
نو بیا ؟ ........................................ 122
اوس به نو څه وشي؟ ........................................ 123
څه چې درته ښه ښکاري هغه وکړئ ........................................ 125
داسې دنده ولټوئ، چې له زړه یې غواړئ، باور وکړئ چې په ژوند کې به یوه ورځ هم کار کولو ته مجبور نشئ ........................................ 126
استقامت ( ثابت قدمي)........................................ 127
پلورونکیه! په یاد ولره!........................................ 128
د پلور مثلث ........................................ 129
پېریدونکي مو ولې پرېږدي؟ ........................................ 130
په یاد ولرئ، کله چې نورو ته ګوته نیسې، نو درې ېږته ستا په لور وي ........................................ 131
تعلیم ........................................ 132
د یادولو تګلارې ........................................ 133
قلم د تورې نه ډېر غښتلی دی؛ خو دا پوښتنه پیدا کېږي چې هغه په کومو لاسونو کې دی 134
وخت مو د پیسو په څېر اداره کړئ ........................................ 136
درې سلنه بې پروايي+درې سلنه سستي+درې سلنه بې ځایه لګښت= ۹۰ سلنه مالي ستونزې ........................................ 137
قهر مو دوښمن دی ........................................ 139
ګټه بده کلمه نده ........................................140
کوچنی والی شرم نه دی، وړوکي او نازکه شیان ډېر ښکلي، موثر او ګټور وي ........................................ 141
ماسره پیسې ولې کمې دي، چې زه ګټه هم کوم؟ ........................................ 142
د ستورو لاسته راوړلو کوښښ وکړئ، که هغه تر لاسه نه کړئ، نو لاسونه به مو چټل هم نشي. ........................................ 143
د قهر نه د ځان ساتلو لارې ........................................ 144
هېڅکله ماتې مه منئ ........................................ 145
پتنګ له هوا سره نه، مخالف لوري ته اولوزي ........................................ 146
دماغ مو د یو جریب ځمکې په څېر دی ........................................ 147

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړو، وړو لګښتونو نه ځان وساتئ، ځکه چې ځینې وخت وړوکی سوری یوه لویه کېښتی ډوبولی شي. ........................................................................ 148
ستونزې، ستونزې هر ځای ستونزې ........................................ 149
ډېر باور ممکن تاسو ووژني........................................................ 150
لاربښود یوازینی کس دی، چې توپیر پیدا کوي........................................ 151
د مالي ستونزو د حل لپاره (۱۱) تکلارې ........................................ 152
بریا تل هغه څه نه وي چې ښکاري ........................................ 153
ځنځیر هومره قوي کېږي څومره چې پکې کمزوری کړۍ وي ........................ 154
له خفګانه د ځان ساتلو شپږ تګلارې ................................................ 155
مهم کار مو همدا نن ترسره کړئ، له دې مخکې چې دربانډې بوج شي.................. 156
خفګان ولې؟ ....................................................................... 157
د ژوند ۱۲ ارزښتونه ........................................................ 158
بل څوک مه پرېږدئ، چې فکر مو و وژني .................................... 159
ستړیا او خفګان نه د ځان ساتلو او خپل طاقت او جذبې د خوندې ستاتلو شپږ تګلارې ... 160
یو ستونزمن پېړیدونکی په احتیاط سره کنټرول کړئ ................................ 161
فکر کول پرېږدئ، کار پیل کړئ ................................................ 162
اصلي ګټه، پېړیدونکي دي، نور ټول بې ګټې ........................................ 163
خپل ځان کې موسکا راوستل یو ارزانه لاره ده ........................................ 164
انتقاد باندې د خفه کېدو نه د ځان ژغورلو درې لارې ................................ 164
هر څه په مناسب وخت کې لاس ته درځي ........................................ 165
د نورو د ژغورلو لپاره ځینې وخت تاسو باید یو قدم شاته واخلئ ........................ 166
چارلي چاپلین ............................................................... 167
هر څوک د مور د مینې په اړه خبرې کوي، خو د پلار د قربانۍ خبره څوک نه کوي....................................................................... 168
مور هغه ده چې د نورو ټولو ځای نیولی شي، خو بل څوک یې ځای نشي نیولی............ 169

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لوی الله ﷻ په سپېڅلي نامه !**

**ویاړم په دې چې په هېواد کې د څلوېښت کلنې جګړې په را پاتې حالاتو کې لا هم داسې روڼ انده ځوانان لرو، چې د ډول، ډول سیاسي، اقتصادي، کلتوري او اجتماعي ستونزو له ګاللو سره یې قلم له لاسه نه دی پریوتی او د دغه او داسې نورو ارزښتناکه کتابونو په لیکلو یې خپل ټولنیز رسالت او ایماني وجیبه تر سره کړې ده، ګوندې لوستونکي یې په ژور لید کې ډېرو ښېګڼو ته لاس رسی ومومي.**

**ژوند الهي لورېنه ده د ژوند د تګلارو یو ښه سیستم کولی شي چې په لوړ بصیرت سره د ارزښتونو تر لاسه کول د هغو اشخاصو لپاره چې ارزښتونه یې غیر واضیح دي عملي او اړ و ګرځوي او له شخص سره د عقایدو، باورونو، علایقو او د موخو په تعین او پرمختیا کې مرسته و کړي چې په دې سره به و توانېږي چې اشخاصو ته د احترام لرلو منطقي مفهوم درک او انساني کرامات ته ارزښت قایل او خپل شخصي اهداف معین کړي، ځکه چې همېشه په ارښتونو کې د پوهې په اساس او یا تعقل له مخې توپیرونه او اختلافات شتون لري. په ژوندانه کې د بریا ستر عناصر په لنډه توګه غوره تصمیم نیونه، حقیقت ویل، راز ساتنه، انصاف، وفاداري او متقابل احترام کې نغښتي دي، د روڼ اندو ځوانانو د لا بریاو په هیله. په ډېر درنښت.**

**محمد نبي عرب (کاموال)**

**۱۴۰۱/۳/۲۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لوی او مهربانه الله په نامه پیل کوم.**

**په هېواد کې د شته اقتصادي، علمي او داسې نورو ستونزو سربیره بیا هم په ټولنه کې داسې ځوانان شته چې د وطن خدمت لپاره راوتي او تر خپله وسه د وطن د ابادی لپاره خدمت کوي د شته ستونزو د حل لپاره د نورو برخو ترڅنګ د علم او ادب په ډګر کې کار کول هم روان ناورین ته د پای ټکې ایښودلی شي.**

**د ښاغلي زاهد الله ازل ژباړل شوي کتاب یو څو پاڼې مو ولوستی ډیره ساده او په روانه پښتو ژباړل شوی او ډیر په زړه پورې موضوعات پکې راغلي دي او په پوره ډاډ ویلې شم چې د کتاب تر لوستو وروسته به د ډیرو کسانو په ژوند کې یو ستر بدلون راولي ځکه د کتاب ډیره برخه بریالیتوب پورې تړلې ده. د بېلګې په ډول ، د نیم دماغ سړی هېڅ نه شي کولی، غوره کتاب مو ژوند بدلولی شي، فرصتونه دوهم ځل لپاره هم په لاس راځي، د بریا قانون، وخت مو د پیسو په څېر اداره کړئ ، د مشری لپاره غوره تګلارې ، بل څوک مه پرېږدئ چې فکر مو و وژني او داسې نور.**

**ښاغلي زاهد الله ازل ته د کتاب د چاپ له امله مبارکي وایم او هیله لرم چې د ځوان نسل لپاره همداسې په زړه پورې کتابونه ولیکي او و ژباړي او په دې سپېڅلې لاره کې د نورو هڅو حوصله ورته غواړم.**

**د لا بریاو په هیله یې**

**الحاج عزیز الرحمن ( عرب)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لوی او ښښوونکي څښتن تعالی په سپېڅلي نامه

ګرانو لوستونکو!

کله مې چې دا کتاب ولوست نو ډېر مې خوښ شو زړه نا زړه وم چې دا و ژباړم کـه نـه؟ ځکـه چې له دې مخکې مې نه کوم کتاب لیکلی او نه مې له بلې ژبې کـوم کتـاب ژبـاړلی دی، کلـه مې چې د کتاب یو څو پاڼې ولوستی، نو ډېر په زړه پورې معلومات پکې وو، تر ډېره دا کتـاب را سره وه خو دا جرئت مې نه شو کولی چې په ژباړه یـــې پیل و کړم، یو خو د کتاب حجم ډېر وه او له بلې خوا ډېر داسې لغتونه پکې راغلي وو چې هـېڅ ورسره اشـنا نـه وم. بیـا مـې دا کتـاب محترم محمد نبي عرب (کاموال) او حیات الله (وړ ) ته چې زه یې خپـل اسـتادان بـولم او ډېـر څه یې را زده کړي ور وښود.

هغوی دې ته و هڅولم چې د کتاب په ژباړه مې پیل و کړ او کله چې به له کـومې سـتونزې سره مخ شوم دواړو را سره مرسته کړی، نو دا اړینه بولم چې تر ټولو مخکې د دوې د هر اړخیزې همکارۍ او مشورو مننه او قدردانی وکړم.

د کتاب په ژباړه کې مې تر ډېره دا هڅه او کوښښ کړی چې کتاب په سـاده او روانـه پښـتو و ژباړم تر څو هر څوک ترې ګټه واخلي، نو د همدې لپـاره ټولـو لوسـتونکو څخـه هیلـه لـرم چـې کتاب په ډېر غور سره و لولي ځکه چې د دې کتاب هره برخه کـولی شي ستاسـو د ژونـد تـورې تیارې روښانه کړي او د بریا په لور تاسو ته لارښوونه و کړي.

بله دا چې د ژباړې تر څنګ مې ځینې انځورونه او غوره ویناوې له نورو کتابونو را خیستي تـر څو کتاب پرې نور هم ښه او ښکلی شي.

له ژباړې څخه مې یوازینی هدف همدا وه چې خپلو هېوادوالو ته یو داسې کتاب و ژباړم چـې مثبته ګټه ترې واخلي او هېڅکله په ژوند کې مایوسه نشي ځکه چې حتماً یـوه ورځ بـه بریـا تـر لاسه کوي، زمونږ ډېری هېوادوال چې کله ماتې سره مخ شي، نو له ژونده مایوسه کېږي او بیا د بریا لاس ته راوړلو کوښښ نه کوي، خو برعکس په نوره نړۍ کې خلک د ماتې وروسـته د بریـا ترلاسه کولو لپاره لا زیاته هڅه او لاس ته راوړلو لپاره یې خپلې هلې ځلې نورې هم زیاتوي.

په پای کې د خپل مشر ورور حکمت الله همکار او کشري ورور نصرت الله نیـازي څخـه مننـه کوم چې کتاب لیکلو پر وخت یې ډېر تشویق کړی یـم. د دې تـر څنـګ یـو ځـانګړې مننـه د د میهن خپرندویه ټولنې څخه چې په یو داسې اساس وخت کې کتاب چاپولو کې خپله مرسـته وکړه کور یې ودان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله ﷻ شکر ادا کووم چې د دې جوګه یې کړم چې له بلې ژبې کتاب و ژباړم. انشـاءالله د دې کتاب چاپ وروسته به ډېر ژر یو بل کتاب هم له ژباړې خلاص شي او ګرانو لوستونکو لپـاره به یې وړاندې کړم. په درنښت.

زاهد الله ازل

۱۴۰۱/۵/۲

د ننګرهار ، دوسرکه اخون زاده ګانو کلی

+(93)7855543 / +(93)775293815

Zahidazal55@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

د الله (( عزوجل )) په نوم پیل کووم

الله ﷻ هغه ذات دی چې کامیابۍ او ناکامۍ دواړو کې یې د انسان لپاره
ښېګڼه ایښې ده

هغه ذات چې په زړونو کې یقین او په مغزو کې یې د فکر نعمت رابښلی

هغه ذات چې هېڅکه خپل بنده ګان یوازې نه پرېږدي

هغه ذات چې هېڅکله ریښتني بنده ګان نه رسوا کوي

په هره ساه کې له هغه شکر کول واجب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


"لومړی مخلوق قلم دی"

حضرت محمدﷺ

"داسې خبرې وکړئ چې وپېژندل شی "

حضرت علی رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بـريــــا د هر چا معشوقه ده

**Oh My Darling I Love You**

**I am dying for you**

**I will catch you wherever I find**

**I will never let you go**

**I will never let you be dream**

دغه لفظونه يوازې د "ANTHONY ROBBINS"نه دي. مونږ کې هر يو کس له دغو جملو او د دې له روحانيت سره اشنا دي.

د "ANTHONY " دغه لفظونه د هغه معشوقې لپاره دي د کومې خيال چې کېدای شي د نړۍ هېڅ يو کس نه ويني.

وليم اسکر ويلی " ليونی هم د بريا خبرې کوي" بريا د يو کس ستونزه نه ده نه دا د يوې سترګې خيال دی. د دې اهميت او اړتيا د هر کس لپاره اړينه ده هر څوک د دې لپاره بې صبره دی که څه هم هغه د هرې څانګې او يا مسلک پورې تړلی وي.

د بريا له مينې څخه نه کوم زړه خالی دی او نه د هغه له خياله کومه سترګه. مالداره، غريب، کوچنی، لوی، افسر، ټيټ پوړی هر څوک د دې په اړه فکر کوي او د هغه تر لاسه کولو لپاره د خپل حيثيت او وس مطابق هلې ځلې کوي .

* بريا زمونږ ګډه مينه ده.
* بريا زمونږ ګډ ميراث دی.
* بريا زمونږ ګډ خيال دی
* بريا زمونږ اړتيا ده
* بريا زمونږ د ژوند مقصد دی
* بريا زمونږ د سترګو خوب دی

د يارابرټ ايچ شلر په قول: ((دا هغه يوازينی لفظ دی چې د ټولې نړۍ پرې اتفاق دی " دغې "موصوفې کلمې" له هغه وخته انسان د خپلو زلفو بندوان ساتلی له کومه وخته چې انساني تاريخ پيل شوی. د دې خيال ويدې سترګې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويني او رنې سترګې يې هم. څوک چې له دې بې برخې دي د هغوی ټول ژوند د هغه په انتظار او ترلاسه کولو لپاره بې صبره وي. او هغه چا ته يې چې د وصال دروازې خلاصې کړي هغوی يې د نړديوالي پړاوونو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. مګر تنده يې پرې هيڅکله نه ماتېږي.

کېدای شي په شکلونو، تعبيرونو او تعريفونو کې فرق وي، مګر د دې په اهميت او ارزښت کې هېڅا ته اختلاف نشته. دا هغه ملکه ده، چې له پېړيو نه په ذهنونو او زړونو باندې راج چلوي. د دې په پاچاهۍ کې کومه پوله(سرحد ) نشته. د هر مذهب، هرې نظريې، هرې عقيدې، هر مزاج، هر حيثيت او د هرې طبقې خلک يې د فرمان تابع دي. هر دور د دې دور دی. هر ذهن يې بندی دی، هر زړه يې لېوال دی. هر فکر يې په قيد کې او هره سترګه يې په انتظار کې ده. بريا د هر کس معشوقه ده او تر لاسه کول يې د هر انسان مسلم حق ده.

## بريا څه ده ؟

تل دا پوښتنه پيدا کېږي چې د نړۍ د هر انسان په زړه باندې کومه پديده پاچاهي کوي؟ د "MISS SUCCESS"پېژندنه يې څه ده؟ د دې خط او خال څه دی؟ په کوم ډول يې بايد پېژندنه وشي؟

**د لـــن ستاڼـــن لــــه نظـــره :**

د بريا پېژندنه پخپله بريا ده.

**د ليونارډ ډاونچي له نظـــره :**

د لوړو انساني ارزښتونو تر لاسه کول بريا ده .

**د ډيد کارنيګي لــــه نظره :**

د خپلو صلاحتيونو مطابق پايلې ترلاسه کول بريا ده.

**د رابرټ ايچ شلـــــر لـــه نظـــره :**

داسې مادي ترقي چې ذهن او زړه ته سکون ورکوي بريا ده.

**د سټيفن لــــــــرکوی لـــه نظره :**

بريا د بنسټيزو غوښتنو ترلاسه کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د کنفيوشس لـــــــه نظـــره :**

"څه چې نه وي"او "څه چې اوس يې" تر منځ د توپير نوم دی.

**د مهاتمابده لـــــه نظـــره :**

بريا د پلټنې او لټون نوم دی .

د نړۍ هر هوښيار او هر کس د بريا لپاره خپل تعريف لري او د مختلفو خلکو لپاره مختلفې بڼې لري.

د يو زده کوونکي لپاره بريا د يو بل څه نوم دی. د يو کاروباري لپاره دا بل شکل لري او د ساده کس لپاره دا په يو بل رنګ مخې ته راځي. ځينې ځايونو کې بريا د شهرت او پيسو نوم دی. په تعليمي ډګر کې د لوړو امتيازاتو د ترلاسه کولو نوم دی. په سپېڅلي سفر کې د يو داسې منزل نوم دی چېرته چې پلټونکی له يو داسې کيفيت سره مخ شي چې د ده په فکر کې د هغه مقصد تر لاسه کول د کوم لپاره چې ژوندی وي. خو بيا هم په دې ډېرو تعريفونو کې ځينې اړخونه مشترک دي. مونږ بايد د زده کوونکو په څېر د لارې اختيارولو سره د هغه عظيمو او کامیابه خلکو"ويناوې" د ځان لپاره د لارې ډيوه وګڼو او پرې روان شو. هغه لارې چې مونږ د بريا تر وره رسوي. خپله لاره په خپله ټاکل ستاسو کار دی. په دې فکر سره چې ستا د بريا ډګر چېرته دی؟ کومه ځانګه مو د ځان لپاره غوره کړې؟ يا الله تعالی په فطرتي ډول ستاسو په وجود کې کوم صلاحيتونه ايښې دي؟ هغه صلاحيتونو باندې ځان پوه کړئ او د هغه په کارولو سره د منزل په لور روان شئ.

تاسو ته دا کتل په کار دي څکه چې ستاسې بريا د يو زده کوونکي د علم په څېر ده که د يو کاروباري په څېر؟ مهمه خبره د خپلو برياو او اړتياوو پېژنده ده. تاسې دا پړاو پشپړ کړئ نو بريا به په خپله ستا لور ته راځغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بريا لټون که "ترلاسه کول"

هغه د يو داسې مشر (روحاني شخصيت) په لټه کې وه، چې ورته مراقيبه وښايې. د ډېرو روحانيونو خدمت ته حاضر شو، مگر هېڅ ترې جوړ نه شو څو کاله تېر شو او عمر يې په لوړېدو شو بيا چا ورته وويل " که په ريښتنې ډول د يو پير پيدا کولو لپاره خوښ مند يئ نو بايد هماليې ته لاړ شې. هغه د هماليې په يوې ورکه برخه کې اوسېږي. که ته يې ولټوې، يقينې ده چې هغه شته، البته په سمه توگه چاته دا معلومه نه ده چې چېرته اوسيږي. هر کله چې چا ته د هغه د اوسيدو ځای معلوم شي نو هغه خپل ځای ته بدلون ورکوي.

هغه ډېر سپين ږيرې شوی و مگر د داسې ريښتنې پير په اړه له اوريدو سره هغه همت راغونډ کړو. له زړه نه يې هغه ځای ته د تللو اراده وکړه او تر دوو کالو يې ښه خواري وکړه او د لگښتونو لپاره يې پيسې راغونډې کړې. بيا د سفر په لور روان شو. هماليه له ده نه زرهاو کيلو متره لرې وه او سفر لپاره ورسره يوازې اوښ او اسونو وو. ځينې وخت به يې پلی سفر هم کاوه. تر دې چې څه وخت وروسته هغه هماليه ته ورسيده. هلته خلکو ورته وويل" هو مونږ هم د هغه په اړه اورېدلي دي هغه ډېر سپين ږيری دی. مونږ نه شوو ويلی چې د هغه عمر څومره دی . کېدای شي درې سوه کاله وي او يا کېدای شي پينځه سوه کاله، هغه همدلته چېرې اوسېږي، مگر مونږ د هغه په اړه معلومات نلرو چې هغه چېرته پيدا کيږي. که چيرته ته يې ولټوئ نو حتمي يې موندلی شئ.

هغه سړی د سپين ږيرې په لټه کې شو. څه وخت تېر شو، خو د هغه کومه نښه معلومه نه شوه. او دا ترحده سترې شوې وه او په ځنگلي بوټو پاڼو او ميوو باندې يې گوزاره کوله او وزن يې هم ډېر کم شوی وه. او بيايې هم دا پرېکړه وه، که چېرې ټول ژوند هم تېر شي هغه به لټوي.

په پای کې يو ورځ هغه ته په يو بيابان کې يو جونگړه تر سترگو شوه، خو په ده کې نور د گرځيدو همت نه و او په خاپوړو يې پيل وکړ او په خاپوړو، خاپوړو هغې جونگړې ته ورسيد او جونگړې دروازه هم نه درلوده کله چې يې دننه وکتل نو هغه داسې محسوس کړه چې نه يوازې دا چې دننه څوک نه شته، بلکې دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماحول نه داسې ښکاريده چې د ډېر وخت نه دلته هېڅوک راغلی هم نه دی. شايد ډېرې ستړيا او مايوسۍ يې د بدن غړي شل کړی وو پدې کې يې سر پر ځمکه وواهه. بې ياره او پرته له مرستندويه د هماليې په غټو تيږو پروت وه سړه، سړه هوا لګېده او لمر يې هم پر مخ لګېده تر لږ ځنډ وروسته يې د لومړي ځل لپاره خوښي محسوسه کړه. هغه مخکې له دې نه داسې خوښي، داسې کړنه او داسې نشه نه وه ليدلې. سم له مخې يې ټولې مايوسۍ او خفګانونه ورک شول، په وجود کې يې د يوې شېبې لپاره سکون او اطمينان رامنځ ته شو، د خوښۍ نه يې سترګې ومښلې او خوشحالي يې احساس کړه. لږ ځنډ وروسته يې داسې احساس وکړ چې څوک ور باندې را ټيټ شوی دی کله يې چې سترګې خلاصې کړې ګوري چې يو سپين ږيرې ور باندې راټيت شوی و او مسکا يې کوله هغه د سپين ږيري په سترګو کې غرق شوی و لږ ځنډ لپاره خاموشي خوره وه او سپين ږيري خاموشي ماته کړه او ويې ويل ."ښه ته نو را ورسېدې؟ ووايه ته له ما څه غواړې؟"

هغه لږ فکر وکړ او په اطمينان سره يې ويل"نه زه پوه شوم "

سپين ږيرې په خندا شو او ډېرې خندا يې ټولو خواو کې شور او ځوږ جوړ کړ. او سړي ته يې ويل"ښه نو تاته معلومه شوه چې مراقيبه څه وي"

هغه سړي په ډېر ډاډ سره ورته ويل" هو!" او بيا هغه د تل لپاره له دی فاني نړۍ نه سترګې پټې کړی. د سپين ږيري دا کيسه د بريا اصلی پېژندنه ده. د اصلي بريا اړيکه يوازې منزل تر لاسه کولو سره نه په هغه لاره کې لټون،کوښښ، مبارزې سره هم وي. پرله پسې خواري، کوښښ او مبارزه اصلي بريا ده همدا اصلي ريښتيا او بنسټيز راز دی.

سوال دا نه دی چې ګټونکی څوک او بايلونکی څوک
ســـوال دا دی چـــې څـــوک څـــومره باعزتـــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


له مونږ نه ډېر خلک پایلې او لاسته راوړنې د بریا سره برتله کوي هغوی فکر کوي چې بریا حتمي د هغه شي ترلاسه کول دي د کوم شي چې هیله لري او تصور کې يې راځي مګر دا د بریا يو نا پشپړه نظریه ده، چې اړیکه يې د بریا له معنویت نه ډېر له لالچ سره ده.

یوازې پایلې او انعام خوښونکي خلک زر همت له لاسه ورکوي، دا ضروري نه ده چې تاسې اړینې پایلې ترلاسه کړئ ځینې وخت تاسې د ډېر زیار او پلټنې وروسته ترهغه ځایه نه رسېږی چېرته چې باید رسیدلی وای. په دې کې پایلې خوښونکي ژر همت له لاسه ورکوي او ډګر نورو ته پرېږدي. په داسې حال کې چې هڅه او مبارزه بریالي خلک نه یوازې منزل ته رسوي، بلکې د ناکامۍ په وخت کې هم هغه پر مخ وړي، ځکه چې هغوی یقینې وي چې شاید منزل چېرته په بل ډول ورته  سترګې په لار وي. پایلو او انجام پرته خو يې کار روان وي.

زمونږ ستونزه دا ده چې مونږ په بریا یقین لرو، مګر په همغه لاره تلل نه غواړو چې مونږ تر منزله رسوي. یعنې په بله مانا مونږ جنت ته تلل هم غواړو، مګر مرګ ته تیار هم نه یوو. امریکي ولسمشر باراک اوباما چې کله  ولسمشر  انتخابېدو نو وروسته ترې  د يو تلویزون خبریال پوښتنه وکړه چې" د يو ټيټې کورنۍ او تور رنګه هلک د امریکا ولسمشر څنګه جوړ شو؟" د دې يې ډېر ښکلی ځواب ور کړ "هغه ځواب ور کړ" د دې لپاره چې د خپل منزل د پېژندو نه وروسته دغه د ټيټې طبقې تور رنګی هلک د هڅې او مبارزې سره ملګرتيا کړې وه.

د هر بریالی کس لومړۍ مينه مبارزه ده او همدغه د خپلو خوبونو د ریښتیا کولو بهترينه نسخه ښايي او دغه نسخه د ټول ژوند لپاره  له ځان سره ساتي.

دا د قسمت خبره ده، چې تاسو سره به صلاحیت، قابلیت، فکر، عقل او اهلیت وي، مګر د هڅې او کوښښ عادت ستاسو په خپلو لاسونو کې دی.

مالکم ایس فوربز په قول" وړتیا کارتوس دی او هڅه وسله" د وړتیا په سمه توګه نښه کولو لپاره د هڅې او مبارزې وسله پکار ده که نه نو دغه وړتیا  او طاقت چې مونږ سره دی  په جیب کې د پرتو وړو پیسو پرته به بله مانا ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بريالي خلک څوک دي؟

بريا د هر کس غوښتنه ده، مگر ولې هر چا ته نه په برخه کېږي ؟ څه علت دی چې يوازې ځينې خلک يې د لاس ته راوړلو نه خوند اخلي. يوازې لږو او محدودو خلکو لپاره خپلې د لورينې دروازې خلاصوي. هغه خلک څوک دي؟ ايا هغوی بل رنگه ميندو زېږولي؟ ايا هغوی د بلې سيارې مخلوق دي ؟ ايا قدرت هغوی د نورو ځانگړتياو سره را لېږلي؟ ايا د هغوي جسماني او ذهني جوړښت له مونږ سره توپير لري؟ ايا د هغوی د بدن غړي له مونږ نه ډېر دي؟ ايا د هغوی نړۍ له مونږ نه بېله ده؟ ايا د هغوی چاپېريال له مونږ نه بېل دی ؟ ايا د هغوی قسمت زمونږ په څېر نه دی؟ ايا د هغوی ستونزې زمونږ په شان نه دي؟ ايا هغوی سره وسايل او فرصتونه له مونږ نه ډېر دي؟ که زمونږ په څېر له ستونزو مخامخ کېدو سره، سره، زمونږ په څېر طاقت او وړتيا لرلو سره، زمونږ په څېر جسماني او ذهني جوړښت لرلو سره بيا هم هغوی بريالي او کامران دي.

* د هغوی مقصد هغوی ته ښه راغلاست کوي.
* د هغوی منزل د هغوی پښې ښکلوي.
* د هغوی غوښتنې د پوره کېدو خوند ته نږدې وي. عزت، شهرت، دولت او سکون د هغوی ميراث جوړيږي. تاريخ په خپله حافظه کې هغوی ته ځای ورکوي.
* منصب پر هغوی باندې وياړي.
* خلک يې د ليدو غوښتونکي وي.
* مينه کوونکي خلک له هغه نه لاسليک اخيستو لپاره بې صبره وي.
* د اخبارونو سر ليکنې له دوی نه جوړېږي .
* د هغوی له کيسو نه کتابونه خپلې خيتې ډکوي.
* نسلونه له هغوی نه د بريا جزبه تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نو رښتيا چې!

زمونږ او د هغوی تر منځ کوم توپير نشته، خو بيا هم يو توپير شته. د کومې ځانګړنې په نشتون کې بيا هم يو ځانګړنه شته. د کوم توپير په نشتون کې بيا هم يو توپير شته. کوم واټن په نشتون کې بيا هم يو واټن شته. د کوم احساس او شعور له وجې نه چې هغه خلک خپل منزلونو نه خپل غلام جوړي. او د وخت واګي په خپل لاس کې اخلي. او زمانه په خپلې جادوګرۍ کې مشغلوي او د هغه په ياد لرل د تاريخ لپاره هم يو مجبوري جوړه شي او خلک دې ته مجبور وي چې ورسره مينه وکړي او په وياړ او فخر سره ورته وګوري او ذهنونه دې ته مجبوروي چې تل يې په تصور کې ډوب پاتې شي. د بريا دغه سفر د هغه کيسو د توپير بيان دی چې زمونږ او د هغوی تر منځ دی چې مونږ يې ناکامې او هغوی يې کاميابۍ ته رسولي. مونږ ته يې ګمنامي او هغوی ته يې شهرت ډالی کړی. مونږ يې د اضطراب او هغوی يې د اطمينان اسير ګرځولي او زمونږ په قسمت کې بې ارزښتي او د هغوی په قسمت کې يې بقا ليکلې ده او مونږ يې د معجزو او هغوی يې په خيالونو نازولي دي.

## هو صيب !

دا کاميابه زده کړيال، دا کاميابه کاروباري، دا کاميابه سياستوال، دا کاميابه سائنسدان، دا کاميابه صانع، دا کاميابه لوبغاړی، دا کاميابه معلم، دا کاميابه انځورګر، دا کاميابه ژورناليست، دا کاميابه صنعت کار، دا ټول زمونږ له ځمکې دي، دا ټول زمونږ له نسله دي، دا ټول زمونږه برخه ده، هغوی هم زمونږ په شان ميندو زيږولي دي، د هغوی اړيکه هم زمونږ له سيارې سره ده، زمونږ او د هغوی چاپيريال يو دی، د هغوی ستونزې زمونږ له ستونزو توپير نه لري.

خه نو توپـير چېرته دی ؟

* د محمد ﷺ په نظر توپير په کردار او نيت کې دی.
* د سيدنا علی رضی الله عنه په نظر توپير په سوچ کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* د ابو علي سينا په نظر توپير په اعتماد کې دی.
* د سقراط په نظر توپير په مبارزه کې دی.
* د آين سټاين په نظر توپير په لټون کې دی.
* د ارسطو په نظر توپير د منزل په وجود باندې د ايمان دی.
* د فرانس بېکن په نظر توپير د وسائلو او صلاحيتونو په استعمال کې دی.
* د لاونرو په نظر توپير د ذات په انفراديت کې ده.
* د مارشل په نظر توپير د خيالونو په اثبات کې ده.
* د محمد علی جناح په نظر توپير په کار کې د خلوص دی.
* د مهاتما گاندهی په نظر توپير د ذات په شتون کې دی.
* د بل گيټس په نظر توپير د کوښښ په نشتوالی کې دی.
* زما په نظر توپير په تقدير کی دی.
* د ډيل کارنيگی په نظر توپير په اوچت پرواز کې دی.
* سټفين ارکوی په نظر توپير په مثبتو عادتونو کې دی.

په رښتيا توپير چېرته موجود او پوښل شوی ده. د ناکامو او کاميابو خلکو تر مېنځ، د مالداره او غريب تر مېنځ، افسر او ټيټ پوړو تر مېنځ، ټاکل شوی او اوريدونکی تر مېنځ، انځور او ليدونکی تر مېنځ، مشر او مقتدي تر مېنځ، ليکوال او قاري تر مېنځ، اختراع کوونکی او پلورونکی تر مېنځ، حاکم او محکوم تر مېنځ، هغه توپير د پوهانو او عاقلانو د فکر په نړدوالی کې دی. په ځان د اعتماد ده، د لوړ پرواز ده، د ذات د موجودگی ده، په منزل د باور ده، د ريښتنی فکر او د خلوص په پرخوالی کې ده، هر کامياب سړی زمونږ لپاره د درس خونه ده او مونږ د هغې درس خونې زده کوونکي يوو. د بريا د لارې مدرک مونږ له هغې درس خونې نه معلومولی شو، د گټې د اصولو ادرس معلوموي، د برياليتوب تر حده رسيدل دي. مونږ په دې بايد پوه شو چې د کاميابۍ او ناکامۍ پرېکړه مونږ په خپله وکړو. گټلو او بايلولو کې د يو شي انتخاب پر مونږ ده. د چا پرېکړه چې گټه وي هغوی يې لاره پيدا کوي او پر هغه لاره روانېږي او د چا منزل چې د بايلولو وي ځوک يې ترې لرې نشي ساتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل ګیټس نه یو ویاند پوښتنه وکړه چې تاسو دومره بریاوې څنګه تر لاسه کړې نو هغه ځواب ورکړ" د دې لپاره چې زما په دې خبره باور وه کله چې الله تعالی هر سړي ته دوه سترګی، دوه غوږونه، دوه لاسونه، دوه پښې، یو زړه او یو دماغ ورکړي نو هغه د کامیابۍ لارې هم د چا په وړاندې نه دي بندې کړې، بلکې بې تفریقه او بې تخصیصه یې ټولو لپاره خلاصه پرېښې ده، نو په همدې وجه ما د خپل ژوند لپاره بریا غوره کړه.

بریا یوه پرېکړه ده څوک یې چې پر وخت تر سره کوي، نو ناکامي د هغه تقدیر نه جوړېږي. د بل ګیټس په څېر مونږ ټولو ته پدې پوهېدل اړین دي چې الله ﷻ بریا زمونږ د ټولو ګډ میراث جوړ کړی. پدې وسیله په یو ځانګړې لارې تللو سره مونږ د خپلې برخې بریا تر لاسه کوو.

د خپلی برخې خوشحالي، سوکالي او نوم تر لاسه کول دي.که چېرته الله ﷻ هغه زمونږ لپاره حرام کړي نه دي نو مونږ ولې ترې محروم پاتې شوو.

* که چېرې مونږ ښه لیکوال جوړېدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه سیاستوال جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه ساینسپوه جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه استاد جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه انځورګر جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ویاند جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه مدیر جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه سیکرتر جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.
* که چېرې مونږ ښه کاروباري جوړیدلی شو، نو باید جوړ شو.

ژوند زمونږ لپاره ډګر خـالی پرېښې. د بریا نـړۍ ته په داخلېدو مـونږ ته (no entry )کومه تخته نشته. که چېرې دا زمونږ حق ده نو د هغه تر لاسه کول په مونږ فرض دي. که نه زمونږ دغه لاسونه، پښې، زړه او دماغ بیرته الله ﷻ ته ورکول پکار دي ځکه چې" بدن کې د بې کاره غړو کومه اړتیا نشته".

(c) ketabton.com: The Digital Library


زمونږ غړي له مونږ غوښتنه کوي چې د مهربانۍ له مخې مونږ وکاروئ له مونږ نه هغه کار واخلئ چې الله ﷻ مونږ د څه لپاره پیدا کړي یو. او مونږ په دې باوري کوي، چې ځینې یې د بریا او ګټو تر منزلونو رسولي دي، مګر توپیر دا ده چې هغو خلکو ترې داسې کار اخیستې څنګه چې یې د اخیستو حق وي.
که چېرې دغه غړي مونږ تر منزله نشي رسولی. نو د هغه لاسونو، پښو، سترګو او دماغو مونږ ته څه اړتیا ده. له دې نه خو ډېره غوره دا وه، چې مونږ د معلولیت ژوند تېرولو سره مړه شوي وای لږ تر لږه خو به د هغه احساس له تکلیفه خلاص شوي وای چې هر څه لرو سره، سره په ژوند کې مو خپل مقصد تر لاسه نه کړی شو.
آئن سټاین او مونږ تر مېنځ څه توپیر دی؟ زمونږ او ایدیسن تر مېنځ څه امتیاز دی؟ لیونارډ اونچی او زمونږ تر مېنځ اختلاف په څه کې دی؟ بس همدا چې هغوی له زړه نه د الله ﷻ د دغه عظیم نعمت په اهمیت پوهېدلي او بیا یې کارولو سره، سره یې وخت د خپلې حکمرانۍ لپاره په واک کې واخیست هغه عظیم نعمت دماغ دی چې صحیح کارول یې د کامیابۍ او ناکامۍ تر مېنځ بنسټیز توپیر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# PROBLEM ARE NOT THE ENEMIES

PROBLEMS THEACH YOU.

PROBLEMS MAKE YOU STRONG ENOUGH TO FIGHT.

PROBLEMS AND HURDLES ARE NOT THE STOP SIGNS.

THEY ARE YOUR FRIENDS.

THEY REALISE YOU THAT.

NOW YOU MUST THINK AGAIN ABOUT YOUR PLANNING AND STRATEGIES AND THEN JUMP FOR THE NEW HORIZONS OF SUCCESS.

BE FRIENDLY TO PROBLEMS.

یہ جـــو صورت ہے اک خـــرابی کی
پہلـــی سیڑھی ہے کامیابی کـــــــــی

(اختر رضا سلیمی )


* زمونږ کړنې زمونږ د بریا معلومات راکوي.
* اړتیا پوره کیږي، مگر هوس نه.
* نوي ملگري حتماَ پیدا کړی، مگر د پخوانیو قدر هم وکړئ ځکه دا سپین زر دي او هغه سره زر.
* که چیرې سوله غواړئ، نو د جنگ لپاره تیار اوسئ.
* کاروبار د سائیکل چلولو مترادف کړنه ده یا به یې چلوې یا به ترې غورځیږې.
* کمزوري رنگ باندې لیکل شوی لیکل بیا هم د غوره یاداښت نه بهتر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



* تر هغې پورې چې کار ته له بېلابېلو زاويوو ونه ګورې، نو بېلابېلـو تګـلارو باندې کار نه شې پيل کولی.
* کمپنۍ د خپل مالک انځور وي.
* څوک چې کتاب نه لولي تر نالوستو غوره نه دي.
* مونږ راتلونکي ته ډېر فکر کوو، ځکه چې زمونږ ډېر وخت هلته تېرېږي.
* وړو، وړو لګښتونو او تېروتنو باندې پام کوئ، ځکه چې يو وړوکـی سـوری هم يو ورځ سمندري کښتۍ ډوبولی شي.
* د مشر کړنلاره د ټيم کړنلاره ده.
* د يو ملګري پيدا کولو کې يـو کـال لګېـږي، مګـر د خفـه کولـو لپـاره يـې يوازې يو ساعت کافي دی.
* ګډ راتلل پيل، ګډ اوسېدل کړنچاره او ګډ کار کول بريا ده.
* که خپل پچي ته ماهي ورکړې، نو هغـه بـه يـې همـدا نـن وخـوري او کـه چېرې هغه ته ماهي نيول ور وښيئ نو تل به يې خوري.
* د بريا کيسه يوازې په يوه نقطه کې رانغښتې ده کار او کار.
* اړين کار همدا اوس پای ته ورسوئ له دې مخکې چې مجبوري ترې جوړه شي.
* د خپلې کمزورۍ همدا نن پلټنه وکړئ او پای ته يې ورسوئ.
* له وړوکي دښمن نه لوی دښمن مه جوړوئ.
* خپل وخت داسې وساتئ څرنګه چې پيسې ساتئ.
* په غور سره يوه پرېکـړه وکـړئ او هغـه څـه تـر سره کـړئ چـې ښـه درتـه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خپلې نيمګړتياوې وپيـژنـﺉ او همدا نن يې لرې کړﺉ

يو کمزورې کړۍ ټول ځنځير خرابولی شي. خپله امتحان واخلئ او په ياد ولرئ که چېرې تاسو کې کومه نيمګړتيا وي، نو اداره مو پرې تبا کېدای شي. او که چېرې لږه نيمګړتيا وي، نو هغه ته پام وکړئ تېروتنه لرې کړئ او په مضبوطوالي سره پر مخ لاړ شئ.

★★★

* هوښيار سړی هغه دی، چې د خپلې معشوقې کلېزه يې په ياد وي، خو خپل عمر نه.
* خاموشه اوسېدو سره زه د نورو نيمګړتياوو اندازه لګووم او خپل ځان قابو کوم.
* مه خفه کېږه، خفګان وړوکی ستونزه غټوي.
* د خپل ذات پلټنه د بريا لومړۍ زينه ده.
* له ځاځکي، ځاځکي سمندر جوړېږي.
* په ځان بې اعتمادي تر ټولو لوی تاوان دی.
* کوم خلک چې تېر وخت ته پام نه کوي هغوی هغه بيا تکراروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* خپلو خیالونو ته د حقیقت د څېرې ورکولو تـر ټولـو غـوره لاره دا ده چـې تاسو پر وخت راویښ شئ.
* که هر څه غواړئ، نو هېڅ نه شی کولی.
* د هغه کار پیل مه کوئ دکوم پای چې ستاسو له وسه بهر وي.
* که چېرې تاسو پـه لـومړي کوښـښ کـې بریـالی شـوئ، نـو خپلـې حیرانۍ د پټولو کوښښ وکړئ.
* نظریه پیسې ګټي، پیسې نظریه نه.
* د اصولو لپاره جنګېدل ډېر اسانه دي، مګر په هغه لاره کې ژونـد تېرول ډېر ستونزمن کار دی
* په خپلو غلطیو اعتراف دا ثابتوي چې تاسو لږ هوښیار شوی یئ.
* سـمندري تیـارې یـوازې د دې لپـاره نـه جـوړېږي چـې پـه بنـدرګاه کـې محفوظې وي.
* د یو ځوان لپاره خپل کردار او نیک نامي یو بنسټیز شی دی.
* ځینې خلک خپلې نیک نامۍ لپاره خپل کردار له لاسه ورکوي .
* ذهین خلک په غوسې کې خپل ذهنیت نه لاس پریمېنځي
* د غوره وخت په انتظار کې، ښه له لاسه مه ورکوئ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


**The stream of life**



## د ژوند ویاله


د روانو اوبو په څېر تقلید وکړئ، ډېر وخت تېرې د ویالې د اوبو سره ټکر کوي هغه ماتوي او یا خپله لاره بدلوي، مګر په مسلسل حرکت کې اوسېږي. کومې اوبه چې په خنډونو کې ودرېږي هغه بیا جامد شي او کارغه پرې کېني.

د ژوند امتحانونه هم د تېږو په څیر دي. کله چې تاسو په پوره قوت سره د هغه مقابله کوئ، نو پر مخ ځي که چېرې ماته ومني، نو بیا د ډنډ شکل اختیاروي. د بریا لاره ډېره پراخه ده. ستونزو ته دا مه ورپېژنه چې تاسو په یوې لارې تر کومه تللی شی. تاسو ته باید د دې خبرې اندازه وي چې کومو ستونزو ته تر غاړې وتی شئ، کومو ته ماتې ورکولی شئ او کومې له نظره غورځولی شئ. کله باید تاسو روان اوسئ او انتظار کولو سره خپله حوصله زیاته کړئ. خوښ اوسئ د خفګان کولو اړتیا نشته.

★★★

* انکار کول زده کړئ.
* که چېرې تاسو شات تر لاسه کول غواړئ، نو ګبین ته تاوان مه رسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**راکړو، ورکړو کې پوخوالی هغه مهال راځي کله چې کارکوونکی**

۱: تفصلاتو ته پام وکړي.

۲: کار په سمه توګه پیل کړي.

۳: د غوره انساني اړیکو پیدا کولو کوښښ وکړي .

★★★

* ستاسو زړه باید د زمري په څېر وي، مګر د ګیدړې چال هم باید هېر نه کړئ.
* په صداقت سره په ورځ کې(۸) اته ساعته کار کولو سره له تاسو مشر جوړېدی شي، مګر بیا به تاسو دولس (۱۲) ساعته کار کوئ.
* د دندې په پیل کې تاسو څه زده کړل له دې اړینه ده چې تاسو څومره عاید تر لاسه کړل.
* که چېرې په خبرو پوهیږئ، نو چپ پاتې کېدل تاسو ته زده کول پکار دئ.
* ورخطا خلک ساعتونه بربادوي او دقیقې ساتي.
* د خپلو لفظونو تېرولو نه، بله لویه بدهضمي نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* مشري د هغو خلکو لپاره په انتظار وي، چې پاڅېدو سره په دې پوهېږي چې هغه څه فکر کوي.
* تر هغه پورې مایوسه کېږه مه، چې سهار پاڅېدو سره د کولو لپاره درسره څه وي.
* که چېرې د یوې ونې د وهلو لپاره ما سره اته ساعته وي، نو شپږ ساعته به زه د تبر په تیره کولو کې ولګووم.
* ښه ده چې وې ښېي او غوره ده، چې هېر يې کړئ.
* عمل د درد علاج دی.
* رخصتي همدومره په کار ده، چې مشر مو کمی احساس کړي نه دومره چې هغه دې نتیجې ته ورسېږي چې څرنګه درنه ځان خلاص کړي.
* که د ستونزې په اړه مو فکر ونه کړ، نو داسې معلومېږي چې ۹۵ سلنه وخت مو د ځان په فکر کې تېرکړی.
* هره ستونزه د لارې تېره وګڼې هغه لاره چې تاسو د متبادلی لارې په خپلولو مجبوروي. که چېرې ستاسو دماغ پراخ وي نو پر غوره لاره تللی شئ.
* هر بې عقله انتقاد، غندنې او شکایت کولو باندې پوهېږي او اکثره بې عقله همداسې کوي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ژوند (۹۰) سلنه او (۱۰ ) سلنه حقايق

## ايا تاسو له (۱۰) سلنو نه خفه يئ او که  د (۹۰) سلنو خوښمن؟

۱: (۹۰) سلنه پنچر ټايرونه په اخيري (۱۰) سلنه ژوند کې مخې ته راځي.
۲: (۹۰)سلنه شيان زمونږ په ژوند کې سم وي او (۱۰) سلنه غلط.
۳: (۹۰)سلنه خفګان د (۱۰) سلنه بې ځايه مصرف نه پيدا کېږي .
۴: (۹۰)سلنه ملګري په سخته کې له تاسو لاس اخلي.
۵: (۹۰) سلنه کار تاسو په خپله کولای شئ او (۱۰) سلنه کارونو لپاره هغوی ته تنخوا ورکوی.
٦: (۹۰) سلنه کار ستاسو د روزمره ژوند برخه وي او يوازې (۱۰) سلنې لپاره تاسو فکر کوی.
۷: (۹۰) سلنه پريکړې د تېرو تجربو په بنسټ کېدای شي او يوازې (۱۰) سلنو لپاره په باريکې سره فکر کېږي.
۸: (۹۰) سلنه پېرېدونکي پرځای وي يوازې (۱۰) سلنه داسې وي چې هغوی سره بايد په احتياط چلند وشئ.
۹ : (۹۰) سلنه حساب ورکوونکي خپل باقيات ورکوي يوازې (۱۰) سلنه زمونږ خوبونه حراموي.
۱۰ : (۹۰) سلنه خفګان د (۱۰) سلنې بې پروايئ او د سستۍ نتيجه وي.
۱۱ : (۹۰) سلنه پخواني کاغذونه د دوهم ځل لپاره نه کتل کېږي.
۱۲: د غوره ليکوال (۹۰) سلنه تېروتنې په لاس سمېدلی شئ يوازې (۱۰) سلنه د دوهم ځل لپاره ټايپ کول غواړي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library





**نور هم ستاسو د قوت او بریا برخه ده**


**که نور خلک ناکامه شي، نو ستاسو حوصله هم ورسره ټيټيږي.**

★★★

* پلته یو داسې اور دی چې په جیب کې هم ایښودل کېږي او انتقالیدې هم شي. د اختراع نه مخکې دا خبره یو داسې ټوکه وه لکه یو شخص چې وایي  ما سره د قلم په اندازه ایرکنډیشن دی.
* که چېرې دوه کسه یوه، یوه روپۍ یو له بل سره تبادله کړي بیا هم دواړو سره یوه، یوه روپۍ پاتې کېږي که چېرې هغوی یو، یو فکر تبادله کړي نو دواړو سره به دوه، دوه فکره پاتې شي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د الفاظو مخکيوالی او وروسته والی ريشخندي او ټوکې جوړوي**

خبرو کولو کې احتياط کوونکي اوسئ ځکه چې ځينې وخت تاسو په يو لوی خفگان کې راگېروي، په ياد ولرئ چې د ټوپکه وتی مرمۍ او د خولی نه وتلی لفظ هېڅکله بېرته نه راگرځي.

★★★

- کوم اور چې د نورو لپاره بلوئ هغه له هغو نه زيات تاسو سوځوي.
- ژوند د موجودگی نه، د ژوندي اوسېدو نوم دی.
- صداقت او رښتينولي نن ورځ هم غوره تگلاره ده.
- د روښانه سبا لپاره خپل نن قربان کړئ.
- زده کړې په ژوندانه کې د راتلونکو ستونزو له مېنځه وړلو غوره بديل دی

- د زده کړې بنسټيز او غوره مقصد علم نه عمل دی.
- دا خبره ډېره مهمه ده، چې له پېژندو وروسته مو څه زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- وروسته بیا د شیانو د هېرولو لپاره زده کړه بې عقلي ده.
- د کوم کار لپاره چې ستاسو په زړه کې بې حده جذبه وي د هغه بریا یقیني ده.
- که په دې نه پوهېږئ چې په کور کې مشري د چا په غاړه ده، نو له تاسو بل څوک خوښ نشي اوسېدلی.
- داسې لار نشته، چې تاسو پرېکړه وکړئ او ټول خلک درنه خوشحاله شي.
- د بربادېدو نه غوره ده، چې لږ خطر په ځان ومنئ.
- که هر ډول اور وي، خو چې پر وخت پرې اوبه واچول شي مړ کېږي.
- که غواړئ چې نوي خیالونه پکې تله راتله وکړي نو خپل دماغ پراخه وساتئ.
- د یو مشر ناکامي او بریا له دې نه شو معلومولی، چې هغه څه کړي بلکې له دې یې معلومو، چې خپلو ټیټ پوړو نه یې څومره کار اخیستی.
- ورځ کې د یو ساعت کم خوب له وجې د خپل عمر پینځه کاله ډېرولی شئ.
- که د سیند په سینه کې ډبرې نه وای، نو له سازونو به محروم و.
- یا به لاره درته پیدا کېږي او یا به تاسو نوې جوړوئ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library






(۱)خپله ذمه داري تر سره کړئ او نور پرېږدئ چې لګیا وي بیا شکایت وکړئ چې په اداره کې د ملازمینو غږ ځوک نه اوري.

(۲)هر ډول ناستو او ملاقاتونو نه ډډه وکړئ او داسې څرګنده کړئ چې تاسو بوخت يئ او بیا نورو ته وښايئ چې کار څه ډول ترسره کېږي.

(۳) که چېرې تاسو اجرايوي غونډې ته بلل شوي يئ. نو يو بهانه ولټوی.اخيره دا چې په تاسو رحم شوی. بيا شکايت وکړئ چې له ادارې يو جامد ډنډ جوړ شوی دی.

(۴) که چېرې تاسو يو خاصې غونډې ته راغوښتل شوی يئ، نو د رايې ورکولو نه پرهيز وکړئ او بيا شکايت وکړئ چې له تاسو نه کوم نظر نه دی اخيستل شوی.

(۵) خپل صلاحيتونه مه مخکې کوئ او بيا شکايت وکړئ چې نه له تاسو پوښتل شوی او نه ستاسو حوصله افزائي شوې.


(٦) خپل مکلفيتونو ترسره کولو کې ببړه مه کوئ څرګنده ده، چې ډېر زيات دي وروسته شکايت وکړئ چې مالي انتظامات ناقصه دي.

(۷) پېرېدونکو جوړولو کې د نورو حوصله افزائي مه کوئ ځکه چې همدا د يو غوره پلورونکي نښه ده وروسته بيا شکايت وکړئ چې مشتريانو کې زياتوالی نه راځي.

(۸) مرکزي دفتر نه راغلي بريښنا ليکونه مه لولئ او مه يې ځواب ورکوئ ښکاره ده چې دومره اړين خو نه دي وروسته شکايت وکړئ چې تاسو خبر نه يئ.

(۹) خپلې دندې او ادرس بدلولو په اړه چاته مه وايئ وروسته شکايت وکړئ چې تاسو ادرس نشی پيدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هېڅ يو شی دومره ژر له منځه نه ځي، لکه څومره چې په بند دماغ کې نوی فکر له منځه ځي**

د يو چينايی کيسه ده، چې تاسو گرم او تازه چای د يخ او بوی ناک چای په پياله کې نشی اچولی. يو امريکي پروفيسر د يو راهب معلومولو لپاره حاضر شو. راهب په پياله کې چای اچوه تر دې چې له پيالې چای چپه شو، نو امريکې چغه کړه چې" نور په پياله کې د چای اچولو امکان نشته" .

راهب وويل "هو په رښتيا د دې پيالې په څېر ستا دماغ هم له مخکې نه ستا له فکرونو نه ډک شوی دی، نو د نوي فکرونو لپاره په کار ده چې په دماغ کې دې ورته ځای خالي کړی. خپل دماغ پراخه وساتئ او قلف له ځان نه لرې کړئ او تر هغې خپل دماغ وکاروئ چې نوي خيالونه ورته را دننه شي. بالکل تازه او نوی خيالونه.


★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د خرابو شیانو د انتخاب نه مخکې تاسو د ښه شي انتخاب نشی کولی.
- هېڅ کار د هغه کس لپاره سخت نه دی. پرته له هغه چې کول یې نه غواړئ.
- سوال دا نه ده چې تاسو په خپلو پلرونو او نیکونو باندې فخر کوئ او که نه سوال دا دی چې ایا هغوی هم پر تاسو باندې فخر کوي او که نه؟.
- د ناکامۍ نوم څنډ دی، ماته نه.
- ستونزو، ناکامیو او ټکرونو سره ستاسو دننه خزانه رابرسېره کېږي.
- د خوارۍ او قسمت تر مېنځ ۳۰ او ۷۰ اوسط دی.
- "زه یې نشم کولی " دې جملې تر ننه پورې کوم کار پوره نه کړ.
- د یو زوی ساتل د یو سلطنت ساتلو نه لږ کم ستونزمن کار دی.
- په صداقت او پوخ یقین سره د یو ټیم حوصله اوچتولی شئ.
- په ځان باور د مثبت سوچ نتیجه وي او مثبت سوچ د غوره کتابونو، غوره ملګرو او یا ښکلو ځایونو تلو راتلو نه پیداکېږي.
- د غورو فرصتونو په لټه کې ښه فرصت له لاسه ورکول عقل مندي نه ده.
- د زړه کم نظري تر ټولو لوی ړوندتوب دی.
- که چېرې تاسو بریالي کېدل غواړئ، نو ناکامیو ته د ښه راغلاست لپاره زیاته حوصله پیدا کړئ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


**انساني دماغ د پراشوټ په څېر وي تر هغې کار کوي چې خلاص وي**

بند دماغ د تورتم غار په څېر دی چې د جهالت او تعصب جالونو تیاره کړی دی. روڼ دماغ د یو ښیرازه ځړ ځای په څېر ده چېرته چې نوي خیالونه پیدا کېږي. انساني تاریخ کې کله چې هم انسان د خپل دماغ دروازې پرانیستي، نو نوو او صحت مندو خیالونو په هغه کې ساه اخیستی ده. او هغوی په شانداره او پرتمینې تګلارو باندې خپل ځانونه له تنګ او تورتم بند نه خلاصولو سره نوي براعظم، سمندر، ستوري او فضا تر لاسه کړي. مګر کله چې انسان د نوو خیالونو لپاره دروازه بنده کړې او خپلو زړو رسم او رواج پسې تللي، نو د انساني تهذیب څخه به لرې او د جهالت په تورتم کې به پاتې وي. تاسو خپل ځان له خوبولي حالته وباسې. د جامدو سوچونو له څمڅې را بهر شئ. د نوو خیالونو په خلاصو میدانونو کې چکر وهی. او یو روڼ دماغ طاقت سره، لوړ پرواز کولو سره، لوړوالی او بریاوی ښکل کړئ.

★★★


* په دې باوري اوسه چې د بریا او ناکامۍ تر مېنځ بنسټیز توپیر ته په خپله یې
* ذمه واري قبلول د امتحان قبلولو مترادف عمل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


* دښمن ته يو غړپ اوبه ورکول د هغه پر سر باندې د لګول شوې سکروټې اچولو په څېر دی.
* الله ﷻ ماته دا وړتيا راکړې چې هغه څخه قبول کړم چې زه يې نشم بدلولی او جرئت يې راکړی چې هغه څخه بدل کړم چې زه يې بدلولی شم او عقل يې راکړی چې دواړو لاسونو تر مېنځ توپير وپېژنم.
* عقل مند سړی د نورو تېروتنې ژر له ياده باسي مګر خپلې هېڅکله نه.
* خپل جوړښت په ښو عملونو سره تر سره کړئ.
* په غوره وخت کې "انکار" کول زده کړئ.
* ناممکن پسې د ورتګ له وجې به تاسو له ممکن نه هم لاس پريمنځی.
* داسې محفلونو ته ورتګ نه ډډه وکړئ چېرته چې ستاسو متبادل تاسو سره برابر وي او هلته هېڅ يو کس ستاسو کمی محسوس نه کړي.
* "پاملرنه" جنګ د تجارت او د ژوند په هر معامله کې د بريا بنسټيز راز دی
* بنسټ جوړولو ته هېڅ اړتيا نشته له هغه ځايه پيل وکړئ چې نورو پرېښې وي.
* کوم خلک چې په وړو، وړو خبرو باندې خپه کېږي، نو داسې ښکاري چې هغوی په ژوند کې د هېڅ يو لوی کار کولو قابل نه دي.
* له شک پرته بل هېڅ شی ډېر تاواني نشته.
* ناکامي د زده کړې لپاره وي د تکرارولو لپاره نه.
* پراخه دماغ کې د بانګ نه ډېر دولت راتللی شي.
* خپلو کړنو باندې تل کره کتنه کوئ.
* کار د ماشينونو غور او سوچ کول د خلکو کار دی.
* ډېر خلک له هغه نه ډېر د عزت تمه لري، څومره چې هغه يې نورو ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## د دماغ کثافات داني يا د خځلو ټيم

زه د کثافات تر څنګ له دربېدو خوند اخلم او داسې فکر کوم چې زه څومره شيان په کثافات کې غوځولی شم مثال: خپل تکليفونه، حسد، سستي، نااميدي او بې ځايه شيان هره شپه دغه شيان له ياده کثافات ته غوځول په کار دي. چې له منځه تللو پورې ستاسو له ژوند نه ستاسې خوښي پټې نه کړي. مخکې له دې چې زمونږ خوښي له مېنځه يوسې ښه دا ده، چې هغه له مېنځه يوسو. ستاسو په دماغ کې بې ځايه او خرابو خيالونو لپاره هېڅ ځای نه شته د هغه لپاره يو کثافات د تل لپاره موجود وي او اوازونه کوي ما وکاروه، د کومو شيانو ځای چې کثافات وي د هغې په دماغو کې ساتل ساده توب دی، عقلمن او هوښيار اوسئ.

★★★

* لويه بريا هغه څوک تر لاسه کوي، چې د کوچنيو کارونو پيل باندې مطمئين وي
* د يوې ونې په څېر مونږ هم بايد د يو داسې ځای په لټه کې اوسو چېرته چې مونږ وده کولی شو او لويدلی شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**يو وخت کې يوازې د شګو يوه ذره!**

**يو وخت کې يوازې يو کار !**

انساني دماغ لپاره په يو وخت کې يوازې يو خيال کول په کار دي. کوم کس چې په يو وخت کې ډېر کارونه کول غواړي هغه هېڅ نه شي کولی. په پوره غور او توجو سره کار په صحيح او غوره ډول پيل کولی شی. تل له اسانه کاورنو پيل وکړئ د بريا د خوند د څکلو وروسته تاسو ستونزمن کارونه هم په بارو او اعتماد تر سره کولی شئ.

★★★


* شهرت د داسې زهرو په څېر دی چې لږ، لږ له خوراک سره اخيستل کېږي.
* امتحان د ژوند يوه برخه ده، چې په دې پوهېدو برسېره بيا هم تاسو خپل تګ ګړندی کړئ که څه هم ستا د ګټې امکانات د ماتې نه زيات وي که څه تر لاسه نه کړئ، نوهمدا کوښښ له تاسو غوره انسان جوړولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* چرګانو سره ملګرتیا کوونکي د بازانو سره پرواز نه شي کولی
* یو پونډ (کیلو) علم په عمل کې راوستولو لپاره لس پونډه لیاقت او هوښیارتیا په کارېږي.
* کوم کار نه چې تاسو وېره لرئ هغه حتماً وکړی، ډار او وېره به پخپله له مېنځه لاړه شي.
* تېروتنه له انسان تر سره کېږي، مګر کم عقله انسان هغه بیا تکراروي.
* که یو ځل مو په کار کې ناکامي ولیده، نو دوهم ځل لپاره یې کوښښ وکړئ او کنه بل کار انتخاب کړئ.
* هېڅ یو کس هوښیار نه پیدا کېږي بلکې جوړېږي.
* یوازې ماشینونه له کاره نه لوېږي انسان هم باید خپل دماغ بې کاره کېدو نه وژغوري.
* که چېرې تاسو تر اوسه پورې د شرم  احساس کوی، نو شکر وباسئ او دعا وکړئ چې رب مو د تل لپاره همداسې وساتي.
* د بریا او ناکامۍ تر مېنځ تضاد نشته که چېرې منډه وهوونکی په اخیر نمبر راتلو سره خپل مخکینی ریکارډ ماتوی، نو هغه بریالی دی
* خپلو نظریاتو باندې بیا کتنه کوئ په هغه فکر سره چې ستاسو په غوره نظریه کې نور هم د غوروالي ځای شته.
* په توپان کې هېڅکله باید د کښتۍ شاه پرېنږدئ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


**له " CAN'T " نه "T " لرى کړئ!**

جارج زيوزميرا يو ښوونکی و، يوه ورځ په ناځاپي ډول ټولګي ته راغی او وې ويل "غلي شئ" بيا هغه په توره تخته باندې د "CAN'T" تورې وليکه او پوښتنه يې وکړه،"اوس ما ته څه کول په کار دي؟"


د هغه په دې خبرې پوهېدو سره مونږ ټولو چغې کړې. د "CAN'T" نه "T" لرې کړه. هغه د سر په خوږولو سره "T" لرې کړ او هلته يوازې "CAN" پاتې شو. له خپلو لاسو نه يې د تباشير ګرد لرې کولو وې ويل " دغه د ځان لپاره درس وګرځوئ که چېرې تاسو فکر وکړئ چې تاسو يې کولای شی، نو په يقيني ډول تاسو يې کولای شئ"

★★★

- ✓ خالی پلاستيک هېڅکله هم نه زيانمنېږي.
- ✓ حتی چې د ولسمشر قلم سره هم يو (Eraser) قلم پاک موجود وي.
- ✓ يو هوښيار کس هغه وخت خبرې کوي،کله چې د نورو خلکو سره د خبرو کولو لپاره الفاظ ختم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library






## خپل دماغ معلولیت ته مه پرېږدئ

" په ټوکیو کې مې له یو امریکي سره ولیدل چې فلج له دواړو پښو غورځولی و، مګر د دغې معلولیت برسېره بیا هم د معلولینو سایکل ( wheel chair) باندې د ټولې نړۍ ګرځېدو لپاره را وتی وه. هغه زما لپاره یو متاثره کوونکی سړی وه ما له هغه نه پوښتنه وکړه چې ایا هېڅ یو شي تاسو ته ماتې در نه کړه؟ ځواب یې ډېر په زړه پورې وې ویل


"معلولیت زما په پښو کې ده په دماغ کې نه "

★★★

- ✓ ستونزمن او نابشپړه کارونه سبا ته مه پرېږدئ. هغه همدا نن پوره کړئ، نو ستاسو لپاره به راتلوونکی د سکون او ارام نه ډک وي.
- ✓ که چېرې تاسو خپل ځان ته "خواري"سپما" او علم ور وښایئ، نو تاسې په نړۍ مشري کولی شی.
- ✓ د کوترو په وزرو باندې د پرېښتو په څېر الوتل ناممکن کار دی.
- ✓ مسلکي انتظامي اصولو مطالعه وکړئ او پرې عمل وکړئ او هغه په خپل ځان تطبیق کړئ.
- ✓ نصیحت د " سینډوچ" په ډول واخلئ د شک د دوو غټو ټوټو سره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


**که چېرې تاسو فکر کوئ چې ″کولی یې شم ″نو کولی یې شئ !**

❖ مشهور لیکوال ″لوسیامي الکوټ″ ته یو مدیر وویل چې هغه به هېڅکله یو داسې شی ونه لیکلی شي، چې خلک متاثره کړي.

❖ مشهور سندرغاړي ″انریکو″ ته یو هنر مند وویل چې ستا غږ ښکلی نه دی ته هېڅکله سندره نه شې ویلی.

او

❖ یو ښوونکي برېښنا بنسټ ایښودنکي ″ایډسن″ ته وویل چې هغه څوک احمق دی چې د سائنس خبرې کوي.

❖ هېڅکله څوک مه پرېږدئ چې ستاسو په ستوني پښه کېږدي.

❖ د ژوند تر ټولو لویه اندېښنه راتلونکې سبا ده.

❖ د غوره کړنو لپاره تاسو ته سم لیدل او فکر کول په کار دئ.

❖ دوهم قدم جیګولو کې مه وروسته کېږئ. هو که چېرې لومړی قدم تاسو ته دا باور درکوي چې تاسو په دوه ګامونوکې خپل منزل ته نشی رسېدی.


❖ بې کاره شیانو په اړه فکر کول پرېږدئ ځکه چې د هر شي په اړه فکر کول خپل دماغ نه کثافت داني جوړولو په څېر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- که چېرې د مرگ لپاره تیار نه یئ، نو تاسو د ژوند غوښتونکي هم نه یئ.
- د هېچا تقلید مه کوئ، مگر زده کړه له ټولو وکړئ.
- ورو غږ سره خفگان ښودل غوره عمل دی، چې ستونزمن به وي، خو ناممکنه نه.
- داسې کارونه وکړئ چې اولادونه مو پرې ویاړ وکړي د هغوی ملگري شئ مبلغ نه.
- که چېرې د نورو بدلول ناممکن وي، نو خپل ځان بدل کړئ.
- د غوسې ۱۰ دقیقو کې تاسو د سکون او ارام ٦۰۰ ثانیې ضایع کوئ.
- زما تېروتنه دا وه چې ما هغه وخت د رهبرۍ، بریا او ریاست پورې اړوند کتابونه تدریسول کله چې ماته کار کول په کار و.
- لومړۍ درې دقیقې د ځان په اړه فکر وکړئ، بریالي خلک هغه کارونه خپل عادت گرځوي چې ناکامه کسان یې نه کوي.
- په کوم لور چې ستاسو دماغ وي ستاسو قوت هم هغه لور ته ځي.
- طبیعي ده څومره چې ډېره مطالعه ولرو، هغو مره له ډېرو کلمو سره اشنا کیږو.
- انسان په بدمرغۍ او بې وزلۍ کې ځان پېژني.
- هغه ښځه چې د خپل مېړه سره په خوښیو او بدو کې څنگ پر څنگ ولاړه وي د پادشاهۍ وړ ده.
- زمونږ خیالونه زمونږ راتلونکی جوړوي.
- هوښیار له کاره مخکې او کم عقل له کاره وروسته سوچ کوي.
- د غوره والي بدلون د خیالونو له بدلون نه پیل کېږي.
- د انسان ژوند هم هغه دی کوم چې د هغه خیالونو جوړ کړی وي.
- څنگه چې د ځان په اړه فکر کوئ هم هغسې درنه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د "نیم دماغ" سړی هېڅ نه شي کولی

"زه يو داسې سړی پېژنم" چې په وياړ سره به يې ويل چې زه د نيم دماغ سړی يم، ما هغه ته وويل "ښکليه ! هېڅ يو کس په نيم دماغ سره خپل منزل ته نشي رسېدی، بريا پوره انسان او پوره دماغ غواړي، نيم خلک او نيم دماغ نشته "بيا هغه له پوره دماغ نه کار واخيسته او ټولې برياوې يې تر لاسه کړې، نړۍ د بد دماغو لپاره بدترين ځای دی، هغوی ته دلته هېڅ د اوسېدو حق نشته.

★★★


- ✓ "ځنډ" د وخت غل دی او د ترقۍ قاتل.
- ✓ د غټو ډبرو ټيله کولو نه مخکې تاسو ته د وړو ډبرو ټيله کول زده کول پکار دي.
- ✓ د تېروتنو نه کولو مطلب دا دی چې تاسو سل سلنه کوښښ نه کوئ.
- ✓ هر څه چې يئ د خپل سوچ نتيجه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Nothing Dies Faster

Than A New Idea

In A Closed Mind




## هېڅ يو شی دومره ژر له منځه نه ځي څومره چې په يو بند دماغ کې يو نوی خيال

کله چې شهنشاه سليمان ته دا وويل شو، چې هغه دې پرته د بوی کولو او لمس کولو په کوټه کې اصلي او نقلي ګلانو تر مېنځ توپير وکړي، نو هغه کړکۍ خلاصه کړه او باغ په لورې يې وکتل نو ګوري چې شاتو مچۍ لارې پيدا کولو سره دننه داخلې شوی نو هغوی د اصلي ګلانو نه شيره ټولول پيل کړل همداسې کله چې تاسو خپل د دماغ لار بنده وساتئ تاسو به قيمتي او بې کاره خيالونو تر مېنځ توپير ونه شی کړئ نو ځکه هغه شيان چې ستاسو د دماغ قانون له مېنځه وړي هغه لرې کړئ، او د تازه خيالونو اکسيجن دننه راتلو ته پرېږدئ چې ستاسو د دماغ قانون تل قايم وي.

★★★

- ځينې خلک څو ساعته کار کولو سره خپل نيم وخت بربادوي.
- هغه کار مه تر سره کوئ چې بل څوک يې هم ستاسو لپاره پيل کولی شي.
- نور خلک هغه شيان ويني چې موجود وي او بيا سوال کوي چې ولې؟ زه هغه شيان ګورم چې موجود نه وي او بيا سوال کوم چې ولې نه؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نيمايـي ډک ...................... نيمايـي تش

دواړه سم دي چې يو يې پر هغه خوښ وي چې له مخکې نه يې په لاس کې وي په داسې حال کې چې دوهم د تل په څېر ولاړ وي، دا ټول توپير د مثبتی رويې دی او البته مثبته رويه تاسو ته ډېر څه درکوي.

دوه کسانو د بندي خانې له پنچرو نه باندې کتل، د يو نظر پر ستورو ولگيده او د دوهم په کثافاتو باندې په دې نړۍ کې هر څوک خپلې خوښې پسې گرځي، مگر د خوښې د تر لاسه کولو نه ډېره ريښتنې لاره بله کومه نشته چې تاسو په خپلو خواهيشاتو باندې کنټرول را ولی. د خوښې اړيکه د بيرونۍ نړۍ سره نه داخلي نړۍ سره وي هغه چې ستاسو په لاس کې دە، د هغه په اړه فکر وکړئ او د الله ﷻ شکر ادا کړئ، که چېرې زمونږ نظرونه ښه وي، نو مونږ خوښ يو او که چېری زمونږ نظرونه مايوسه کېدونکي وي، نو بيا مونږ خفه يوو.

څوک چې په لږ څه قانع وي هغه سره هر څه شته، زه خفه وم چې ماسره بوټان نشته، مگر په کوڅه کې له يو داسې کس سره مخ شوم چې پښې يې نه وې، که چېرته قسمت مونږ ته ليمو را کوي، نو مونږ ته له ليمو شربت جوړول په کار دئ، توپير د فکر کولو دی.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## ګټونکی هیڅکله نه تښتي

دوه هلکان د کلي په سړک باندې روان وو هغوی ولیدل چې ښار کې د شیدو لپاره لوښي باریدل. ګوري چې څوک نشته، نو له شوخۍ یې دوه غټې چونګښې په بېلابېلو لوښو کې وا چولې او بیا یې د نورو لوښو سره یو ځای د ښار په لور روانې کړې د سفر په دوران کې د لومړي لوښي چونګښې سوچ وکړ "څه مصیبت سره مخ شوم" زه خو د دې لوښي سرپوخ نه شم لرې کولی ځکه دا ډېر دروند دی او تر اوسه ما په شیدو کې غسل هم نه دی کړې. دا له کوم ډول ستونزې سره مخ شوم، زه د لوښي بیخ پورې هم نشم تللی چې په زور سره د لوښي سر پوخ له خپل ځای نه لرې کړم په پای کې نهیلې شوه او همت یې له لاسه ورکړ کله چې یې د لوښي سرپوخ پورته کړ نو د چونګښې مړې د شیدو له پاسه لامبو وهله، چې همداسې حالات په دوهمې چونګښې باندې هم و خو هغې ځان سره وویل زه دغه سرپوخ نشم لرې کولی او نه پکې سوری کولی شم چې باندې ترې ور ووځم ځکه دا ډېر سخت بند او دروند دی، مګر د الله ﷻ شکر ده چې زه په یو کار پوهېږم چې لامبو ده، نو بس تېزه لامبو یې پیل کړه او لامبو، لامبو سره د کوچو یو غونډاری یې جوړ کړ او د هغه له پاسه کیناستو. کله چې د لوښي سر خلاص شو نو هغه په دی ویلو سره باندې ټوپ کړ، ګټونکی هېڅکله نه تښتي او تښتیدونکی هېڅکله ګټه نه شي تر لاسه کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






- ځومره چې تاسو خپلو خوښيو ته لېواله يئ همدومره ځواک يې د هغه تر لاسه کولو لپاره تاسو ته په کار دی.
- د سوچ لپاره غوره بديل پرمختګ دی.
- عاجزي د بريا له اساسي اړتياوو څخه دی.
- د دوه غوږونو او يوې خولې له راکړې څخه موخه دا ده، چې له مقابل لوري دوه برابره خبرې واورو.
- ګيلاس تشولو کې کوم تاوان نشته، ځکه چې د دوهم ځل ډکولو لپاره چې کوم ګيلاس تش شوی دی تر اوسه پورې ګيلاس دی.

★★★

- ❖ د لويو خوبونو د ليدلو جرئت پيدا کړئ
- ❖ د کوښښ کولو جرئت پيدا کړئ
- ❖ د ناکامۍ د زغملو جرئت پيدا کړئ
- ❖ د بريالي کېدو جرئت پيدا کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غوره فکرونه څرنګه قتلوی شو ؟

### د خپلو خیالونو او د ملګرو د جوش او جذبو قتلولو لس غوره او ازموېل شوې لارې

۱ : دا د کمپنۍ د پالیسۍ خلاف کړنه ده.

۲: دا کړنه د نظام مطابق نه ده.

۳ : دا به هېڅکله ونه منل شي.

۴: دا به په سمه توګه ونه منل شي.

۵: په دې مخکې کار نه دی شوی.

٦: دا موضوع ډېره پېچلې او کړکېچنه ده.

۷: مونږ د دې لپاره تیار نه یوو.

۸ : زه به یې په اړه فکر وکړم.

۹ : دا ولیکه او دوهم ځل لپاره بېرته ما ته راشه.


۱۰ : راځئ یو کمېټه جوړه کړو.

★★★

- په یوې روپۍ، درجن خیالونه پیدا کېږي. او یا د یو الماس په بدل کې یو خیال، دا تاسو پورې اړه لري کله چې تاسو د چا مرۍ خپ کول غواړئ نو تاسې د هغه خون اخلئ.
- ژوند له وړاندې نه پېچلې دی مهرباني وکړئ مه خپل بچي له نظره غورځوئ او مه یې ډېر نازوئ.
- د پېریدونکي په څېر د هر بچي عادت هم بېلابېل وي تاسو ته هوښیارېدل په کار دئ.
- ″د بریالیو بچي عموماً بریالي نه وي ″دا د ځان لپاره یو امتحان وګڼئ او غلط یې ثابت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## غوره کتاب مو ژوند بدلولی شي

- ✓ زه په وفادارۍ باندې يقين لرم که چېرې له نورو سره وفادار نه يم، نو له ځان سره هم نه يم.
- ✓ پينځه ويشت کلونو راهيسې مې د خپلې ښځې بدلولو کوښښ وکړ، مګر بريالی نه شوم بيا ما پينځه ويشت دقيقې فکر وکړ او ځان مې بدل کړ.
- ✓ نورو پورې ترلې تمې کمې او د هغو د بدو ځواب نه ورکولو سره او د هغوی چلند باندې ژر د رد عمل نه ښکاره کولو سره زه د خپل ځان د بدلولو کوښښ کووم.
- ✓ په ژوند کې تر ټولو لويه خوښي دا ده، چې تاسې هغه څه وکړئ چې د خلکو په اند تاسو يې نه شی کولی.

★★★

* که چېرې ستاسو ښځه تاسو ته داسې وايي، چې د هغې په سر باندې درد دی. د دې مطلب دا هم کېدای شي، چې تاسو هغه له نظره غوځولې ده هغې ته د (اسپرين ) ورکولو اړتيا نشته د هغې د اړتيا وړ دوا ګل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* په ياد وساتئ چې تاسو د خپلو اولادونو له پاره يو اتل يئ او دا هم په ياد ولرئ چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د نړۍ تر ټولو لوی ټيپ ريکارډر د هغوی په دماغو کې نصب کړی نو اوس چې تاسو کومه رويه او سلوک خپلو اولادونو، خپلو مزدورانو، خپلو ملگرو او خپلو پېريدونکو سره کوی هغه ساتل کېږي او هغه بېرته ستا په وړاندې راځي.
* ولې مونږ د خپلو اولادونو سره دومره په گړنديتوب د وړاندې تللو هيله مند يوو،کله چې هغوی بېرته شاته وگوري نو پښمانه وي. ځينې خلک درې کلن زوی مکتب ته استوي او دومره خفگانونه پرې را ولي تر دې چې هغه ناروغ شي.
* زده کړه دا ده چې ستاسو بچي د خپل نيکه، نيا، کاکا گانو او ملگرو سره لوبه وکړلې شي.
* خپلو اولادونو ته په پرېکړه کولو کې اختيار ورکړئ او هغوی ته د مثالونو او د کيسو زده کړه ورکړئ.
* اولادونه مو د څو ورځو لپاره په گډ کور کې وساتئ، او څو ورځې يې په يو داسې کور وساتئ چې ښځه او ميړه په گډه کار کوي، څو ورځې يې يو لوی ښار کې وساتئ، څو ورځې يې وړوکي ښار کې وساتئ، او څو ورځې يې په وړوکي کلي يا فارم کې وساتئ، ځکه چې دا هم د هغه لپاره زده کړه ده.
* کوښښ وکړئ چې په ځان کې د امکان تر حده صداقت او رښتينولي پيدا کړئ که چېرې ستاسو اولادونه او ښځه تا پورې وخاندي، نو دا خندا به په ښکاره ډول وي په باطن کې به په تا وياړي.
* په ياد ولرئ چې والدينو په شتون کې بيا هم تاسې د خپلو اولادونو مشر يئ او مشرۍ کې د وروسته تگ اړتيا نشته.
* اولادونه به ستاسو ملاتړ کوونکي جوړېږي او د مسوليت (۷۰) سلنه دار و مدار يې پر تاسو دی او (۳۰) سلنه يې په قسمت باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



* د مشر په څېر د اولادونو ارادې روښانه کړئ چې څه جوړېدل غواړي ډاکټر، انجینر، بانکدار، یو ټولنیز کارکوونکی او که بله غوره لاره د ځان لپاره انتخابوی هغه د نظر لاندې وساتئ او وګورئ چې هغه څه جوړېدل غواړي.
* یوازې یو نه بلکې ډېرې غوره لارې شته چې تاسو یې خپلو اولادونو ته ښودلی شی او د دې خبرې امکان هم شته چې په هغه کې ځینې د هغوی خوښې هم شي.
* خوښي ملګري جوړوي او بدبختي له هغوی امتحان اخلي.
* کتاب سترګو ته له نږدیوالي سره تاسو هغه نشی لوستلی یوازې سترګو ته مو تاوان رسولی شي، نو ستا او د اولادونو تر مېنځ فاصله هم اړینه ده تر څو هغوی په ازاده فضا کې رالوی شي.
* کله ناکله خپل زوی ته دا ویل هم اړین دي چې ″ بس ده ډېر شو″

(c) ketabton.com: The Digital Library



WINNERS

vs

LOSERS

The Winner is a part of the answer;
The Loser is always a part of the problem.

The Winner always has a plan;
The Loser always has an excuse.

The Winner says "let me do it for you";
The Loser says "that's not my job".

The Winner sees an answer in every problem;
The Loser sees a problem in every answer.

The Winner sees a green near every sandtrap;
The Loser sees a sandtrap near every green.

The Winner says "It may be difficult but it's possible";
The Loser says "It may be possible but it's difficult".

BE A WINNER

## ګټوونکی د ناکام په وړاندې

ګټوونکی د حل یوه برخه ده په داسې حال کې چې ناکام د ستونزې.

ګټوونکي سره د تل لپاره پلان وي په داسې حال کې چې ناکام سره بخښنه. ګټوونکی وايي ″ماته د خدمت کولو وخت راکړئ″، په داسې حال کې چې ناکام وايي ″دا زما کار نه دی ″، ګټوونکی په هرې ستونزې کې حل ویني او ناکام په هر حل کې ستونزه، ګټوونکی په بیابان کې شنه شیان ګوري په داسې حال کې چې ناکام په شنه شیانو کې بیابان، ګټوونکی وايي ″ دا ستونزمن کېدی شي مګر ناممکنه نه ″ په داسې حال کې چې ناکامه بیا وايي چې ″ کېدلی شي، مګر ستونزمن دی.

تل ګټوونکي اوسئ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


- بېځايه پوښتنو نه مه ويرېږې، ځکه چې د هغه غچ اخيستل د بېځايه ستونزو نه اسانه ده.
- ګډ کورنی نظام ډېرې ستونزې پيدا کولی شي، ځکه چې شراکت ماتېدو لپاره جوړېږي نو اړيکې ورکړې او هديې مه ګڼئ.
- د نورو تېروتنو باندې ډېرې خبرې مه کوه، يقيني اوسه چې په ميړه کې به دې هم خاميانی وي که چېرې هغه پريښته وای نو هغه به له تا سره واده نه کولو.
- په دنيا کې د اوسېدو لپاره يوه لاره ده، چې ترڅنګ مو يو ډېر لوی قبرستان وي چېرته چې تاسو د نورو خامی ښخولی شئ.
- که چېرته ښځه مو په کاروبار کې له تاسوسره خاموشه ګډونواله وي، نو هغې ته فوراً ځای ورکړئ، دا ستاسو دواړو لپاره ګټوره چاره ده.
- يو ښځې ايډيسن ته وويل چې د هغه د زوی لپاره يو "نصب العين" وليکي . ايډيسن ورته وليکل " هېڅکله د ساعت په لوري مه ګوره".
- په عمومي توګه اولادونه ستونزې را پيدا کوي او تر هغه وخت پورې چې هوښيار شوي نه وي يا تاسو ورته د حل لاره پيدا نه کړئ.
- يو ځل مارک ټوين خپلې ښځې ته داسې عقيده مخې ته کړه" هغه چې هرچېرته وي سکون او ارام ورسره وي ".
- کورنی کاروبار يو ډول ستونزمن کاروبار دی چې د هغې په اړه خبرې او پلان جوړول د خوړلو پر وخت د ميز پر سر نه کېږي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library






**الهي هر څه چې تا راکړي په هغې شکر !!**

خپلې دعاګانې په قطعي ډول داسې مه کوئ چې تاسو له الله ﷻ نه څه غواړی. لمانځه کې ټول هغه څه یاد کړې چې الله ﷻ تاسو ته درکړي. او هغه شېبې په ذهن کې وساتئ چې ستاسو لپاره یادګاري وي لمونځ وکړئ او د الله ﷻ شکر ادا کړئ.


ای! ربه زه ستا عبادت له دې وجې نه کووم چې زه له تا وېرېږم، یا زه ستا د جنت لالچي یم او یا ستا له دوزخه وېره لرم زه ستا مخې ته د دې لپاره په رکوع کېږم چې یوازې ته د عبادت وړ یې.

★★★

- ✓ اولادنو لپاره مو تر ټولو غوره لګښت ستاسو وخت دی.
- ✓ که چېرې ملګري لری، نو بې کاره نه یئ.
- ✓ ورورنه ناڅاپي جوړېږي او ملګري له زړه نه.
- ✓ د لمرمحبت کوونکی سره ګل هغه وخت وي، کله چې هغه په وریځو کې راګېر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## فرصتونه دوهم ځل لپاره هم په لاس راځي!

یو کامیابه کاروباري راته وویل څه شي د کامیابۍ کښتی د دې لپاره بېرته راوگرځوله کله چې هغه له بد حالت سره لاس او گریوان و. هغه د کښتۍ انځور ته اشاره وکړه چې شگه کې نښتې وه او د اوبو څپې هم ترې لرې وی، او د انځور عنوان وه ″کښتۍ بېرته راگرځي″ هېڅکله ماتې مه منې او هېڅکله مه وایئ چې زه یې نشم کولی، د هغه پر ځای ځان سره داسې ووایه چې ″کښتۍ به بېرته راگرځي″ یقیناً هغه به بېرته را وگرځي په هغه صورت کې چې تاسو پر دې یقین وساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ښو په لټه کې شئ نه د بدو

د "ډیوډ" مجسمه جوړول د انسان په لاس غوره فنکاري ده. چې ماتیکل انجیلو جوړه کړ، هغه د مرمرو کومه ډبره د مجسمې لپاره کارولې په هغې کې لږې خامۍ وې، ډېرو فنکارانو چې د مجسمې ډبره ولیده وې ویل، هېڅ نه ترې جوړېږي هغوی د نېمګړتیا نه مخکې انکار وکړو، مګر مایکل انجیلو چې کله ډبره ولېده نو هغه ته پکې د ډیوډ انځور په نظر ورغی چې دې سره یې د مجسمې جوړیدو هیله پیدا شوه. او د ډبرې نیمګړتیا په نظر کې نه نیولو سره یې په کار باندې پیل وکړ، داغي ډبره یې داسې وتراشله چې ګومان کېده، چې هلته هېڅ داغ نه و او په ډبرې کې د ډیوډ انځور راښکاره شو، مونږ هم د ماتیکل انجیلو په څېر یو او نور خلک د د هغو فنکارانو په څېر و چې د انسانیت په نیمګړتیاو خو نظر ساتي، مګر د هغې دننه پوښل شوی ښکلا په ذهن کې نه را ولي. خپل ځان مثبت وساتئ او فکر وکړئ چې خامخا د کامیابی لپاره کومه لاره موجوده ده. خفګانونه، ناکامیو ماحول په فکر کې مه را ولئ د هغه په اړه فکر وکړئ چې نه وي موجود او هغه ترسره کړئ.

★★★

- ✓ ملګری څوک دی؟ هغه کس چې ځان ورسره طاقتور محسوسوی.
- ✓ هغه چا سره ملګرتیا مه کوئ چې ستا نه غوره نه وي.
- ✓ د ملګري پیدا کولو لپاره یو کال هم کم دی او خفه کولو ته یې یو ساعت هم ډېر دی.
- ✓ یو غورځیدلی دښمن د دوهم ځل لپاره هم جیګیدلی شي، مګر چا سره چې سوله وشي هغه د تل لپاره لاندې وي.
- ✓ ملګري(۵۰) هم لږ دي، خو دښمن یو هم ډېر دی.
- ✓ هغه څوک چې د وړو،وړو تېروتنو په بخښلو باندې نه پوهېږي، هېڅ ترې نه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د مثبت چلند(سلوک) خپلولو لپاره اووه بنسټيز اصول

۱ . خپل ماتوونکي سره داسې سلوک وکړئ،لکه هغه چې د ځمکې په سر تر ټولو مهم سړی وي.

۲. که چېرې ستاسو سلوک ښه نه وي هېڅ هم ښه نه دي په داسې کې تاسو د پيل نه مخکې ماتې خوړلی شي.

۳. انساني دماغ يو وخت کې يوازې يو خيال په ښه ډول په واک کې ساتلی شي.

۴ . انسان له زړه نه خوښوي چې د نورو ده ته اړتيا وي، خپل ځان ځانګړې محسوسولو او د نورو نه تمې تر لاسه کولو لپاره تاسو د خلکو په اړه هم داسې فکر وکړئ، هغوی به هم ستاسو په اړه داسې فکر وکړي.

۵ . تاسو له هر يو نه څه نا څه زده کولی شئ.

٦ . خپلو شخصي ستونزو باندې وخت مه ضايع کوئ.

۷ . تر هغې چې ستاسو روغتيا ښه وي د هغه په اړه خبرې مه کوئ

★★★

هېڅکله اوريدل مه پرېږدئ

هېڅکله زده کول مه پرېږدئ

هېڅکله پوهېدل مه پرېږدئ

★★★

* زده کړه په ژوند کې د حرکت په اساس نه ده، زده کړه له تاسو روان سيند جوړوي، يقيناً چې تاسو ډنډ جوړيدل نه خوښوی
* د يو ملګري له پاره له ځانه تېريدل د يو داسې ملګري د پيدا کولو ډېر سخت نه ده څوک چې ستاسو لپاره له ځانه تيرېږي.
* د هر سړي خپلې نيمګړتياوی وي او هغه سړی چې د يو داسې ملګري په لټه کې وي چې له هر ډول خامۍ پاک وي، خپل کوښښ کې بريالی کېدای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* هغه زما ښه ملګرى دى ځکه چې په نه شتون کې ما په ښو الفاظو يادوي.
* له يوازې فکر نه په ګډه فکر کول د نن ورځ تر ټولو لويه اړتيا ده.
* مخې ته مې مه ګرځه زه پيروي نشم کولى.
* شاته مې مه ګرځه زه مشري نشم کولى.
* د ملګري په څېر زما تر څنګ وګرځه.
* د نورو لپاره چې کوم کار تر سره شي هغې نه بله لويه خوښي نشته.
* که غواړې ملګرى له لاسه وکړى، نو هغه ته لږ د هغه د ښه والي په اړه ووايه.
* په سخته کې (۹۰) سلنه ملګري تاسو مايوسه کوي يوازې (۱۰) سلنه درسره ودريږي.
* ملګرى مو هم هغه کس دى، چې ستا په اړه په هر څه پوهېدو برسيره بيا هم تا خوښوي.
* ملګرى او کتاب دوه داسې شيان دي کوم چې بايد لږ او ښه وي.
* د ملګري د خفه کولو او له ځانه د لرى کولو يوه يقيني او فوري لاره دا ده چې له هغه نه قرض وغواړئ.
* خپلو وعدو، خپل کار او خپلو ملګرو سره مخلصه اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماته یو داسې زوی راکړی

ای الهي! ماته یو داسې زوی راکړی چې هغه دومره قوي وي چې د وېرې مقابله وکولای شي، چې صادقانه ماتې خوړولو سره، سره بیا هم با ثباته وي او ونه ځوربږي. او په بریا باندې ډاډمن وي، زه دا دعا کوم زما مالکه! هغه ته داسې لاره وښایئ کومه چې له امتحان او ازمیښت نه ډکه وي، نه دا چې یو اسانه لاره، الهي! ماته یو داسې زوی راکړی چې زړه یې پاک او مقصد یې لوړ وي. هغه زوی چې خپل راتلونکي ته په رسېدو خپل ماضي هېر نه کړي. هغه دومره عاجزه جوړ کړه چې ریښتینې ساده ګي یې یاده وي. هغه ته زیرکۍ سره پراخه دماغ او له اصلي طاقته یې خبر ولری، تر څو زه د هغه د پلار کېدو په صورت کې دا ویلی شم چې " ما ژوند بې کاره نه دی تېر کړی"

## د مثبت فکر میوه هتمن تر لاسه کېږي


یو ړوند سړي وویل " کله چې زه له سترګو محرومه شوم نو ما دا فکر وکړ چې زه به د خفګان په تیارو کې ډوب شم. اوس زه له سترګو پرته هم خوښ او خوشحاله یم ځکه چې ډېر خفګانونه د سترګو له لیارې زما زړه ته ننوتل. ما به د خلکو ښکلو مخونو په لېدو سره خپل شکل او صورت نه کرکه کوله. ډېر اړین او متوجی شوي خیالونه د خلکو په دماغ کې په تیارو کې راځي. ایا د دعا غوښتلو په وخت کې تاسو سترګې نه پټوی. دغه ړوند سړي د لېدو پرته د ژوند انځور زده کړی و. تاسو تر هغه ناتوانه نه یې ترڅو پورې چې تاسو د ځان په اړه داسې فکر ونکړئ.

★★★

* " دا خبره زما لپاره د خفګان نه ده چې ماته دې دروغ وویل. بلکې د تکلیف خبره دا ده چې په را تلوونکي کې به زه په تا بې باوره شم".
* که چېرې له تاسو سره کوپره وي نو شادوګان به هتمن در ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**هر کار په هوښیارۍ کوئ، په زور نه**

- داسې کارکوونکی مه ساته چې یوازې د پیسو لپاره کار کوي.
- ښه تنخوا ورکړئ ارزانه کارکوونکی ډېر قیمته تمامېږي.
- مرسته کوونکي خلک د تل لپاره مرسته کوي.
- چې په خپل کار خوښ او خوشحاله وي هغه سړی مونږ ته پکار دی.
- تعریف د خلکو په مخکې او غچ اخیستل پټه باندې په کار دی.
- د کار پوره کولو وروسته د کار عادت متاثره کېدونکي باید نه اوسئ.
- هر کارکوونکی هغه کار تر سره کوي، چې هغه ته ښه ښکاري. نه هغه چې ورته تر سره کول پکار وي.
- دا راته مه وایه، چې څومره خواري دې کړې، دا راته ووایه چې کار دی څومره کړئ.
- هر سړي ته خپل نوم د نړۍ تر ټولو خوږ او مهم لفظ ده.
- یو مشر په خپل ټیټ پوړو باندې د دې لپاره پابندي لګوي چې بریا تر لاسه کړي.
- څوک چې مسولیت قبلوي په ژوند کې ډېره ګټه تر لاسه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د خلکو تر جوړونې لومړی خپل ځان په ښه توګه جوړ کړئ

### د ځان جوړونې درې غوره اصول

۱ . فکر وکړئ چې اوس هم یوه غوره لاره شته
۲. همدا اوس په هغه عمل وکړئ
۳. د هغه په اړه پوښتنه وکړئ

★★★

## د پرمختګ لپاره ( ٦) غوره تګلارې

۱ . د خپلو مخالفینو په اړه په منظم ډول خبر اخلئ.
۲. په بشپړه ډول د خپل ځان محاسبه وکړئ.
۳. موخې مو ځانګړې کړئ.
۴ . هر څه چې کوئ پر هغې ثابت قدمه اوسئ.
۵ . له وړوکي دښمن نه لوی دښمن مه جوړوئ.
٦ . ټول اړخونه په پام کې ونیسئ.

★★★


- د غوره فرصتونو د بدلولو لپاره ناستې او را ټولېدنه په کار ده.
- د ځان نه غټو سره داسې اوسېدل په کار دي له څرنګه چې له اور سره اوسېږئ، نه دومره نږدې چې وسوزیږئ او نه دومره لرې چې کنګل شئ.
- د کارکوونکو خبرو ته غږ کېږدئ. اکثره وخت د هغوی خیالونه د سوځیدلي سګرټو په څېر وي، چې خپله پرېکړه هغوی په اور هم بدلولی شي او د یخو اوبو څو څاڅکي هغه سکاره کولی هم شي.
- کله چې جایزه ګټې، هغه خپلو ملګرو ته ورکړئ، او تاسې د بلې جایزې ترلاسه کولو لپاره کوښښ وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که یو ځل مو نېکي تر سره کړه دا په یو غوره عمل وي او که د دوهم ځل لپاره مو تر سره کړه، نو ستا په فرایضو کې به ولیکل شي.
- د خلکو سره نفرت کول داسې دی، څرنګه چې موږک نه د خلاصون لپاره خپل کور وسوزل شي.
- د تبلیغ لپاره ستاسو کردار ستاسو د لفظونو نه ډېر اړین دی.
- د چا پلان تر هغې مه ردوئ چې له هغې غوره درسره نه وي.
- سړی هغه وخت له پامه غورځول کېږي کله چې د هغه اړتیا نه وي.
- په یاد ولرئ چې زه او ته هم له پامه غورځول کېدای شو.
- په ګډه کار یوازې په ټولنیز ډول نه، په انفرادي ډول هم ستاسو په ګټه کې دی.
- زوی مو د روانو اوبو په څېر دی، که ته هغه په وړو، وړو خنډونو کې برقراره وساتئ، نو یقیني ده  چې هغه به خپلو لوړو حدفونو ته ونه رسېږي.
- یو پلار له لسګونو استاذانو درونډ دی.
- خپل پلار او نړۍ هر وخت خوښ ساتل په یقیني ډول ناممکنه ده
- د ملګري پاتې کېدو لپاره یوازینۍ لاره دا ده چې تاسې سره یو شئ
- د ټولو مشورو سره  د شپږو خلکو په ګډه کمپنۍ هم هغه ډول کار کولی شي څومره چې یو کمپنۍ د (۱۰۰۰) خلکو سره سره کار کولی شي.
- په خوږه ژبه او ټوپک دواړو سره چې کوم کار کېږي هغه یوازې په خوږو لفظونو سره ممکن نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هېڅوک بې کاره نه وي


ځينې وخت تاسو دا فکر کوئ چې ډېر مهم يئ او هېڅ يو نظام ستاسو پرته نه شي گرځيدلی که چېرې تاسو لاړ شئ، نو ستاسو تشه ډکول به ناممکنه وي، مگر داسې نه ده که چېرې ستاسو يقين نه راځي، نو په يو ستل کې اوبه واچوئ او تر څنگل پورې خپل مټ په هغه کې ډوب کړئ بيا لږ څنډ وروسته خپل مټ بيرته و باسئ په اوبو کې به حرکت پيدا شي او ستاسو د مټ تشه به ډېر ژر ډکه شي.

″ په ځان فخر وکړئ او دا هم په ياد ولرئ چې هېڅوک بې کاره نه وي″

★★★

- له وړو کارکوونکو سره ښه سلوک د يو مدير د عظمت معلومات ورکوي.
- څومره چې پوهېږم، نو د چا بد به ونه وايم او ښه والی به يې بيان کړم.
- په خلکو باور وکړئ د هغوی نه (۹٦) سلنه رينښتيني وي.
- څوک چې يوازې هغه کار کوی چې ورته ويل شوي وي هغوی ته کله ناکله د نه کولو په اړه هم ورته ويل شوي وي.
- مونږ د خلکو ډېر او د خپل ذهين لږه انداز لگوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا خبره سمه ده، چې قسمت حتماً بدلېږي

- ستاسو دماغ د ریښتینو یادښتونو لپاره یو داسې کوټه ده چې ډېر انځورونه د راتلونکي لپاره پکې خوندي کولای شئ.
- د تاریخ په اوږدو کې یوازې دوه ډوله خلک پیدا کېږي. یو هغه خلک چې یو شی جوړوي او بل هغه خلک چې مصرفوي یې.
- که چېرې تر ډېره خلکو ته وګورې نو تاسو به داسې محسوس کړی چې په ځان بسیا خلک د کار په زیاتوالی باندې یقین کوي.
- که په دفتر یا کور کې یې نو تاسو د سندرغاړو د ټیم یو برخه یئ دا اوس تا پورې اړه لرئ چې نتیجه په موسیقۍ کې را وځي او که شور کې.
- د ژوندي اوسیدو لپاره له (۸) نه تر (۵)کار وکړئ او بریا ترلاسه کولو لپاره (۵) نه تر (۸) پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Business is like riding
A bicycle –either you keep
Moving or you fall down



**کار و بار هم د سائيکل چلولو په څېر دی يا به يـې چلوې او يا به ترې غورځېږې**


دا ټول د پرمختګ لوبه ده. يا به پرمختګ کوئ يا به تاوان ګالئ. که چېرې ستاسو کاروبار نوی اوسي نو د بازار ګرمي او يخ ته مه خفه کېږئ يوازې لاره موندل په کار دي. بس په وخت، دماغ، وساېلو او بريا باندې تمرکز وساتئ او له ناکامو خلکو نه ځان خلاص کړئ.

★★★

- له نرمۍ نه شفقت، له شفقته اعتماد او له باوره ورورولي او ذهني هماهنګي پيدا کېږي.
- په ټيټو خلکو باندې د ګوتې جګولو په وخت يوه ګوته ځان په لور هم ونيسه چې تاسو له خپلو پېريدونکو سره څومره صادقان يئ.
- مفته نصيحت سره ځينې خلک داسې فکر کوي چې هغه برکت ناک دی.
- د هغه د بريا راز په دې کې و، چې هغه بې له شکه هر کس له ځانه متاثره کاوه او داسې عزت يې ورکاوه، چې هغوی کله هم نه و ليدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## ښه د غوره دښمن نه دی !

ځینې وخت مونږ ښه توب د ډېرښه توب لپاره له پامه غورځوو. په یاد ولرئ.لومړی ښه توب بیا ډېر ښه توب بیا لا ښه توب. تل له ښه توب پیل وکړئ او عمل پرې وکړئ او د ډېر ښه توب کوښښ وکړئ او په تللو، تللو کې بیا لا ښه توب تر لاسه کړئ.


★★★

- ستاسو دماغ د ځمکې په څېر دی سخته خواري په هغه کې د حل چلولو په څېر دی. مطالعه د هغه د زرغونتیا لپاره اړینه ده، او نظم او ضبط د هغه لپاره حشره وژنې دوا په څېر کار کوي.
- که چېرې ځان د ستوري په څېر غواړې، نو خپل ټیټ پوړو لپاره هر ورځ یو ښه کار وکړئ
- په دې خبره مه غوسه کېږئ چې له خلکو هغه څه جوړ نه شو چې تاسو غوښتل ځکه چې له تاسو هم هغه جوړ نه شو چې خلکو غوښتل
- دماغ مو تر ټولو قیمتي پانګه ده. او د خپلوخلکو دماغ ستا پانګه ده چې تاسو یې په خبرو کې نه شی بیانولی. فکر وکړئ چې د دماغ یوازې (۱۰) سلنه کاروئ او پاتې نور ضایع کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Believe in yourself




**په ځان باور وکړئ**

**"زه خر نه يم، زه يو اس يم، کاريگر او خواري کښ!"**

هېڅکله د کمترۍ احساس مه کوئ. په ځان باور وساتئ او احترام يې وکړئ، د ځان ښودونکي په څېر نه، د حقيقت خوښوونکي په څېر په ځان باور وساتئ. د ماضي وير مه جوړوئ. ژوند په جذبې سره وکړئ. د نن ښه پيل مو د غوره راتلونکي باندې بدلولی شي. هر څه که پرېږدئ، نو د هغه تاوان به ګالې.


★★★

- ✓ خلک وخت نه ضايع کوي هغوی خو بس وخت په هغه کارونو مصرفوي چې هېڅ اړتيا ورته نه لري.
- ✓ ارامه اوسئ او د کار په دوران کې ارامه اوسېدل زده کړئ.
- ✓ که په کاروبار کې پېرېدونکي برقراره ساتئ، نو ضروري ده چې لومړۍ پرې لګښت و کړئ.
- ✓ هر څوک کاميابېدل غواړې يوازې هغه ته مناسب فرصت ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* یو کارکوونکي ته د زده کړې او ګټلو فرصتونه کم نه دي.
* مونږ له خپلو کارکوونکو نه ډېر څه زده کولی شو. ځکه چې زیرکتیا یوازې د مالکانو میراث نه دی.
* لاربښود د خپلې قافلې د تګ انځور وي. د لاربښود تګ د قافلې تګ وي.
* هره معامله دوه لوري لري، نو ته باید په دې ډاډه اوسې چې دواړه غوړونه دی خلاص وي.
* خرابو شوو منو کې د ټاکنې ځای نه وي.
* کله چې له کاروباره په رخصتۍ یې نو  د پېریدونکي په څېر بیرته د کاروبار ځای ته زنګ وهه او د یو څه غوښتنه وکړه. نو تاسو به حیرانه شی.
* په یاد ولرئ چې د کړنې لومړی تاثیر غلط وي. نو په همدې وجه په کراره کار پیلوونکي بریا تر لاسه کوي. بیړه کوونکي پرته له ناکامۍ نور څخه نشي تر لاسه کوی.
* تر دې چې شاتو ته هم د مچیو خلاف خپله دفاع کول پکارېږي.
* دا ریښتا ده چې یو زوړ سپی نوی کولی شو، مګر زه او ته خو سپي نه یوو.
* له هرچا نه خوشحاله کېدل مطلب دا چې له هېچا خوشحاله نه یئ.
* غوره مشرۍ لپاره خلکو سره ښې خبرې اترې اړینې دي.
* یو مشر کې باید د زغم ماده موجوده وي.
* د یو مالک د کامیابۍ او ناکامۍ راز  په دې کې نه دی چې څه کوي، بلکې په دې کې دی چې له نورو څومره کار اخلي.
* د انسان  کردار له هغه څه معلومیږي له کوم چې هغه د خلکو ستاینه قبلوي.
* ځنډ د خلکو لیواتیا کموي او له هغوی لټان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ستونزې نهرې وساتئ او فرصتونه ماړه**

ستونزې نه زمونږ ملګري دي او نه ګټورې دي، مګر له مونږ نه ډېر کم عقله خپل د وخت ډېره برخه ورکوي. له ستونزو ځان خبر وساتئ، مګر په ځان يې مه حاکموئ.

★★★

- ✓ د ژوند دوه غوښتنې دي يو هغه څخه ترلاسه کړئ چې زړه مو غواړي او دوهم هغه څه تر لاسه کړئ چې زړه مو نه غواړي.
- ✓ مايوسي د عقل دښمن دی.
- ✓ غوره کارکوونکي پيخې کوي.
- ✓ په غښتلتيا سره دښمن لاندې کول نيمه فتحه ده او په مينې سره يې لاندې کول پوره فتحه
- ✓ بزګر همېش راتلونکي کال کې د مالداره کېدو په لور ځي
- ✓ خپله پرېکړه وړاندې کړئ، خو پايلو ته يې په تمه کېږي مه. کېدای شي پرېکړه مو پر ځای وي خو پايله يې ناسمه وي
- ✓ د خلکو سره په ښو اخلاقو مخ کېدل خواري نه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



In selling, As In Chess

Forethought wins



## څوک چې لومړی فکر کوي په پلور او شطرنج کې ګټه د هغوی وي

پلور هم د شطرنج تختې په څېر د ریښتنې جنګ میدان دی.کوم ځای کې چې د کلي مشر د سپارو او پیادو جبهه جوړوي نو هغه څوک بریالی وي چې د نورو د تکتیکونو د ماتولو هنر یې له وړاندې زده وي. په کار ده چې مقابل جانب د کړنو په وړاندې د هغه په نیت پوه شئ او مخکې له مخکې باید ویښ واوسئ. په بازار کې ډېر خلک کاروبار کوي، مګر ګټه ستاسو کېدای شي که چېرته تاسو ډېر په جرئت او ابتکاراتو سره د خپلو حریفانو مقابلې لپاره کاروبار ته راشئ.

★★★

- ځینې وخت یو تنظیمونکي ته د لارې وددیدو پر ځای لرې کېدل هم پکارېږي.
- اداره د عادي خلکو د داسې تنظیم نوم دی، چې غیر عادي کارونه پکې سرته رسېږي.
- د اوږدو شوو نوکانو پرې کول په کار دي.
- کرار غږ تر ډېره اورېدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Change yourself




## ځان کې بدلون را ولئ

"کېدای شي زما لسم مالک د نورو نهو نه ډېر غوره وي"

ځينې خلک فکر کوي چې د ځان په بدلولو خپل حالت ښه کولی شي

"زه له دغې دندې تنگ شوی یم دلته زه خپل قابلیت د کار مخې ته نشم راوړلی. دلته زما قدر نشته زه باید کومه بله دنده ولټوم" دغه خبرې د دوکې لامل گرځي. ځينې خلک دوهم حالت کې ځان را وستل غواړي ځکه چې هغه نه یوازې له دندې بلکې له ځانه هم ستړی شوی وي. تر هغې چې هغه خپل چلند په خپله بدل نه کړي هيڅ شی هغه نشي بدلولی او بيا هغه ته د تيښتې اړتيا هم نه وي.

" ځان کې بدلون راولئ"

★★★

- غږ نه سُر جوړېږي، مگر که چېرته د یو روزل شوی سړي وي. په یاد ولرئ چې روزنه ډېره اړینه ده.
- خنزير ته سندره ور زده کول د وخت بربادولو او هغه په فخر کې ساتولو پرته بل هيڅ څه نه دي.
- صبر له غوسې غوره دی.
- کوم کس چې پوړ په پوړ لوړوالی ته رسېږي له هغو ډېر عزت تر لاسه کوي چې د هيلې په بنسټ رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## "زه"


د غورې لارې په اړه به فکر کووم، د غوره سلوک لارې به خپلوم
زه به په خپلو موخو باندې کره کتنه کووم.
زه به له خپلو تېروتنو زده کړه کوم. زه به له ګټې پیل کووم.
زه به مسکا کووم
زه به ارام کووم
زه به خوښ اوسم
زه به پیرزوینه کووم
ځان ته به صادقه اوسم
عاجزي به اختیاروم
زه به د نورو خیال ساتم
" په دې ډول فکر و کړئ"

★★★

- ✓ اضافه وخت (over time) یو ناوړه عادت دی، مګر یوه کوچنۍ ناروغۍ له سرطان څخه غوره ده.
- ✓ غوره مشر داسې رهبري کوي چې "دا څنګه کېدای شي".
- ✓ ګډ کار کولو کې بریا ده.
- ✓ بدي وغنده بدي کوونکی نه.
- ✓ یو منځګړي سړي نه د غوره کړنې طلب و کړه، یا خپله را مخې ته شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## خپله د ځان ډريور شه!

د کيلي سلف سټارټر موټر ته داسې حرکت ورکوي چې د هغې ماشين ودرېدو ته نه پرېږدي . په همدې ډول لږ شان تحرک "سلف سټارټر" د سړی په کړنو کې هم همداسې زياتوالی را ولي چې هغه بيا د اداری ضرورت جوړ شي. کاميابه خلک يوازې له نهو تر پنځو نه بلکې له پنځو تر نهو پورې هم کارکوي. د سلف سټارټر خلک سلف ميډ هم کېدای شي. په نړۍ خلک په دوه ډوله موندل کېږي يو هغه چې جوړوي يې او دوهم هغه چې مصرفوي يې. سلف سټارټر هغه خلک دي چې ګټه کوي يعنې يو شی د ځان او نورو لپاره هم جوړوي.

★★★

- د مهربانۍ له مخې خپلو مالي راکړو ورکړو سره د مخ کېدو لپاره ځانګړی وخت ورکړئ.
- دا معلومه کړئ چې ناپوهي ده که امتياز که ناپوهي وي، نو له منځه وړلو لپاره علم په کار ده، او که امتياز وي، نو دې ته ډېره زيرکتيا او هوښياري په کار ده.
- ضرور يې خبر کړه، هيروه يې مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د تېروتنو له دوزخ نه را ووځئ

### خپلو برياوو د تېروتنو له کندې راپورته کړم

ډېرى تېروتنې تاسو د تېروتنو جهنم کې ډوبولى شي. تېروتنې ستاسو استاد کېدلى شي، مگر دا د لړمۍ په څير ستاسو فکرونو سره نښلي او بيا تاسو دوهم ځلې تېروتنو باندې مجبوروي. د تېرو تېروتنو قيمت ادا کول نن ډېر اسانه دى. خپل دماغ ته د برياوو زده کړه وشايئ .

★★★

- سخت او ځان خوښوونکي خلک ماتې خوري او نرم ټيټ مزاجه خلک لاره هم جوړوي او خوندوي هم وي
- درس ورکړئ تبليغ مه کوئ
- اورېدل يو فن ده او له خپلو سترگو نه يې هم واورئ
- په پوره ډول کار تر سره کولو لپاره، له کاره ډېرې پوهې ته اړتيا ده
- روزنه اخيستل او ورکول دواړه ستونزمن کار دى
- کوم کار چې يو سړى تر سره کولى شي دوو ته يې مه سپارئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اووه غوره لفظونه**

" زه يې منم چې ما تېروتنه کړې"

**پنځه غوره لفظونه**

"تا ښه کار کړی دی "

**شپږ غوره لفظونه**

"هسې نو ستا څه نظر دی"

**څلور غوره لفظونه**

"لومړی تاسو مهرباني وکړئ"

**دری غوره لفظونه**

"له تاسو مننه"

**دوه غوره لفظونه**

"لومړی تاسو"

**يو غوره لفظ**

"تاسو"

**يو لږ غوره لفظ**

"زه"

★★★


(c) ketabton.com: The Digital Library


- دا ریښتیا دی چې سړی په اوریدو زده کړه کوي، مګر مونږ یې نه اورو.
- ځینې خلک خپلې محاسبې پرته د نورو د عیبونو اندازه لګوي.
- همېش هغو خلکو ته خفه کېږم، چې یوازې د ځانګړې مودې لپاره کار کوي چې له داسې خلکو ځینې هېڅ نه شو تر لاسه کوی.
- هر کس روزنه هم اخلي او ورکوي یې هم.
- کاروبار تر سره کول یو فن دی سائینس نه.
- روزنه صبر او زغم غواړي.
- هوا له ځان سره خس او خاشاک پورته کوي او هر لورې ته یې وړي او راوړي، مګر کله چې په ګډه خس او خاشاک له ځان نه غر جوړ کړي نو هېڅوک هغه له ځای نه نشي خوروليی.
- زیات کار کول له لږ کار کولو نه غوره دی.
- تر هغه پورې په شریکه کار نه تر سره کېږي چې له هغه سړي نه کار وانخلو چې په کاروبار کې یې خپله برخه نه وي اچولی.
- غچ اخیستل د مثال نه ډېر طاقتور نه دی.
- په ګډه هم کار تر سره کېږي، مګر که په خندا سره کار وکړو ژر او په ښکلی ډول تر سره کېږي.
- رهبر یوازینی کس دی چې بنستیز توپیر ساتي.
- وخاندئ ځکه د خندا یو ځاځکې تاسې یو ځای کار کولو ته راضي کوي
- کله چې غټ زنګونه وهل کېږي، نو په وړوکي باندې څوک غوږ نه ګروي.
- له رښتیا نه پیاوړی څوک نشته.
- د هرې ماتې تر شا د بریا راز وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Admit your Mistakes Gracefully



## خپلې تېروتنې مو په خوښۍ سره ومنئ

تر دې چې د يو مامور پنسل سره پنسل پاک هم وي. مونږ ټول تېروتنې کوو د تېروتنو د منلو نه مه ورېرېږئ. تل لپاره مونږ سم نه يو ځوک چې سم وي هغوی سره يواې (٦٠) سلنه وخت وي. چې د بريا جشن جوړ کړي که چېرې هغه عقل مند وي نو خپل پاتې وخت د تېروتنو په اصلاح کولو کې مصروفوي.

په حقيقت کې خلک د هغه کس درناوی کوي چې په خپلو تېروتنو قانع وي او همدا د لويو خلکو نښه ده.

★★★

* ځوک چې د کار په ګټه پوهېږي هغوی کار کول غواړي.
* ځينې د هدف لپاره کار کوي، ځينې د ازمېښت او شهرت پيدا کولو لپاره. هو پيسې د هغوی د لاس سودا کوي مګر ارام د هغه زړه او دماغ پېري.
* هېڅکله هم له چا سره کينه مه کوه وې بخښه او هير يې کړه.
* په فکر سره خلک وځېږه په اينچ او کيلو ګرام سره نه.
* د خبرو زخم د تورې له زخم نه ډېر وي.
* اعتبار د يوې نازکې ښيښې په څېر دی، چې يو ځل مات شي نو دوهم ځل جوړېدل يې ناشونې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Weave mistakes advantageously**

**Into overall pattern**




## ځينې وخت تېروتنې هم د ښه والي سبب ګرځي مګر!

يوازې د هغو خلکو لپاره چې خلاصې سترګې او پراخه دماغ ولري .

ايډيسن د څراغ جوړلو په کوښښ کې سلګونه تېروتنې کړي، مګر همدغو سلګونو تېروتنو د څراغ را منځ ته کولو ته ورساوه .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په خپل فکر د خلکو قایلولو لپاره (۱۲) تګلارې

۱ : غوره دلیل دا دی چې دلیل دې سیند ته لاهو شي، نو ځکه له دلیله ډډه وکړئ.

۲ : د نورو د تګلارو احترام وکړئ هېڅکله مه وایئ چې "تاسو غلط یئ".

۳ : کله مو چې تېروتنه وکړه نو هغه ژر او په خوښې سره ومنئ.

۴ : دوستانه ماحول پیدا کړئ.

۵ : بل انسان ته ژر،ژر د هو،هو ویل پرېږدئ.

٦ : په پوره ډول خلک خبرو ته پرېږئ.

۷ : نورو ته دا فکر ورکړئ چې همدا زما خیال هم و.

۸ : هېڅ شی یوازې په خپل نظر مه څېړه، بلکې د نورو د نظر څرګندولو هڅه هم وکړئ.

۹ : د نورو فکرونو او غوښتنو ته درناوی وکړئ.

۱۰ : هیلې مو لوړې وساتئ.

۱۱: خپل خیالات انځور کړئ.

۱۲ : نور په ازمیښت کې مه اچوئ.

★★★

- ✓ له مخکې نه ما د مطالعې په بحث کې د ژوند لس تجربې زده کړي.
- ✓ هغه کس ډېر مالداره وي د چا خوښۍ چې ډېرې ارزانه وي.
- ✓ کله چې پیل مړ کېږي د هغه له هډوکو نه میډالونه جوړېږي.
- ✓ اورېدل زده کړه او په اورولو پوه شه.
- ✓ کله چې خلک ښه کار تر سره کوي نو ستاینه کې یې ځنډ مه کوئ. د داسې فرصتونو په پیدا کولو کې مخ ته لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"Dot – ers"



## نکـته چيني يا په ګوته کول

د اکبر په غوښتنه بيربل يو انځور جوړ کړ او د هغه مخې ته يې کېښود، اکبر خپل اته نورو درباريانو نه د انځور په اړه نظر وغوښت. له هغوی هر يو په يو ځای کې ټکي کېښود او وې وويل چې انځور له دغه ځايه جوړ نه دی. بيربل هغو ټولو ته ويل چې همداسې يو انځور جوړ کړئ چې کومه تېروتنه ونه لري، مګر هېڅوک دې ته حاضر نه شول. اکبر په ترېو نظر هغوی ته وکتل او ويل "نقطه چين"

★★★

- پوره دينداري په خوارۍ کې ده.
- تصور د علم نه ډېر اړين دی.
- جيګو غرونو ته د ختلو لپاره ضروري ده، چې لومړی خپل تګ کرار وساتئ.
- ښه روغتيا، ريښتني ملګرتيا، وفادار کارکوونکی، ريښتني مينه، ريښتنی عزت داسې کورنۍ پيرلو ته هېڅوک تر اوسه پيدا نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سستي نه د ځان ساتلو لس تګلارې

۱: په پنځه دقيقو کې دا پرېکړه وکړئ چې سبا ته تاسو څه پرېږدئ.
۲: د هغو کړنو نه یو کړنه تر سره کړئ چې له خفګان نه پرې سړی ځان ساتي.
۳: که له یو ستونزې سره مخ شوی نو د حل لپاره یې مناسب وخت وټاکئ.
۴: په غونډه کې د خبرو کولو پر وخت د جرئت له لاسه نه ورکولو لپاره باید وینا له معنا نه ډکه او غوره اوسئ.
۵: داسې وګڼې چې ستا ژوند ډېر نه ډېر یو کال دی.
٦ : د یو کار پشپړولو په اړه مه اندیښمن کېږئ، ځکه چې د زړه له تله کوښښ کول کره خبره ده، نه د غوره پایلو تمه.
۷ : زه پوهېږم......زما امید دی، کېدای شي زه یې وکړی شم .... د دې پر ځای خپل ځان ته دا وو‌ایه چې "زه به دا کوم ".
۸: کوم کار کې چې تاسو ځنډ کوئ، او په هغې کې د ځینو نورو ګټه هم وي نو مشوره ترې واخلئ.
۹: که د حالاتو له وجې د کار کولو وېره لری، نو له ځانه وپوښتئ چې کومه ستونزه ډېره مخې ته درتللی شي.
۱۰ : د یو کار کولو وروسته کوم ډول خوند اخلي د دې په اړه پوره فکر وکړئ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


- دماغ ته د کامیابۍ هنر وښایئ.
- ماتې ته هېڅکله غاړه مه ږدئ ځکه فرصت بیا په لاس درځي.
- عامه پوهاوی ډېر کم وي.
- عامه پوهاوی د تعلیم سبب نه شي کېدای.
- د میړیانو نه غوره پیغام ورکوونکي بل څوک نشته ، په دې پوهېږو چې هېڅ هم نه وايي.
- مات اغزي نه تجربه ترلاسه کېږي.
- تاسو څومره پوهېږئ؟ له دې مخکې باید په دې پوه شئ چې تاسو څومره لږ پوهېږئ؟.
- که یو نېکبخته سړی سیند ته واچوی، نو بېرته به ماهي په خوله له سیند نه راووځي.
- د نورو تاوان یو لوی جرم دی، خو له دې لوی جرم چا ته غیر عادلانه ډول زیان رسول دي.
- غوره احساس پرته له لوړ مقام نشو تر لاسه کوی.
- کارونه پشپړول اړین دي، مگر له دې ډېر اړین نه دي چې کوم کارونه لومړی پشپړول په کار دي.
- د ځان له پرمختگ نه خلکو ته پرمختگ ورکول غوره دی.
- مسئولیت هغه خلک اخلي چې په خوند یې پوهېږي.
- هر شی ستاسو له فکر نه ډېر وخت اخلي نو ځکه له اصلي نیټې نه (۱۰) سلنه ډېر وخت اضافه کړئ.
- کارول شوی کیلي تل ځلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## شپږ لټان

۱: له اجنډا او موخې پرته په تلوار سره ناستو جوړول
۲: د غونډې ناوړه مشري
۳: خپلو او د نورو کارونو کې بې ځایه لاس وهنه
۴ : ټیټ پوړو ته لارښوونه نه کول
۵: پر وخت پرېکړه نه کول
٦ : ډېر زیات حساب کتاب کول

## د وخت ساتلو لپاره شپږ تګلارې

۱ : ژر ویښیدل او ناوخته ویده کېدل ځکه چې تاسو ته د شپږ ساعتونو نه د ډېر خوب اړتیا نشته.
۲ : موټر غوره سپرلي ده، خو موټر ښځې او بچیانو ته ورکړئ او که موټر سایکل در سره وي پر هغه ځان ورسوئ.
۳ : له داسې مراسمو لرې والی په کار دی چې ستا پرته ورته بل څوک هم تللی شي
۴ : په دفتر کې د انټر کام کارول.
۵ : د خپلې ښځې خبره په غور سره وارئ او پلټنې وروسته پرې عمل وکړئ.
٦ : د رئیس په خبره غور وکړئ او در کړل شوی کار یې مخکې له یادولو وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د يو کال کړنډي ژوند افسوس تر لسو کلونو پورې پاتې کېږي.
- کوچنيان د لمدو سيمټو په څېر وي هر څه چې پرې پريمنځې نښه پرېږدي.
- د پيلانو په جنګ کې واښه تر پښو لاندې کېږي.
- د نورو په څيره باندې خوښي راوستل تر ټولو غوره عمل دی.
- که کوربه يې په خلاص ټنډه ښه راغلاست زده کړئ او که مېلمه يې په ادب سره ناسته ولاړه زده کړئ.
- مريض د خپلې تمې په اساس ښه کېږي.
- له زرو خلکو نه نصيحت واخله بيا د زرو خلکو نصيحت رد کړئ او خپله پرېکړه کړئ.
- لاسي صنعت يو وخت غوره وسله وه.
- تر ټولو بشپړ شی "حل " دی.
- زړو او تېرو متلونو کې د هر دور د پوهې خوشبويي شتون لري.
- يو چا ته لقب ورکولو باندې به سل کسان خفه او يو خوشحاله کړئ.
- څوک چې د ميوې شوقي وي ونې ته ختل ورته پکارېږي.
- په ياد ولرئ چې هېرول په اسانه تر سره کېږي
- په لېوالتيا سره ستاينه  قبوله کړئ، ځکه چې په تير وخت کې داسې ډېر خلک له تا سره و  چې د هغوی د کوښښونو په وجه دې مقام ته رسيدلی يئ.
- که غواړئ چې کارونه مو تمام شي، نو  بايد د يادونې مهارت په تاسو کې اوسئ.
- اوريدلو، زده کړې او روزنې تر لاسه کولو چارې بايد هېڅکله تم نه شئ
- له خپلو خلکو سره داسې سلوک  وکړئ چې د هغوی د پرمختګ سبب وګرځې او کوم کار چې مو ور وسپاره  نو پرې اعتماد وکړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



Even If Are On the Righht Track

You Well Get Run Over

If You Just Sit There



## که چېرته تاسو په سمه لاره يئ او ناست يې، نو حرکت وکړه

حرکت د ژوند اساس دی، د روان سیند په څېر حرکت کې اوسئ څکه چې د هغې اوبه د هر وخت لپاره پاکې او رڼې وي. په داسې حال کې چې ولاړې اوبه هېڅ حرکت نه کوي، نو څکه بدبوي کوي. زمونږ په ژوند کې هم د اسوده گۍ داسې کوټه شتون نه لري، نو څکه زمونږ تگ باید هم دومره گړندی نه وي چې د اورگاډي له پټلۍ نه ښکته شوو، تگ باید سم او داسې وي چې د دې په نه نشتون کې هم باید مونږ روان اوسوو دا د هرې طبقې خلکو لپاره گټور دی.

★★★

- ✓ که خلک عطر وشيندې او که خځلې، نو د هغوی عکس العمل به هم همداسې وي څنگه چې تاسو کوئ.
- ✓ په قهر شئ (چغه وکړئ) ! کله چې په دې يقيني وئ چې ستاسو په ټيم کې يو څوک د اړتيا نه زيات يا لږ کار کوي.
- ✓ (۱۵) سلنه بريا د تخنيکي مهارتونو له امله او (۸۵)سلنه بريا د انساني پوهې له امله پيدا کيږي.
- ✓ ښه چلند پيدايښتي نه وي، بلکې زده کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Think people,

Good people,

Committed people,



## د ښو او ريښتينو خلکو په څېر فکر وکړئ

"د يو کال پلان گذارۍ لپاره لمرگلي وکرئ. درى کالو پلان گذارى لپاره ونې وکرئ او لس کاله پلان گذارۍ لپاره انسانان وروزئ".

د ښه والي تر لاسه کولو لپاره ښه والى وغواړئ ډېر ژر به هغه تر لاسه کړى. د همېش لپاره د يو چا ستاينه د خلکو په وړاندې او نيوکې يوازې توگه وکړئ. څرنگه چې تاسو له ښو الفاظو نه کار اخلى نو هغه نه ډېر ښه الفاظو او ټوپک دواړو د يو ځاى ايښودلو نه اخستلى شي. په ياد ولرئ چې د کارکوونکي د هڅولو لپاره بايد مالک ښه کار تر سره کړئ .

★★★

- ✓ يو بلبلې ته د ازادې اظهار په دې منعى نه ده، چې پسرلي کې په لوړ غږ سندرې ترې واورو. او يو گيدړې ته ازادي ورکولو کې له چغو پرته بل څه نشو اوريدلى.
- ✓ په خپل دماغ کې دا خبره هم وساتئ چې کارکوونکو کې (۳۰) سلنه بد اخلاقه، بې دينه او تمبله خلک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- کوښښ وکړئ چې خپل تګ (۲۰) سلنه ګړندی کړئ، نه یوازې دا چې په ځان کې به ښه والی محسوس کړی بلکې خلک به هم له تا متاثره شي.
- د ښو او بدو تر مېنځ توپیر باید شتون ولري.
- ډېر خلک فرصتونو تر لاسه کولو کې ځکه ناکامه کېږي، چې فرصتونه په کوښښ کې نغښتي دي.
- خپلو ملګرو ته ډېر نه ډېر دا کولی شم چې د هغوی ملګرو اوسم.
- ملګري باندې شک یا ګومان کولو نه دا غوره ده چې د هغه له لاسه دوکه شئ.
- غریب هغه دی چې ملګري نه لري ( سیدنا علی "رضی الله عنه").
- زمونږ په ټولنیز ژوند کې تر ټولو لږ حیثیت لرونکی لفظ "زه " او غوره لفظ"تاسو " دی.
- کار یوازې په خواری نه، بلکې په ښکلي ډول یې هم وکړئ.
- په فلمونو کې اتل جوړیدل ښه دي، د کاروبار په نړی کې نه.
- یقین وکړئ چې ستاسو ټیم اتل کېدو په لور روان دی.
- راتلوونکی کارکوونکو پورې تړلې نه وي، بلکې خپله په خلکو پورې تړلې دی.
- هر څوک چې د ستونزې د حل په موخه مشورې ورکوي، د هغو حوصله افزایي وکړئ.
- ډېر خلک چې څه اوري یوازې شل سلنه یې په یاد کې پاتې کېږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



The Speed of the boss

Is the Speed of

The team



## د مشر تګ د ټیم تګ دی


هغه څوک چې توپیر قایموي هغه یوازې لارښوونکی دی

"رالف واټروایمرین" رښتیا ویلي و. "اداره د یو سړي اوږد سیوری وي" تاریخ را ښایې کله چې مشر لږ شان بریا هم ترلاسه کړي، نو هغه ټیم را جمع کوي. تاسو باید په رښتیني ډول هغوی متاثره کړئ، کار ورته ښودل او جذبه ورته ورکول پکار دي تر څو یو ګټور لورې ته لاړ شي.

★★★

- ✓ د فاتحینو په څېر له خلکو سره سلوک وکړئ.
- ✓ ډیسپلین نه پرته د ښو خلکو هېڅ حیثیت نشته.
- ✓ خلک په درې برخو ویشل کېدای شي، اول چې شیان په حقیقت بدلولي، دوهم چې دغه حقیقت د بدلېدو په حال کې ګوري، درېیم چې حیرانه کېږي چې دا څنګه کېږي.
- ✓ په خلکو کې ښه والی ولټوئ او ځان کې د هغه د راستولو کوښښ وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د هڅونې حس به دې لوړ مقام ته ورسوي

یو کاروباري ویل زه د خپل کارکوونکي د ګوښه کولو په فکر کې وم، ځکه چې هغه ډېر تمبل، سست او خوبولی و. ما ترې وپوښتل چې د کاروبار نه د ګوښه کولو پر ځای یې ولې په کاروبار کې نه ساتې؟ هغه راته وویل چې ستا مطلب دی چې کاروبار ته اور واچوم. ما ورته ویل نه په کارکوونکی کې اور پیدا کړه، هغه خوشحاله کړه او هغه وهڅوه. کاروباري همداسې وکړل او اوس د هغه په اړه داسې وړاندېنه کوی چې هغه د اور غونډاری دی.

★★★


- کېدای شي هغه خلک غوره نه وي چې تا سره دي، مګر ستا ګټه په دې پورې تړلی ده چې تاسو له هغوی څنګه کار اخلی
- یو مشر بیرغ په لاس د قافلې مشري کوي، چغې وهل ورته اړینې نه وي
- هر سړی د خپلې ژبې لاندې پټ دی
- خلک تیروتنې کوي کمپوټر نه
- که د نړۍ تر ټولو ښه تخم وکرې، خو تر هغې چې ځمکه چمتو نه وي نو ښه حاصل نشو تر لاسه کوی
- (۹۰) سلنه کار ستاسو ټیټ پوړي هم کولی شي، تاسو یوازې (۱۰) سلنه کار باید تر سره کړئ، کوم خلک چې په دی فرمولې عمل کوي نو خپل منزل تر لاسه کولو کې حق په جانب دي
- خلک ستا په خلاف نه دي هغوی خو یوازې د ځان په اړه فکر کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


- که چېرې نا اهله کارکوونکی نه سمېږي، نو دغه کارکوونکی د دندې وړتیا نه لري، نو انتظار مه کوئ یا خو ورته د وړتیا په اساس دنده پیدا ورکړئ یا یې له دندې گوښه کړئ
- د کارکوونکي کار په خپله مه کوئ هغه ته لارښونه وکړئ
- انسان کارکوونکی ساتو، د هغه تېر وخت نه
- که ته ماهره یې نو سترگې پرې پټې کړه، که چېرې ستاسو کارکوونکی بد شي
- د کار کول تر ټولو غوره لاره دا ده، چې خپل ټیټ پوړي په خپلې طریقې کار کولو ته پرېږدی
- کوم سړی چې د وړو، وړو خبرو برداشت نه شي کولی، هېڅکله لوی کارونه نشي تر سره کوی
- خلکو سره کار کول ستونزمن دی مگر ناممکنه نه
- دا هیڅ خبره نه ده چې هغه څومره کار ترسره کولی شي. په کاروبار کې پرمختگ هغه وخت تر لاسه کولی شئ چې نورو ته هم پرمختگ ورکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library






## خبره يوازې د فکر کولو ده


"که په اداره کې له ځانه لږ استعداد لرونکي خلک وګمارو دا به کمزورې اداره وي، خو که له ځانه لوړ استعداد لرونکي خلک په دنده وګمارو نو  مونږ به د غوره خلکو د ادارې په نوم ياد شو

★★★

- کوم کار چې يو نارينه په يوه ساعت کې ترسره کولی شي هغه دوه انجونې په دوو ساعتونو کې ترسره کوي.
- که کارکوونکی دې هوښيار وي له دې بله لويه خوښي نشته.
- يو څا ته ځينې شيان هغه وخت ورکړئ، کله چې هغه يې په کوښښ کې ناکامه شي.
- پند اخيستل کېږي، ورکول کېږي نه.
- زمونږ د ټولو ښځو او نارينو لومړی ستونزه زده کول نه ،نه زده کول دي.
- د نورو په تېروتنو سترګې پټې کړئ په خپلو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## هېڅکله داسې کارکوونکی مه ساتئ چې يوازې د پيسو لپاره کار کوي

★★★

* د يو کار په اړه فکر کولو نه وروسته داسې څرګندېږي چې د يو چا لپاره د تفريح په څېر وي نه د مشقت او زحمت په څېر.
* دندې او راتلونکي کې په هفته وار ډول (۴۰) نه تر (٦٠) ساعتونو تو‌پير دی.
* ډېر خلک په دنده کې تر تقاعد پورې رسېږي.
* په مسلک کې د يو ځوان نيمکرغي په دې کې ده چې مخکې له مخکې دا پرېکړه وکړئ چې څه بايد وکړئ او بيا د داسې کس په لټه کې شئ چې د کار په مقابل کې تنخوا ورکړئ .
* کارونو کې لومړی هغه کار وکړئ چې ډېر د منلو وړ وي.
* ډېر خلک داسې وي چې د يو دندې موندلو وروسته د نوی دندې د موندلو هڅه نه کوي.
* انساني فطرت داسې دی، چې د خپل زړه د خوښيو حوصله افرايي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## که ممپلي درسره وي نو بېزو پرې نيولی شئ


ښه تنخوا ورکړئ د لږې تنخوا کارکوونکی ډېر قيمته تماميږي. که چېرې له مونږ نه هر يو له ځانه ټيټ پوړی کارکوونکي ګمارل پيل کړي، نو مونږ به د ځنګليانو لښکر جوړ کړی وي او که چېرې له له ځان نه غوره انتخاب وکړو، نو د لوړو شخصيتونو اداره به جوړه شي.

★★★

- کله چې يو څوک د کاروبار په سلسله کې چېرته ليږې، نو سخت دريزه سړی بايد ستاسو انتخاب نه وي.
- يو کاروباري سړی داسې وايي چې د کاروبار علم همدومره اړين دی څومره چې د کرنې لپاره زرخيزي ( د ځمکې ښيرازي ).
- په شتون کې تعريف کې مېنځګړيتوب وکړئ او د نه شتون کې په خلاصه توګه يې تعريف وکړئ.
- چونګښې له ځان نه فيل جوړاوه چې و چاوديده.
- مرغۍ په طاووس باندې زړه سوځوي چې د هغې د لکۍ بوج ډېر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






### "خلک هم د منو په څېر دي !"

کله چې تاسو داغي منه اخلی، نو لومړی يې په چړی باندې داغ لرې کوی . (۹٦) سلنه داغونه ډېر ژور نه وي. بې داغه منه ډېره قيمته وي. په ياد ولرئ چې ستاسو ډېر ملګري، خپلوان هم د منو په څېر دي بايد نيمګړتياوی يې په دماغ او د عقل په چړې سره لرې کړئ او د هغوی طاقت او زور دوه اړخيزه ګټو لپاره وکاروئ

### خلک خپل کار سره هغه وخت خوشحاله وي کله چې!

- ❖ د هغې قابل وي
- ❖ کار کې منځګړيتوب ساتي
- ❖ هغوی ته معلومه وي چې په دې کې څنګه کاميابه کيږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که کارکوونکي مو د دې لپاره له تاسو سره جنګ کوي چې تاسو غلط يئ نو دا ښه خبره ده. که ستاسو په شتون کې کارکوونکی په خپل موقف باندې جنګيږي. نو دا هم ښه خبره ده خو بايد ستاسو سترګو لاندې وي په پټه نه وي
- که پېريدونکي  ته ښه شی ورکړی، نو هغه به تاسو ونازوي
- څوک چې په پېريدونکي ډېر باور کوي، نو هغوي ډېر خوښ ساتي
- که له مشتريانو سره  ليدنه نه کوی نو تاسې هغوی دې ته اړ باسې چې ستاسو له حريفانو سره ويني
- نوی پېريدونکی پيدا کول، د پخواني پېريدونکي پر ځای ساتلو نه شپږ ځلې ستونزمن دی
- طبعي خبره ده، چې پېريدونکی احسان هېروي له پېريدونکي  تمه کول د ځان غولول دي
- ګڼه ګوڼه کې  ډېر سرونه وي خو دماغ نه وي
- غوره خلک تل غوره خلک خوښوي، او غوره مديران د غوره خلکو لپاره کار کوي
- يوه اداره هغه وخت  ترقي کوي کله چې يې کارکوونکي يې په تفصيلاتو باندې پوره فکر وکړي او کارونه له اوله جوړ کړي او ښه انساني زور مظاهره وکړي
- د يو کاميابې ادارې راز د هغه پيريدونکي پورې اړه لري
- ډېرو خلکو سره وينئ او ډېر پېريدونکي پيدا کړئ
- "کيداې شي پيريدونکي سم وي" . دا جمله د بريا ضمانت ده

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د هولي په اړه نظريه

د "هولي" په ميله کې کله چې تاسې په نورو باندې رنګونه پاشی. نو تاسې به د هغه دوه برابره مينه په لاس راوړی. په همدې ډول د تل لپاره د نورو په اړه ښه فکر وکړئ او د هغوی په نه شتون کې خپل جذبات په خلاص ډول اظهار کړئ. کله چې هغه هم په همدې ډول اظهار وکړئ، نو ستا زړه به له خوښې نه په ټوپونو شي.

★★★

- پېريدونکی د هغه له پوښتنو معلوم کړئ له ځوابونو نه.
- په ډېر پام سره د کارکوونکو په اړه له خپلو ځانګړو پېريدونکو معلومات تر لاسه کړئ.
- يو پېريدونکي ته له دې بله د خوښۍ خبره نشته چې يو دوکاندار يې د ستونزې د حل لپاره له خپله کاره هم تېر شي.
- د ځان د غورځولو پرته بل څوک نشي غورځولی.
- خپلو کارمندانو خيال وساتئ هغه به ستاسو د پېريدونکو خيال وساتي.
- د خپلو پيريدونکو د رايې احترام وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د لرګي او زردکې توپير


د خوسکي غوچل ته د راستلو لپاره تاسو هغه بې ځايه راکاږی. غوره لاره دا ده چې د زردکې په ښکاره کولو د خوراک به تمه ورو، ورو هغه دننه راولئ

پيله يا نتيجه: لښته هر وخت په کار نه راځي ځينې وخت د نورو رضا کولو لپاره "عقل "هم په کاريږي .

- پېريدونکي سره پخلاېنه يا روغه جوړه له بحثونو نه غوره دی.
- پېريدونکي لپاره تر ټولو قوي دليل دادی، چې هغه بايد له پامه ونه غورځول شي.
- که غواړی چې پېريدونکی ستاسو به اړه فکر وکړي، نو لومړی تاسو د هغوی په اړه فکر وکړئ.
- د يو غوره اداري لپاره پېريدونکی مرسته کوونکی دی.
- پېريدونکی باندې هېڅکله تنقيد مه کوئ، ځکه چې په داسې حالتو کې مونږ هم داسې وو.
- پېرېدونکی يوازينۍ مرغۍ ده، چې د تل لپاره د سرو هګۍ اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**بد حالت هېڅکله نه سمبړي، مګر ځواکمن خلک يې سمولی شي**

**ستونزې يوازې د کمزورو خلکو لپاره وي د قوي خلکو لپاره نه**


★★★

- پېريدونکی به هم د دې قابل نه وي چې نورو خوښه معلومه کړي.
- هغوی ته ور زده کړئ چې پرېکړه څنګه کېدای شي، خو هغوی مه مجبوروئ ځکه هغوی هغه څه انتخابوی چې خوښ يې شي.
- د پېريدونکو شکايتونه مشورې وي.
- بد حالت ته تلو نه غوره دا دی، چې پر وخت او په خوښۍ سره د پېريدونکي تر څنګ لاړ شئ.
- هره ورځ د پېريدونکي سره ښه وکړئ او ځان ته د اتل تصور وکړئ.
- هغه خلک هم د پېريدونکو خدمت کوي چې د دې لپاره ولاړ وي او انتظار کوي چې پېريدونکي دننه راشي.
- هغه وخت کاروبار پاتې کېدای شئ، کله چې پېريدونکو کې ورځ تر بلې ډېروالی راځي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library







## د کارکوونکو د کنټرول لپاره

په هرې ادارې کې کارکوونکي په درېو برخو وېشل کېږي. علاقه لرونکي کارکوونکي، بې طرفه کارکوونکي او داسې کارکوونکي چې وايي دا ناممکنه ده. علاقه لرونکي کارکوونکي هغه دي چې نه يوازې (۹) نه تر (۵)پورې کار کوي بلکې (۵) نه تر (۹) پورې هم په خوښې سره کار کولو ته تيار وي. کله چې هغوی د کار ځای ته ورځي نو وخت په نظر کې نه نيسي که چېرې د هغوی جذبه برقراره وساتئ، نو هغه ستاسو لپاره ګټور ثابتيدای شئ. بې طرفه کارکوونکي هغه وي چې د نورو نقل کوي که چېرته نور ملګري يې په کار کولو کې صادقه وي، نو هغه هم د هغوی په څېر ځان ښکاره کوي. پداسې حال کې چې "ناممکنه" کارکوونکي هغه وي چې به هره اداره کې ستونزې پيدا کوي که چېرته داسې کارکوونکو سره مخ شوئ وېرېږی مه صبر او حوصله ښکاره کړئ او د مايوسۍ لپاره تيار اوسئ او څه چې تاسو کوی هغه په سمه توګه تر سره کړئ.

- مطلبي اوسئ، مګر خپل پېريدونکي سره صادقه اوسئ.
- مصرف کوونکي د ارقامو په څېر وي او پيريدونکي د کاروبار په څېر.
- يو انځور له زرو لفظونو سره برابر وي او يو لېدنه د لس زرو لفظونو سره برابره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## په احتياط سره !!!

"په احتياط سره يې کېږدئ" دا هغه لفظونه دي چې په داسې کارتن باندې ليکل شوى وي چې نرم او نازکه شيان پکې ايښودل شوى وي. که چېرته له داسې شيانو سره بې پرواي وشي نو هغه به مات وينې، نو د دې لپاره چې په هغه باندې داسې لارښوونې ليکل شوى وي، چې په احتياط سره يې پورته کړئ. که چېرته مونږ شاوخوا ته وګورو نو د نرمو شيانو په څېر په ډېر خلک تر سترګو شي چې هغوى سره احتياط کول په کار وئ. راکړې ورکړې کې لږ شان بې احتياطۍ سره هم د هغوى زړه ماتېږي. او دا هغه خلک دي چې هر څه د خپلې خوښې خلاف تر سره کوي او د دوى زړونو کې تل لپاره غوسه نغښتي وي او د يو چا وړه خبره هم له پامه نه غورځوى نو دا خلک په راکړه ورکړه کې بوج وي. په يو ټولنه کې د قدر ترلاسه کولو لپاره بايد د اوسېنې په څېر وجود وي که چېرته ورسره بې احتياطي وشي نو د هغه په صحت باندې بايد کوم تاثير ونکړي او نه مات شي. همداسې خلک په ټولنه کې ژوندي پاتې کېداى شي، چې جوړښت يې داسې وي چې د ستونزې او بې ځايه سلوک پرې هيڅ تاثير نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالک تګلارې

۱: مالک سم وي.

۲: مالک تل سم وي.

۳ : که کارکوونکی سم هم وي  باید بیا هم لومړی او دوهم اصول په پام کې وساتئ.

۴: مالک ویده کېږي نه، استراحت کوي.

۵: مالک خوراک نه کوي، ځان تقویه کوي.

٦ : مالک څښاک نه کوي، خپله تنده ماتوي.

۷ : په مالک ناوخته کېږي نه، لږ ځنډېنې کېږي.

۸ : که وغواړي نو د مالک کار هېڅکله نېمګړې نه پاتې کېږي، او د هغه شتون ډېر اړین وي.

۹: مالک په دفتر کې هېڅکله اخبار نه لولي، یوازې ځان خبر ساتي.

۱۰ : مالک هېڅکله له منشي سره ډېر اړیکې نه ساتي، هغه یوازې لارښوونه کوي.

۱۱: څوک چې د مالک دفتر ته خپل نظرونه راوړي، هغه ته پکار دی چې د بېرته تګ پرمهال  د هغه په مغزو کې د مالک نظرونه وي.

۱۲: د  هر چا په اړه مالک فکر کوي.

۱۳ : هر څوک چې ډېر د مالک په څېر فکر کوي، نو پرمختګ کوي.

### خلکو سره د را کړې ور کړې درې بنسټيز تکتیکونه

- تنقید، غندنې او شکایاتونو نه ځان وساتئ.
- په صداقت سره هغوی وستایئ.
- په نورو کې هم د علاقه مندی جذبه پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* له پېريدونكو خبره ژر هېرېږي د دې لپاره تل يې خدمت كوئ.
* د پېريدونكي خوښ ساتل ستونزمن نه دی. هغه پرون هم ستا ښاغلی و نن هم او سبا به هم پاتی وي.
* د پېريدونكي اطمينان ستاسو لپاره گټور دی ځكه چې مطمئن پېريدونكی ستاسو "لاس پلورونكی(سيلز مين)" جوړيږي.
* پېريدونكي ته د خپل پوښتنې ځواب په كار وي، هغه ظاهري ځلا او ښكلا پسې نه گرځي.
* نوو پېريدونكو ته دومره درناوی مه كوئ چې پخواني درسره كينه پيدا كړي.
* د كاروبار هدف د پېريدونكو پيدا كول وي، گټه پخپله پيدا كېږي.
* د ماهي نيولو لپاره چنگگ كې دانه ايښودل كېږي.
* د خپلو پېريدونكو د زړه د لاس ته راوړلو لپاره يوازينې لاره دا هم ده چې تاسو د خپل پېريدونكي يوه ښه خبره چې د بل پيريدونكي په اړه يې ويلي وي په ياد وساتئ او هغه ته يې ووايه.
* پېريدونكي خوښ ساتل ستونزمن كار نه دی.
* كله چې كوم پېريدونكي خپل شكايت په ليكلي ډول يا زنگ وهلو سره وكړ، هغه غواړي چې ورڅخه واريدل شي، نو ښښنه ترې وغواړئ او كه چېرې كومه تېروتنه در وښائي، نو هغه بايد سمه كړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خلکو سره د وسېدو لپاره تګلارې

۱: په خپله ژبه کنټرول وساتئ او ځان او خپلو کړنو باندې پام وساتئ.
۲: تل وعده لنډه کوئ او هغه حتماً تر سره کوئ.
۳: د مثبت تنقید او د ستایلو عادت ځان کې پیدا کړئ.
۴: د نورو د خوښې اظهار وکړئ.
۵: خوښ اوسئ، خفګان، غم او نا امیدۍ نه خپله خوښې لرې وساتئ.
٦ : دماغ پراخه وساتئ، مشوره کوئ، مګر بحث نه.
۷: نور پرېږدئ چې ستاسو ستاېنه وکړي او د نورو تېروتنې تر هغه وخته پورې مه په ګوته کوئ تر څو چې اړتیا یې نه وي.
۸: هېڅکله د ځان په اړه بد فکر مه کوئ.
۹: هر چا ته اهمیت ورکړئ او د نورو په تاوان مه خوشحالېږئ.
۱۰: هغه څه چې درکول کېږي نا شکري پرې مه کوئ خپل ځان سنبال کړئ بریا او خوښې به خپله ستا لورې ته راشي.

★★★

- تر هغې پورې ګټه نه شی کولی ترڅو په کاروبار کې داسې فکر ونه کړئ چې ستاسو پېریدونکي به تاسو پرېږدي.
- کوښښ وکړئ چې پېریدونکي سره وګرځئ، داسې نه چې پېریدونکي له تاسو سره وګرځي.
- د یو پېریدونکي له لاسه ورکولو سره داسې جذبه پیدا کړئ، چې د نورو پېریدونکو پیدا کولو کې هڅه وکړئ.
- کله چې پېریدونکی مو داسې ووایي، چې له یو ستونزې سره مخ یم، نو کېدای شي مطلب یې دا وي چې پام وته نه کېږي. نه ورته یو شی ارزانه او نه مفته خدمت په کار دی، یوازې غواړي چې له هغه ډېر څه واورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- نوی پېرېدونکی یوه ښکلی تجربه ده، مګر له لاسه ورکول یې بده تجربه، نو څه باید وشئ چې پېرېدونکی له لاسه ورنکړئ.
- تل د کاروبار لپاره د حساب کتاب ساتئ، ایا کله مو د پېرېدونکو لپاره هم د حساب کتاب ساتلئ؟.
- پېرېدونکی زمونږ تر ټولو ښه ملګری دی.
- که ګټه غواړې، نو خندا خپره کړئ.
- موسکا یو نړیواله ژبه ده، چې د نړۍ هر پېرېدونکی پرې پوهېږي.
- د نړۍ هر کاروبار او بیا په خاصه توګه "خدمتي کاروبار" په دوو خبرو ولاړ دی. پېرېدونکی پیدا کول او هغوی برقراره ساتل.
- د پېرېدونکو سره د کارکوونکو دوستانه سلوک او هڅونه هغوی بیا په لومړي راتلو باندې مجبوري.
- که مقابله نشی کولئ، نو کاروبار پرېږدئ.
- له پېرېدونکي پرته نه کوم ښاغلی وه، نه شته او نه به وي.
- میډال ګټلو لپاره جنګ کول په کار دئ.
- که یو ځل مې دوکه کولی شي نو شرم ورته په کار دی، که بیا بیا ځلې مې دوکه کوي، نو ماته شرم په کار دی.
- کوم خلک چې وایي"پېرو یې" هغه یې هېڅکله نه شي پېریدلی.
- په سخته کې همت "نیمي پلورل " دی.
- ډېر "پلور" په لومړیو دریو دقیقو کې ترسره کېږي یا پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


If you can't stand the heat,
Get out of the kitchen.



## که چېرې گرمي نه شئ زغملی، نو له پخلنځي را ووځئ

هنري ترومين ويلي وه "که چېرې له سوځيدو وېره لرئ نو پخلنځی پرېږدئ. که د اصولو او نظرونو لپاره جنګېږی، نو له بد وخت نه وېره هم مه کوئ. په سخته کې حوصله له لاسه مه ورکوئ، چې له مونږ نه ډېر خلک داسې کوي. که په ژوند کې اسانتيا غواړئ، نو ژوند به اسانه شي، مګر خوندور به نه وي.

★★★

- ✓ ستاسو چلند د پېريدونکو د اطمينان معيار دی.
- ✓ ستونزمن کار نه دی چې له يو چا پېريدونکی جوړ کړئ، يوازې له يو ناممکنې تګلارې نه ممکن تر لاسه کول ناممکنه دی.
- ✓ څرنګه چې مو د کارکوونکو خدمت وکړ، نو د پېريدونکو په برخه کې به هم هغسې خدمت زيات شي.
- ✓ تل پېريدونکي ځان غوښونکي وي او دا کومه ستونزه نه ده ځکه هغوی غواړی چې خلک يې هوښيار وپېژني. هغوی دا نه غواړي چې احمقان ياد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د خپلو ټیټ پوړو څخه کار اخیستولو کې شپږ لویې ګټې**

۱: خوښو کارونو ته د ګټورو کارونو پرتله لومړیتوب ورکولو ته ګټې.
۲: د مسولیت احساس پیداکولو ته ګټې.
۳: مشوره اخیستلو کې ګټې.
۴: باخبره ساتلو کې ګټې.
۵: د تنقید کولو ګټې.
٦: ستونزو او د شکایتونو په اوریدو(تسلیت) کې ګټې.

**د ځان په څېر د خلکو جوړولو لپاره شپږ تګلارې**

۱: خلکو کې په ښه ډول دلچسپي ښکاره کړئ.
۲: موسکا وکړئ.
۳: په یاد ولرئ چې هر کس لپاره خپل نوم په هره ژبه د نړۍ تر ټولو ښکلی او خوږ لفظ وي.
۴: ښه اویدونکی اوسئ او نور دې ته وهڅوئ چې د ځان په اړه خبرې وکولای شئ.
۵: د نورو د خوښۍ لپاره خبرې وکړئ.
٦: تل صادقه اوسئ او نورو ته اهمیت ورکړئ.

★★★

- که ستاسو جال له نورو غوره وي، نو خلک به ځان در ورسوي که چېرې په ځنګل کې هم وی.
- سیالي مو څه دښمن نه دی چې ترې منډه کړو. په نیمه لاره کې ورسره وګورې او امتحان قبول کړئ .
- مخالفینو سره مو تل ګورئ، ځکه چې تر ټولو مخکې همدی تاسو کمزوزي معلوموي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د مشرۍ لپاره غوره تګلارې

۱: پیل تل په صادقانه او ویاړ سره وکړئ.
۲: په غیر مستقیم ډول د خلکو په تېروتنو پام کوئ.
۳: نورو باندې انتقاد نه مخکې په خپلو تېروتنو پام وکړئ.
۴: سمدلاسه امر کولو نه مخکې باید پوښتنه وکړئ.
۵: نورو ته د ځان د پاکولو فرصت وکړئ.
۶: ښه والی که هرڅومره کوچنې هم وي له زړه او صداقت سره د هغه ساینه وکړئ.
۷: د نورو د ژوندي پاتې کېدو لپاره هغوی ته شهرت ورکړئ.
۸ : حوصله لوړه ساتئ او ستونزې په سر مه سپروئ.
۹: کله چې مو کار نورو ته وسپاره، نو هغوي پرېږدئ چې په زړه یې وکړي.
۱۰: که مقابله نه تر سره کوی، نو د مقابلې لپاره ځای پیدا کوې.

★★★

- مشري هر کس غواړي، مګر په هغو لارو نه ځي چې یو عام کس هم د مشرۍ تر منزله رسوي.
- خپل سیال سره مینه وکړئ، چې همدا مینه به هغه لیونی کړي، په هغه باندې انتقاد مه کوئ ځکه چې په داسې حالاتو کې تاسو هم د هغه څېر وی.
- ډېرې ستونزې مو کاروبار لپاره خنډ جوړېدلی شي، او هېڅ قانون دا یقین نشي درکولی چې کاروبار به تل پاتې کېږي
- سیالۍ نه د ځان ساتلو تر ټولو غوره لاره دا ده چې د خپل پېرېدونکو خدمت وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اړیکو د ښه ټینګښت لپاره لس تګلارې

۱: خلکو سره مینه وکړئ. په نړۍ کې له دغو مبارکو لفظونو نه ښکلي لفظونه چېرې هم نشته.

۲: موسکا وکړئ ځکه چې په موسکا کې یوازې د بدن (۱۴) غړي کارېږي او په غوسه کې (۷۲)غړي.

۳: تل هر کس په خپل نوم یادوئ، ځکه چې د هر کس لپاره په نړۍ کې له خپل نوم نه ډېر ښکلی او خوږ لفظ بل هېڅ نشته.

۴ : د نورو مرسته کوونکي جوړ شئ او د ملګرتیا ساتلو کوښښ وکړئ.

۵: تل خوښ اوسئ او څه چې وایې هغه وکړئ او هغه رېښتینې خوښي وګڼئ.

٦ : خلکو کې تل په رېښتینې ډول دلچسپي وښایئ،که چېرې کوښښ وکړئ، نو هر کس به درته ښه ښکاره شي.

۷: ستاینه په سخاوت سره وکړئ او انتقاد په احتیاط سره وکړئ.

۸: د نورو د احساساتو احترام وکړئ د شخړو لپاره درې لارښوونې شتون لري، ستاسو، د نورو او سم.

۹ : تل نورو سره مرسته وکړئ، ځکه په ژوند کې نورو سره مرسته کول ډېر اهمېت لري.


۱۰ : تل له صبر او زغم څخه کار واخلئ او په انتقاد کې لږ څه طنز وکاروئ. او بیا وګورئ چې تاسو ته د دې څو چنده بدله ترلاسه کوې.

★★★

- ✓ هغه څوک ډېر غوره وي چې دښمن ته ډېر اهمیت ورکوي.
- ✓ مونږ هم طاقت او کمزوري لرو او مخالفین مو هم که چېرې مونږ په خپل طاقت سره د هغوی کمزوري وپلورو نو سیالي ګټلې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## په ګډه کار د ټولو لپاره ګټور وي

- ✓ کوم کار چې یوازې نشی تر سره کولی، هغه د نورو په مرسته ترسره کولی شئ.
- ✓ هېڅوک د بل چا لپاره ځراغ نه وي، لګېدلی ځراغ د تیلو په کمېدو سره مړ کېږي.
- ✓ زمونږه پالیسي د مخالفینو سره په نرخونو کې نه ده، زمونږ هدف نرخونه نه د معیاري شیانو جوړل او هغه پلورل دي.
- ✓ نرخ ټاکل به ستونزمن نه وي که چېرې پېریدونکو لپاره شیان د نرخونو په نسبت ډېر ښه جوړ کړئ.
- ✓ تلوار وکړی، مګر په ورو سره.
- ✓ راکړه ورکړه د پریکړې بدیل نه دی.
- ✓ د ادارې د ډیسپلین لپاره کیفیت غوره ذریعه ده.
- ✓ که لګښتونه مو ډېرېږي، نو د پلور ډېروالي سره نرخونه کم کړئ.
- ✓ خفګان پرېږدئ، پلورل پیل کړئ.
- ✓ قهر هتمن، خو په صبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**تر هغې چې کاغذي ليکنې تر سره نشي کار نه پشپړېږي !!**

ډېر خلک ليکنې او کاغذي کارونه په راکړه ورکړه کې بې ځایه ګڼي او دا فکر کوي چې په راکړه، ورکړه او کار کې دا یو بې ځای شی دی، مګر د هغوی خبره پر خپل ځای دی. خو داسې خلک بیا وروسته د کاروبار په ورانیدو باندې وېر کوي.

★★★

- ✓ " که ورپسې لاړ نشئ، نو تر لاسه به یې نه کړئ".
- ✓ "د یو په مقابل کې دوه تر لاسه کړئ".
- ✓ "سبا" یوه بله ورځ ده".
- ✓ اعلانونه ژمنې کوي او کارکوونکي هغه تر سره کوي.
- ✓ ډېرې ستونزې د کارکوونکو له وجې نه، بلکې د سیستم له وجې پیدا کېږي.
- ✓ څوک چې له تاسو پېریدونکو اړولو کې بریالي کېږي دا د هغوی حق دی چې خپله بریا هغو ټولو خلکو لپاره نشر کړي چې څوک غواړي له هغه واوري.
- ✓ څومره خلک چې دربانديې باور کوي، هغه اندازه خلک ستا پېریدونکي جوړېږي.
- ✓ له لاسه تللی پلور اخري کوښښ سره بېرته تر لاسه کولای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د یو ښه مدیر لپاره د حیواناتو له نړۍ ګټور درس

۱: مدير لپاره علم، معلومات، تجربې، مهارتونه او باور لاس ته راوړلو لپاره د زمري په څېر زړورتيا په کار ده.

۲: له شکايت پرته د خره په څېر بايد خپل کار ته متوجې شئ.

۳: د سپي په څېر بايد له خپلې ادارې، بادر او خپل ځان ته وفاداره واوسئ

۴: د لګ، لګ په څېر فرصتونو باندې نظر ايښودل پکار دئ.

۵: د عقاب په څېر د حالاتو نه جاج اخيستل پکار دئ.

۶: د پيل په څېر لوی دماغ ساتل په کار دي، چېرې چې د غټو غرونو او وړو سترګو نه دننه کېدونکو خيالونو ساتنه وشي.


★★★

- هر څوک د يوې روپۍ شی په (۹۹) روپـيـو باندې پلورلې شي.
- کوم سپی چې منډې رامنډې وهئ، هتمن هډوکی پيدا کوي.
- څوک چې ډېرې خبرې کوي ويلو ته لږ څه لري.
- په موسکا چې نه پوهېږي، دوکان خلاصول ورته نه دي پکار.
- ارزانه کېدل غلط تجارت دی.
- تقليد مخلصانه غوړه ماري ده.
- يو څه پلورل اسانه کار نه دی، مګر اصلی امتحان د ځان په پلورلو کې دی
- د مرستې تګلاره، د ګټې نه مخکې.
- د محصولاتو د پلور لپاره غوره لاره دا ده چې په خدمت کې ښه والی راولئ.
- د پلور لپاره سروس عسکر ته د حکم په څېر دی.
- که له ښه قلم رنګ لاړ شي، نو هغه هم بې کاره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



If I don’t go, I don’t get



## ″ که زه لاړ نشم، نو تر لاسه به یـې نکړم″

یو کس کښتی چلووله، کله چې ترې وپوښتل شو چې د ورځې څو پیرې کـوی، نو هغه ځواب ورکړو″څومره چې کولی شم. ځکه څو پیرې چې کوم، نو پـه همغـه اندازه پیسې به مې جیب ته راشي. او که همداسې کیناستم نو هېڅ بـه ترلاسـه نکړم″ په دې خبره باید ځان پوه کړو، ځان لپاره، خپل اقتصادي حالتو لپاره، خپل کاروبار او خپلې خوښۍ لپاره.

★★★

- ✓ یو خفه پېرویدونکی د سپک شي په څیر دی، چې د ځنګل د اور په څېر پراخیدلی شي
- ✓ د نن وړې بریاوې ځینې د سبا د لوې بریاوې ثابتېدلی شي
- ✓ کوم اړر چې تاسو سره دی هغه اهمیت لري، نه هغه چې تاسو یې تر لاسه کول غواړی
- ✓ ″ فکر وکړه چې پیسې یې ببرته درکړی او لږ نورې یې هم درولېږلی ″
- ✓ او دوکان بندوي او مدیر ته کنځلی کوي، نو تاسې به داسې راضي شئ ښاغلیه پېرویدونکیه!
- ✓ د کوم اړر ترلاسه کول چې ستونزمن وي، هغه ستا د بریا راز جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



The Ratio

Retween hard work

And luck is



## د ښه او بد قسمت تر مېنځ ۳۰ /۷۰ نسبت دی

که یو عمل وکړې، نو یو عادت پرې کولو ته پیدا کېږي، که یو عادت وکړې نو یو کردار پرې کولو ته موندل کېږي او که یو کردار وکړې نو یو برخلیک پرې کولو ته پیدا کېږي. خوارۍ نه خپل عادت جوړ کړئ د دې پرځای چې تاسو خالی لاس ناست یې او دا انتظار کوی چې میوه به په خپله ستاسو لمنې کې وغوځېږي. هېڅکله داسې نه کېږي، به خولو مو خپل برخلیک ته اوبه ورکړئ او بیا وګورئ چې دا څنګه لوېږي او تاسو ته به میوه درکړي.

په هغو خلکو قسمت مهربانه وي چې د جنګ، لټون او د ښودلو ماده پکې موجوده وي نه دا چې یوازې د ګټې. معجزې یوازې د هغو خلکو لپاره وي او ناممکن یوازې د هغو خلکو لپاره ممکن کېدای شي څوک چې په رېښتینې ډول خواري وکړي او هېڅکله ترې تر شا نشي.دا په یاد ولرئ څه چې غواړی د هغې کوښښ وکړئ، نو ځمکه به پخپله تاسو ته خزانې مخې ته کړي.

★★★


- ✓ په پلور کې له هوښیارۍ کار اخیستل کېږي، مګر ستاسو هوښیارۍ لپاره غوره تربیت اړین دی.
- ✓ که پلورلو کې کوم راز وي، نو هغه دا دی چې د پېرویدونکو په خوښه پوه شئ او شیانو ته په خپله او د هغوی په زاویه وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- هېڅ يو شی تر هغې نه پلور کېږي تر څو چې ټولې نېمګړتياوی يې ختمې نه شي.
- د نن کار سبا ته مه پرېږدئ.
- که په يو څه پوهېږی او که نه پوهېږی، خو صادقه اوسئ.
- هوښيار کاروباری له لاسه تللي اډر ته د زلزلې په څېر ګوري او هغې لپاره ځان تياروي.
- (۹۰) سلنه فرض مو دا دی چې د پېرويدونکو ستونزو ته غږ ونيسئ، (۷) سلنه دا چې پرې عمل وشئ او (۳) سلنه دا چې هغه باوري کړئ.
- ښه پلورونکی هغه دی چې د ستونزو د حل لاره ورته معلومه شي.
- ملګرو هېڅکله داسې مه وايئ چې يوازې زه قناعت ورکوونکي نه يم نور کارکوونکي هم شته.
- مړی د تل لپاره په سکون او ارام کې وي.
- پلور يو سپېڅلې دنده ده ځکه چې د اخيستونکو اړتياوې پوره کوي، لکه ډاکټر چې د يو مريض خيال ساتي.
- پلور په ريښتيې ډول تر سره کړئ، کنه خپل وخت مو بربادوئ او د مقابلی فضا برابروئ، کار په ښه ډول تر سره کړئ او اډر تر لاسه کړئ.
- خطر چې نه وي، نو تر لاسه به يې نه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**کار، خو په ډله**

تر څو چې يو کس بې غرضه کار کوي، نو کار يې هېڅ معنا نه لري. کار کولو لپاره ټيم جوړ کړئ او له ځان سره قوي خلک راغونډ کړئ، د تيلو د کمپنۍ يو امريکي مالک جی پال کيټي ويلي وه "هغه خلک چې لوړ استعداد لري، تل د راتلوونکي او تاوان په اړه فکر کوي او ګټه خوښوي، نو د همدې لپاره د خپل کار لپاره د کامیابو خلکو ګروپ جوړ کړئ تر څو خپل اهدافو ته ورسېږئ.


★★★

- هېڅکله مه غورځېږه هره بريا له غورځيدو پرته د جګېدو په حال کې تر لاسه کېږي.
- خبرو کولو نه خاموشي غوره ده.
- د ماهي لپاره ښه ښکار هغه دی چې د اوبو لاندې برخې ته ورسېږي.
- د يو پلورونکي لپاره په علم کې پراخوالی ښه کار او غوره پلور دی.
- په نورو شکايت کول په ځان د بې کيفيتی اعلان دی.
- تل د ناکامۍ لاملونه په پلورونکي کې وي، مګر هغه يې په پېرويدونکو کې لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


If you go through the wars,

You get the Madals.



## د میډال ګټلو لپاره تاسو ته جنګ کول پکاریږي

بحري کیښتۍ بندرګاه کې په امن وي، مګر هغه د دې هدف لپاره نه جوړیږي. منزل هغه وخت تر لاسه کیږي کله چې کراره اوبو ته ښکته شئ او د طوفاني موسم او څپو سره مقابله وکړئ.

همداسې یو ساتونکی هغه وخت مډال تر لاسه کوي کله چې د جنګ میدان ته په زړوتیا لاړ شئ او د دښمن مقابله وکړي او که د مورچې شاته پټ ناست وي، نو زړورتیا به یې همداسې پټه پاتې شي له زخم او حوصلې پرته هېڅکله ګټه نه تر لاسه کیږي حوصله او زخم زده کړئ.


★★★

- ✓ ښه دا ده چې د نورو له تجربو زده کړه وشي.
- ✓ د بریا تر ټولو لوی راز صبر دی او د ماتې بې صبري.
- ✓ راکړه ورکړه هم د ټېنس لوبې په شان وي، ښه سرویس وړاندې کوونکې ماتې نه خوري.
- ✓ ډېر کاروباریان د خدمت پرته هم بریالي کیږي، مګر د غوره کارکوونکو پرته هېڅوک نشي بریالي کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- که تېټ پوړو باندې مو نظر ونه ساته، نو هغوی به د پېرویدونکو د خدمت نه د ځان ساتلو لپاره هېڅ فرصت له لاسه ورنکړي
- د غلطې ستراتېژۍ له امله، ته له ماتې سره مخ کېږې نور نه
- مرسته زمونږ بریا ده
- د یو پېرویدونکي تر لاسه کولو لپاره (۱۰۰۰۰) دقیقی مصرفېږي او له لاسه ورکولو لپاره یوازې (۱۰) دقیقی او ستونزو له منځه وړلو لپاره (۱۰) کاله
- یو سړی دا وایي چې "شبه راغله" پداسې حال کې چې بل وایي"سهار راتلوونکی دی"
- فرصتونه مو له لاسه تللی شي، مگر دا بارو ساتئ چې نور فرصتونه ستاسو لارې ته راتللی شي
- که یو خرابه پرزه بیا جوړولی شئ، نو مه یې بدلوئ او که له دې متاثره نه شوئ، نو خرابه پرزه مه جوړوئ، دا مو پېرویدونکي ته روښانه کړئ
- که د پلور وروسته پېرویدونکی مو د خدمت غوښتونکی وه، نو ورته تیار اوسئ، د پېرویدونکي د خدمت میوه به پس له درې کاله وینې، نو له پامه یې مه غورځوئ او ورته تیار اوسئ
- تل باید خبر اوسئ چې پېرویدونکي څه غواړي؟ حیرانه به پاتې شئ چې ځینې وخت هغه هېڅ نه غواړي، یوازې دا غواړي چې تاسو ورته غږ شئ او هغه خپل جذبات له تاسو سره شریک کړي
- ښه سلوک همېش درسره وي
- لنډه دا چې له مونږه ډېر خلک خپل ځان پلوري.
- پلورونکی باید داسې تربیه شئ چې د پېرویدونکي په ژبه پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په یو وخت کې یوازې یوه مړی

که په مېلمستیا کې یوه غټه وزه خوړل درته په کار وي، نو څه به کوئ؟ که د ټولې وزې په اړه فکر پیل کړی، نو ټوله به پاتې شي، لومړی یوه مړی وخورئ د دې فکر پرته چې وزه څورمره غټه ده او څومره باید وخورم، همداسې د لویو کارونو د فکر کولو پر ځای لومړی قدم پورته کړئ، نو کار به په خپله اسانه شي.

★★★

- پلورونکي په دوه ډوله دي، زمری او پیشو.
- که په کمپنۍ کې شراکت کوونکې د یو او بل خیال ونه ساتي، نو کمپنۍ تر ډېر وخت پورې نه پاتې کېږي.
- د ګتې په وخت کې تاوان د فرصت له لاسه ورکولو نوم دی.
- تل بریا د صبر وروسته تر لاسه کېږي، مګر ډېر خلک یې پیل کې د لاس ته راوړلو کوښښ کوي.
- ادب سره انکار کول د دروغجنې وعدې نه غوره دی.
- (۹۹) ورځو کې هر شی د پېرویدونکو اړتیا ته بدلون ورکوي بیا ځلې یې کوښښ وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مسکا توپير ټينګوي
## خوښي يوه راتلوونکی ګټه ده


تل مسکا کوئ تر څو ژوند مو د ځان او نورو لپاره بوج نه شي، خوښ او خوشحاله خلک قبرستان ته ډېر وروسته ځي، ايا تاسو ژر قبرستان ته تلل غواړی؟که ځواب مو هو وي، نو مسکا پرېږدئ، تاسو به خپلې د خوښې ځای ته ورسېږی.

★★★

- مرسته،مرسته،مرسته........مرسته کوئ هر څوک يې غوښتوونکي دي، هېڅوک ترې انکار نه کوي.
- که پانې شنې وي، د ونې خورول هيڅ ګټه نه لري.
- هر کله چې يو سوداګر په مال انتقاد کوي، نو له دې معلومېږي چې هغه يې اخلي.
- کاميابه خلکو سره يو داسې طاقت وي، چې د بريا تر دهلېزه يې رسوي.
- د پېرويدونکو سره يوازې د يو دقيقې ياداشت وي چې ښه او بد وخت ته يې ساتي.
- که کار مو د باندې پلور وي، نو بېرون اوسئ.
- کال دولسم مياشتې د پېرويدونکو خدمت کول اړين دي، له ځان نه موسمي بېړی مه جوړوئ.
- ډېر تربيت ډېره ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## هېڅکله لنډ فکر مه کوئ

یوې چرګې په ډېر افسوس سره د دېوال بل لوري پرتو دانو ته کتل او پښې یې بی ځایه ترپولې او دېوال سره سولېدل یې بی ځایه و ځکه د دېوال لوړوالی له دریو مترو ډېر نه و، که خپل کوښښ یې کړی وای، نو په یقیني ډول به یې د دیوال بل لوري دانې تر لاسه کړی وای، مګر چرګې خپل فکر یوازې د دېوال بل لوري دانو پرې محدود کړی و.

هېڅکله لنډ فکر مه کوئ، دې سره به تاسو د قسمت او خیالونو په کوڅه کې بند پاتې شئ. د فکر او سوچ ازاد پرواز مو خپل منزل ته رسولی شي.

★★★


- د یو عام پلورونکي په اړه وړونکي ته ښه مشوره وکړئ، تر څو د پېرویدونکو پوښتونو ته ځوابونه پیدا شي.
- پوښتنه مو په احتیاط سره وکړئ، او پېریدونکی مو خبرو ته پرېږدئ ځکه د پېریدونکو په ګټه باندې پلور کول ستونزمن دي.
- ځوابونو ته تیار اوسئ.
- "هو" د ګټې تر لاسه کولو لپاره پوښتنو ته دوام وکړئ.
- د لفظونو کارولو کې احتیاط کوئ په ځانګړي ډول هغه شیانو کې چې ستاسو لپاره نوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



We Do not normally plan to fail

We normally fail to plan



## مونږ د ناکامۍ لپاره پلان نه جوړو، بلکې په پلان جوړونه کې ناکامېږو

له بریا هېڅوک نفرت نه کوي یوازې له ناکامۍ وېره لري، نو د همدې لپاره ناکامۍ ته څوک پلان نه جوړوي. مونږ ټول د کامیابه خلکو کیسې اوریدل غواړو او د ناکامو له کیسو سره مینه نه لرو، نو ولې کامیابي زمونږ له لاسه وځي؟ مونږ ولې ناکامۍ سره مخ کېږو؟ بدقسمت تر څنګ لږه خواري هم د هغې لامل کېدی شي او ځینې وخت د کمزوري پلان جوړونې له امله ناکامي زمونږ قسمت جوړېږي، نو د همدې لپاره باید په پلان جوړونه کې له فکر او سوچ نه کار واخیستل شئ او تیرو ناکامو تجربو ته په کتو نوی تجربې وکاروو، فکر کول په ریښتیا هم یو ستونزمن کار دی، نو د همدې لپاره ډېر خلک ترې ځان لرې ساتي او ناکامه کېږي.

★★★

- ✓ د هر شي لپاره د پلور طریقه یو شان ده.
- ✓ د پلورونکي ښه سلوک جذبې او اعتماد باندې ولاړ وي.
- ✓ پلورونکی ډېر وخت غوږ نه نیسي او یوازې خبرې کوي، چې دا یوه لویه تېروتنه ده، که پېرویدونکی غوږ نیسي او که نه، په سمه توګه دپېرویدونکو خبرو ته غوږ ونیسئ
- ✓ پلورونکي ته د شیانو د پېژندلو لپاره یوازې (۲۰) یا (۳۰) سلنه اړتیا وي، او نور (۷۰) یا (۸۰) سلنه د هغه چالاکۍ او سلوک پورې اړه لري.
- "سبا" د تل لپاره پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ناکامي که هر څومره لویه وي، خو د لنډ وخت لپاره وي، د غوره پلان په مرسته یې په راتلوونکي کې په ګټه بدلوی شئ.
- د خط لیکلو لپاره (۹٦) سلنه فکر ته او (۴) سلنه اصلي متن ته اړتیا وي، په خط کې قدرتي عناصر باید موجود وي تر څو لوستونکي پرې عمل وکړي او وروسته ورته په یاد وي چې عمل یې پرې کړی وه.
- پلورونکي لپاره کاروباري خط یوه غوره وسله ده، چې په مرسته یې پېرېدونکو سره اړیکې څو چنده ډېرولی شي.
- د پېرېدونکو په اطمنیان کې د هر کارکوونکي برخه وي.
- دا یو عام نظر دی چې په هر برخه کې پلور اسانه دی.
- یو پلورونکی د ډاکټر او انجینر په څېر وي، چې د پلور لپاره له هر ډوله دواګانو کار اخلي.
- ګټه له لاسه ورکړئ، خو خصوصیات نه
- یا به ګټه کوی یا تاوان.
- که د پېرېدونکی شکایت ته مو غوږ کېنښود، نو خلک یې په اوربدو ستا د کاروبار لمنځه وړلو په اړه فکر کوي.
- که ښکاري د حیوان په سیوري باندې ډز کوي، نو حیوان ته د تیښتې لاره برابروي او له ده سره د کارتوس نه پرته هېڅ نه پاتې کېږي.
- د یوې دروازې بندیدو سره بله خلاصېږي
- د پلورلو وروسته په بازار کې د پېرویدونکي خدمت سره ستاسو عزت لوړېږي.
- غوره کیفیت د لړې ستونزې سبب ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



Respect skill



## د پوهې او هنر احترام وکړئ


یو امریکي د افغاستان  د چکر لپاره راوتی وه، په لاره کې یې د موټر ماشین کار پرېښود هغه ډېر کوښښ وکړ، مگر ماشین کار ونکړ، لږ ځنډ وروسته یو مستري هلته راورسید، امریکي ورته ستونزه روښانه کړه او پوښتنه یې ترې وکړه چې ایا هغه یې مرسته کولی شي؟ مستري ژر وویل ″هو ولې نه″ او د موټر بانټ یې پورته کړ او سلنډر باندې یې په زوره د څټک پنځه واره وکړه او موټر چالان شو، امریکي ترې د زړه نه مننه وکړه او ورته یې وویل، ښاغلیه! څو روپۍ دی شوی؟ مستري ویل (۱۰۰)ډالره امریکي ترې وپوښتل د څه شي، مستري په اطمینان سره ځواب ورکړ، (۵) ډالره د څټک د پنځه وارونو او (۹۵) ډالره د دې چې ستونزه په کوم ځای کې وه، امریکي په خجالتۍ سره پیسې ورکړې او ترې لاړو، په ریښتیا پوهه او مهارت گران بیه وسله ده د هغې احترام وکړئ.

★★★

- ✓ ښښه درنه غواړم چې په تکلیف شوی، خو خوښ په دې یم چې ما ته مو را وسپاره او د مرسته کولو یو فرصت مو راکړ.
- ✓ که د پېریدونکي په دوکه کولو باندې مو خفگان ښکاره نه کړ، نو کاروبار پرېږدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## قدم پورته کولو مخکې ښه وګورئ او فکر وکړئ


ننڅاکه تل د لرې نه ښکلې ښکاري، ډېر خلک په ژوند کې لویه تېروتنه دا کوي چې له پوهېدو او فکر کولو پرته په بې صبرۍ سره نوو کارونو ته لاس اچوي، ډېر خلک چې په خوښۍ سره د لوړوالی ښکلوي او د هوا پر اس سپاره وه، ژورو کندو ته وغورځیدل او د ژوند (۱۰) نه تر (۱۵) کاله یې په تجربو کې له لاسه ورکړل او کله چې ورته احساس وشو، نو په لاس کې یې هېڅ نه وه، چا ریښتیا ویلي دي څومره چې تیز تګ کوو، نو په همغه اندازه د تېروتنو او نیمګړتیاو د سمولو وخت زمونږ له لاسه ځي او د نورو په اړه د فکر کولو وخت په لاس نه راځي او په پای کې زمونږ او د کاروباري حقیقتونو تر منځ یو ډنډ رامېنځ ته کېږي، تل دا په یاد ولرئ هغه کس چې حقیقتونو ته پام کوي د هغه په زړه کې به خفګان هېڅکله کور جوړ نه کړي او دماغ به یې د فکرونو او پلانونو نه هېڅکله خالي پاتې نه شي اوس نو پرېکړه ستاسو ده،

★★★

- ✓ کله چې په هوا کې بدلون رامنځ ته کېږي، نو باید دا درته معلوم شي چې چېرته او څومره تیز تګ وکړئ.
- ✓ غټ ماهیان تر هغې واړه ماهیان خپله مړۍ ساتي، تر څو یې چې په خوله کې ځایږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د بریا قانون

- ❖ که دا فکر دی وکړ چې ماته دې وخوړه، نو په ریښتیا دی ماته وخوړه.
- ❖ که دا فکر دی وکړ چې ساه درکې نشته، نو په ریښتیا سره بې ساه یئ.
- ❖ که دا فکر دی وکړ چې زه یې نشم کولی، نو په ریښتیا سره یې نشی کولی.
- ❖ په نړۍ کې هر کس ته بریا د هغه د ارادې په اساس ورکول کېږي، دا ټول ستاسې جذبې او ذهن پورې اړه لري، که داسې فکر مو وکړ چې ماته ورکونکی یئ، نو ماته او ناکامي به هېڅکله مخې ته در نشي.

د بریا لاس ته راوړلو مخکې ځان په دې باوري کړئ چې تاسو یې اهل یې، نو په پای کې به مو بریا تقدیر جوړ شي، د تل لپاره د ژوند جنګ قوي او زړور خلک نه ګټي بلکې هر څوک چې ژر د ګټلو لپاره متې را بډوهي، نو د هغه مخې ته وسله ږدي.

- ✓ خلک شیان نه، د هغه ګټه پیري
- ✓ له فکرونو پرته مو هر څه پټولی شي
- ✓ یو ځل خرڅول پلور دی او بیا ځلې مارکیټنګ
- ✓ دومره طاقتور هېڅوک نشته چې ځان ته تاوان ورسوي او نورو ته ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ستر فکر

په ماسکو کې يو شتمن سړی وه، يو ورځ هغه په ليلامي شيانو کې يو ګران بيه د کاليو تان پيدا کړو، فکر يې وکړ چې ولې نه لدې نه يو ښکلی جوړه جوړه کړم، تان يې راخيست او د خياط خوا ته لاړ، خياط يې اندازه واخيسته خو په خفګان سره يې ويل چې ټوټه دې لږ کمه ده، خياط نه يې مننه وکړه او بېرته ترې راستون شو، يو څه موده وروسته هغه بلګريډ ته لاړو او هغه تان يې يو بل خياط ته ورکړ او ورته يې ويل چې له دې راته يوه ښکلې جوړه جوړه کړه، خياط يې اندازه واخيسته او په اطمينان سره يې ورته ويل چې له دې نه دی جوړه په اسانۍ سره جوړيږي، هغه ډېر حيران شو او خياط ته يې د ماسکو کيسه وکړه او بيا يې ويل چې داسې څنګه کېدای شي چې هلته ترې جوړه نه راتله او په بلګريډ کې ترې جوړه راځي، خياط په خندا ځواب ورکړ ښاغليه! ماسکو ستا خپل ښار دی هلته چې څومره چاغ وی دلته نه يئ، په خپل ښار کې سړی تازه وي، باور وکړه چې ستا جوړه به ترې راشي، په ريښتيا څومره چې مونږ د ځان لپاره ډېر غټ فکر کوو په حقيقت کې هغومره نه يو، خو که له خپل فکره را ووځو، نو مونږ ته د خپل حيثيت او طاقت اندازه معلومېږي.


★★★

- هر څومره که يو شی ښه وي، خو د مارکيټنګ پرته يې نشو پلوری.
- مارکيټنګ کې يوازې ښه محصولات پلورل کېږي، او خراب محصولات له له مخې لرې کوي.
- هغه څوک په جنګ کې ډېر بريالي دي چې دښمن داسې بې سلحه کړي چې د جنګ لپاره ورسره هېڅ طاقت پاتې نه شي.
- که په غوره تګلارې مو د پېريدونکي شکايتونو ته ښه راغلاست ووايه، نو هغه يې لږ تر لږه پنځه کسانو سره دا خبره شريکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Think there must be a better way!**



## فکر وکړئ کېدای شي چې یوه غوره لار وي

دماغ چې چا پیدا کړي یو قوي مالک دی، دماغ یو داسې ماشین دی چې قوي فکرونه ورسره وي، هغه فکرونه چې معجزې راښکاره کولی شي، لکه څنګه چې هغه فکرونو مونږ له تیارو نه رڼا لورې ته راوستي یو،که قدرتي قوت مو راویښ کړو نو تاسې په حیرانونکي اختراعات وینې، ټوم ایډیسن د یو ګروپ روښانه کولو لپاره سل ځلې ناکامه هڅې وکړې ناکامي یې ولېده خو په پای کې یې بریښنا اختراع کړه، تاسو هم خپل دماغ نه معجزه ښکاره کولی شئ او د ژوند لپاره غوره لارې موندلې شئ، د دماغ غوره بېلګې څاه او ساعت دی.

★★★

- پېریدونکي ستاسو له سلوک نه متاثره کېږي.
- دا نړۍ د سیالۍ ده، که له نورو مخکې نشئ، نو له تاسو به مخکې شي.
- د بریا په مرسته یو اداره نه پیاوړی کېږي، بلکې د نورو په ژوند کې اسانتیاوی راولي.
- لیک او د لفظونو زور مه هېروئ، ځینې وخت په پیغام رسولو کې د هغې اړتیا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**نو بیا .......؟**


د هرې جمعې ورځ به هنري فورډهر د خپلې ښځې لپاره ګلان راوړل، یو ورځ یې د ګل پلورونکي نه پوښتنه وکړه"ښاغلیه! ته یوه بله ځانګه ولې نه خلاصوئ؟ ګل پلورونکي ورته ویل"بیابه څه وشي" بیا به دی ځانګې ډېرې شي، ګل پلورونکي ورته بیا ویل" ښاغلیه بیا به نو څه وشي؟ هنري ورته ویل ښکاره خبره ده چې په کراره، کراره به دې په ټوله نړۍ کې ځانګې پیدا شي، ګل پلورونکي ورته ویل " نو بیا" دې کې هنري په قهر سره وویل" کم عقله بیا به ته په ارام او سکون کې شئ، ګل پلورونکي په اطمینان سره ورته ویل"مشره، نو اوس زه څه کوم؟ ایا زه اوس په سکون کې نه یم؟ ته بې فکره شه زه په دې دوکان کې هم مطمین او قانع یم" هنري له هغه مننه وکړه او خجالته ترې روان شو.

★★★

- مارکیټنګ د اړیکو یو ډول دی.
- خپلو ملګرو او کتابونو سره په اړیکه کې اوسئ.
- تفاهم زده کړئ.
- د خلکو، پېریدونکو او کارکوونکو د سترګو لوستل زده کړئ او خپل عادت یې جوړ کړئ چې ستاسو اعتماد او باور کې ډېروالی را ولي.
- له ډېر تاوان نه، لږه ګټه ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Don't cry over spilt soup




## اوس به نو څه وشي!

یو زوړ چینائي بزګر په سفر روان وه او په خره یې یو لرګی وه چې د یخنی لوښی یې پکې را ځړند کړی وه، په لاره کې ترې لرګی وخوریده او لوښی ترې وغورځید او مات شو، خو بزګر شاته ونه کتل او همداسې روان و او دا حالت یو سړي ولیده او په منډه یې خوا ته راغی ورته یې وویل "مشره ایا تا ونه لیده چې لوښی دی مات شو او یخني دی ټوله چپه شوه، هغه په اطمینان سره ورته وویل، هو زویه ما هر څه ولیده، مګر زه اوس څه کولی شم؟ هر څه چې وشو په هغې خفګان او ژړا له دې پرته هېڅ نشي کېدای چې د خپل صحت دښمن شی، تاوانونه د ژړا لپاره نه، بلکې په راتلوونکي کې د غوره پلان جوړونې لپاره وي.

★★★

- تر هغې به استقامت کوم، چې کامیابه نه شم.
- ډېرې ویناوې یوازې د یوې ورځې لپاره وي،کوښښ وکړئ چې ویناوې مو تر څو کلنو پورې ژوندۍ پاتې شي.
- وینا کې د کامیابۍ راز په اتفاق کې دی، بې اتفاقۍ کې نه.
- په هره راکړه ورکړه کې خلک د مشرۍ په لټه کې وي، د مشرۍ احساس مو نظر پورې اړه لري، هېڅکله مو نظر نه مه ویرېږئ.
- چا سره چې ډېر معلومات وي، نو په بدل کې ډېر معلومات تر لاسه کوي.
- تر دې چې نپولین هم خپلو جنګونو کې له ماتې سره مخ شوی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د ښه پلور مطلب دا دی چې هره ورځ شیان په ځانګړي ډول وشي.
- د ډېر پلور لپاره غوره لار دا ده چې کار ډېر وکړو او ارزانه یې ورکړو.
- که په لومړي کوښښ کې بریالی نه شوی، نو د اوسطو خلکو له جملې څخه یئ.
- تر ټولو ستونزمنه پوښتنه هغه ده، چې روښانه ځواب لري.
- هغه څه چې ویل یا لیکل غواړئ په هغې کې ډالۍ تر لاسه کړئ.
- هر کم عقله یو غلط اعلان لیکلی او خپرولی شي، مګر د یو ښه اعلان لپاره هوښیار کس ته اړتیا ده.
- پېریدونکي بې کیفیته جنس، د دروغو اعلان او سترېا هېڅکله نه بخښي.
- له اداري مو دا تمه مه کوئ، چې ستا د ټولو تېروتنو تاوان به ګالي.
- زه درې ځلي په پلور کې بریالی شوی یم، له دې امله نه چې پېریدونکی ډېر لېواله وه، بلکې زه یې د پلور لپاره لېواله وم.
- نرخ هر څوک راکمولی شي، مګر د غوره جنس جوړولو لپاره دماغ په کار وي.
- که متفکره یئ، نو فکر وکړه.
- که هغه څه نشې کولی چې ته یې غواړې، نو هغه څه وکړه چې کولی یې شې.
- مونږ شیان نه، فکرونه پیرو.
- کاروبار کې د پېرویدونکي لږ خدمت کاروبار متاثره کوي او ډېر خدمت سره ډېره ګټه، کاروبار د ډېر خدمت او لږ خدمت تر منځ د توپیر نوم دی.
- خپلو پېریدونکو سره هر ورځ د یوې نېکۍ په اړه فکر وکړئ، که داسې مو وکړل، نو د خفګان هېڅ اړتیا نشته، یو ښه کار مو د پېریدونکي په څیره خوښي ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Do what you think is right**

**And know whether it was right**



## څه چې درته ښه ښکاري هغه وکړئ.

## انتقاد کوونکی به څه وايي؟دوستان به څه وايي؟ ملګري به څه وايي؟


دا هغه مايوسه کوونکي پوښتنې دي چې کار کولو ته دې نه پرېږدي، د هغه پلار او ځوی کیسه په یاد وساتئ چې د خلکو خبرو پرې دومره اثر کړی وه چې په ټول سفر کې یو هم پر خره باندې سپور نه شو، تل هغه کار کوئ چې ښه درته ښکاري خو د خود غرضي په بنسټ نه، بس خپل کار ته دوام ورکړئ. په یاد ولرئ که چېرته دا احساس درسره وي چې ته په غلطه یې، نو تېروتنې مو سمولی شئ، که پریکړو ته مو بدلون ورنکړئ، نو په راتلوونکي کې به مو په پلان جوړونه کې ښه والی خنګه راولی.

★★★

- ✓ پلور یو هنر دی، جذبه، مرسته او خیالونه یې اړین اجناس.
- ✓ یو مطمینه پېریدونکی، د محصولاتو غوره اعلان دی.
- ✓ هېڅکله وېریدلي خلک غوره اعلان نشي کولی.
- ✓ د نورو د محصولاتو بدي د پېریدونکو پر وړاندې مه کوئ، پېریدونکی پرې باور نه کوي.
- ✓ بد اعلان د پلور په مخکې خنډ واقع کولی شي.
- ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library






**داسې دنده ولټوئ، چې له زړه يې غواړئ، باور وکړئ چې په ژوند کې به يوه ورځ هم کار کولو ته مجبور نشی**


زړه نه چې يو څوک کار پيلوي، نو هغه کار ورته د خوښې لامل کېږي، ځان په اړه مثبت فکر وکړئ بيا وګورئ هغه کار چې درته ښه ښکاري تر سره يې کړئ، پدې هم ځان خبر ساتئ کارکوونکي مو چې کوم کار د زړه نه کول غواړي. نو هم هغه ته يې پرېږدئ، هغه به هم خوښ او خوشحاله وي او ته هم.

★★★

- جاهل تل وايي چې ما خپل تير او حال برباد کړ، مګر هوښيار بيا وايي چې راتلونکی لا اوس هم پاتې دی .
- خپل وخت، خپل دماغ او د اعلانونو نه تر لاسه شوی پيسې په کاروبار کې ولګوئ،کاميابه کارکوونکي له ځان سره وساتئ او له ناکامو ځان وژغورئ.
- که کړنو او غبرګونونو مو وروسته پريښودی، خو خوږې ويناوې به مو له نورو مخکې کړي.
- ځان د سيند په څير کړئ، هغه به مو خپله سمندر ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## استقامت (ثابت قدمي )

یو پلورونکي ته د ولسمشر کوټې ته د ورتګ اجازه وشوه، کله چې دننه شو، ولسمشر په قهر هغه ځوان ته وویل" خبر یې چې له تا مخکې مې هم پنځه پلورونکي له کوټې ویستلي دي". پلورونکي ورته په ډېر ادب ویل هو خبر یم خو هغه پنځه واړه پلورونکي هم دا زه وم.

★★★

- کاروباري ځای ته پر ناوخته ورتګ یو لوی فرصت له لاسه ورکولی شی.
- ښه اداره خپل (۴۰) نه تر (۵۰) سلنه وخت د خپلو خلکو په تربیت او د نورو په هڅولو کې لګوي.
- که کاروبار مو ښه وي، نو د اعلان لپاره پیسې پخپله پیدا کولی شي او که خراب وي پور اخیستل ورته پکارېږي.
- په ادب سره غلی ناسته ډېره ګټوره وي ځکه چې د نورو پر وړاندې ستاسو احترام روښانه کوي.
- هغه اهدافو په اړه فکر وکړئ، چې ترلاسه کولی یې شې.
- منځګړیتوب کې تلقین کېږي.

- مکمل یوازې معلولیت ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لنډه دا چې ښکلي شیان پلور کېږي او بدرنګه پاتې کېږي
- غوره مالي تنظیم او ښه تربیت ګټه
- د اورګاډي سټېشن ته په ناوخته ورتګ دا مه وایه چې اورګاډي لاړ او تاسې یې پرېښودې.
- د مقابلې پرته هېڅ نه شی جوړولی
- نوی نظام تل نوي بدلونونه راوړي
- خفه کېدل ستونزمن کار دی، کله چې په یو داسې کار کې مصروفه شوی یې چې فکر او پلان ته په کې اړتیا وي
- وې بخښه او هېر یې کړه
- زړه کې مو خپلو او د نورو تېروتنو ته ځای مه ورکوئ
- هېڅکله د بل د احسان په تمه مه کینئ، تر دې چې د خپلې ښځې هم، نورو ته چې څه کولی شی هغه وکړئ
- خوښي مو تر هغې نشي پوره کېدئ چې نورو سره یې ونه ویشئ.
- قدم پورته کولو مخکې وګورئ او فکر وکړئ، څومره چې دې قدم تیز پورته کړی هغومره به د نورو له رایې او کاروباري حقیقونو نه لرې پاتې شئ، او په غلطه به روان یې.

## پلورونکیه! په یاد ولره!

- ✓ خپل اعمالو باندې پام وساته کنه عادت دی جوړېږي
- ✓ خپل عادتو باندې پام وساته کنه کردار دی جوړېږي
- ✓ خپل خیالاتو باندې پام وساته کنه الفاظ دی ترې جوړېږي
- ✓ خپلو الفاظو باندې پام وساته کنه اعمال دی ترې جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د پلور مثلث

د شیانو پلور هم د مثلث په څېر دی چې درې زاویه ګانې لري.

۱: د پېریدونکي زاویه

۲: د سوداګر زاویه


۳: د جوړونکي(تولیدونکي) زاویه

ځان ته د کتو تر څنګ باید دوو نورو زاویه ګانو ته هم وګورئ او خپلې ګټه کې ډېروالی راولئ او له خپلې زاویه نه د اړتیا په اندازه ګټه واخلئ.

★★★

- ✓ عمل د هغو ستونزو مخنیوی کوي چې "ناوخته" رامنځ ته شوي وي.
- ✓ ښه اقدام مو له بدو کړنو ژغوري.
- ✓ اندېښنه او فراز مو په اعتدال کې وساتئ.
- ✓ څوک چې پور غواړي، خفګان ته غاړه ورکوي.
- ✓ د غوره فکرونو فابریکه جوړه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## پېريدونکي مو ولې پرېږدي؟


- ❖ مړنې له کبله ................................... ۱٪ سلنه
- ❖ د ځای د بدلون له کبله........................ ۳٪ سلنه
- ❖ د مقابلې له کبله ................................ ۹٪ سلنه
- ❖ شيانو باندې د بی باوری له کبله ......... ٦۸٪ سلنه

★★★

- (۱۰) دقيقې مخکې تگ سره بيا هم (۵) دقيقې ناوخته دی، کار او غونډې ته (۱۵) دقيقې مخکې لاړ شئ.
- مسکا د يو گران بيې بنارسي ساړي نه ډېره گران بيه ده.
- که انتقاد کول هم درته پکار شو، نو په مينه يې وکړه.
- د خوښي تر لاسه کولو لپاره به ماتې او خفگانونه به په ځان منئ.
- هوښيار خلک د ډېرو په لټه کې وي، خو لږ اخلي.
- که سمه لاره انتخاب نه کړئ، هېڅ به تر لاسه نه کړئ.
- څه چې مو له لاسه ورکړ هغه هېر کړئ او هغه تر لاسه کړئ چې پاتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library







**په یاد ولرئ، کله چې نورو ته ګوته نیسې. نو درې بېرته ستا په لور وي**

★★★

- تړونونه د دلایلو نه غوره نتیجه ورکوي.
- قهر یو قیمتي خوشحالي ده، هغه څوک یې تر لاسه کوي چې ځانګړی عاید ولري.
- ډېره ویره د ستړیا او تنهائی نه پیدا کېږي.
- ځای جوړولو لپاره ښیښې، قالینې او ګروپونه پکارېږي، مګر د اوسیدونکو پر مخ مسکا راستولو باندې له هغې کور جوړېږي.
- څوک چې په لږو قانع شي هغوي سره هر څه وي.
- که ناروغی نه مو خلاصون نه وي، ارام وکړئ او خوند ترې واخلئ.
- دیګ بخار له هوا نه ډک ښه نه دی، که په احتیاط سره نه وي بند شوی.
- هر کم عقل یوازې په انتقاد، غندنې او شکایت کولو باندې پوهېږي او ډېر کم عقله همداسې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## تعليم

★★★

- بيه ژر هېرېږي، خو کيفيت هېڅکله نه.
- له کاروباره مو خوښ اوسئ.
- خواري کول خوښي ده.
- مسکا وکړئ، فکر وکړئ او مننډويه اوسئ.
- يو کار کې تر هغه وخته پورې کاميابېدی نشئ تر څو پکې مهارت ونه لرئ.
- په نيمه کې يو کار پرېښودو سره خوب ته مه ځئ.
- غوښتنې پوره کېږي، خو هوس نه.
- هيلې خفګانونه پيدا کوي.
- هرې ستونزې کې له دعا کار واخلئ.
- وخت مو د خوښی لپاره وکاروئ او معلومه کړئ چې څه شی تاسو ته خوښي درکولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Parker's principle**

Everyone likes
to do what he likes
and not
what should be done

## د يادولو تګلارې

"هر څوک هغه څه کوي چې خوښ يې وي هغه نه چې ورته کول يې پکار وي، ډېر وخت به مو ليدلي وي کله چې يو کارکوونکي ته کار وسپارى، نو ستا په زړه يې نه کوي او په نيمه کې يې پرېږدي او ځان په بل کار مشغولوي.


داسې نو ولې کېږي؟ ځکه انساني فطرت همداسې دی. د بيلګې په ډول کوچنيان په نظر کې ونيسئ، هغوی تل هغه کار کوي له کوم نه يې چې منع کېږي، کار تر سره کولو لپاره په کار نه د کار په اهميت او په هغه کارکوونکو پام وکړئ چې د کار ګټه ورپورې تړلې وي، کار به په خپله وشي، کار ټيم غواړي او ټيم يو غوره مشر.

★★★

- تل له احتياط نه کار اخلئ او وېرې باندې پام کوئ
- کار د ټولو بديو لپاره علاج دی
- څوک چې خپلو ماشومانو سره خوشحاله وي هغوی به تل خوښ وي
- ژوند يو ځل په لاس درځي، که ته ښه اوسئ همدا بس ده
- زمونږ تر ټولو ښه خوراک تعريف دی
- د منني لفظ د زړه هم راوتلی شي او له دماغو هم، خو که د زړه نه راوځي هغه تر ډېره يادګاري او د يادولو وړ وي.
-

(c) ketabton.com: The Digital Library






**قلم د تورې نه ډېر غښتلی دی؛ خو دا پوښتنه پیدا کېږي**
**چې هغه په کومو لاسونو کې دی**

★★★

- دا د دماغو شتمني ده چې انسان شتمن او خوښ ساتي
- د سرو زرو ژبه او حکم له ځان سره وساتئ
- (۹۱) سلنه مالي ستونزې د (۹) سلنه بی پروایی، سستۍ او بی ځایه لګښتونو نه رامنځ ته کېږي.
- انسان باید د ګلانو په څېر خوشبو وشیندئ او د لمر په څیر وځلېږي
- چاپلوسي جعل په څېر ده که چیرته یې د جعلي پیسو په څېر یې وکاروئ، نو په ستونزو کې به مو راګیر کړي.
- کله چې مو بدتر هم قبول کړ، نو د لاس نه وتلو لپاره به مونږ سره هېڅ شی پاتې نه شي، پایله ....... ذهني ارام.
- له خپل سیوري نه د وېریدو اړتیا نشته هغه یوازې دا در ښکاره کوي چې تر څنګ دې رڼا شته.
- پرله پسې خوښي د هوښیارتیا نښه ده.
- ویل کېږي پریښتې د دې لپاره الوزي، څکه چې ځان سپک محسوسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library




- کوم کاروباري چې په سيالۍ نه پوهېږي، د خفگان له وجې په ځوانۍ کې مړ کېږي.
- کوم لمر چې نن پريوځي سبا بېرته راپورته کېږي، مگر ډېر خلک د سبا انتظار نه کوي.
- د خوشحالۍ لاسه ته راوړلو لپاره په کار ده چې د شکر او ناشکرۍ په اړه فکر ونکړئ، د روحاني تسکين لپاره بايد له نورو سره مرسته وکړئ.
- ډېره گټه کول مې نه غوښتل، ډېر وخت لپاره مې ژوند غوښته.
- که کاميابي غواړئ، نو زړه لوی کړئ، که له ناکامۍ نه خپل تقدير جوړول غواړئ، نو زړه وړوکی کړئ.
- تاسې ځان کې بدلون راولئ، په ژوند کې به مو خپله بدلون راشي.
- لس بې وسه خلک په يوې کمپله کې ويده کېدای شي، مگر دوه پاچاهان په يوې پاچاهۍ کې نه شي وسېدلی.
- خوښي په دی کې ده "هغه څه چې ترلاسه مو کړل هغه مو غوښتل او هغه څه چې تر لاسه مو نکړل نه مو غوښتل".
- د تل خوښۍ لپاره د سرو زرو ژبه او د سرو زرو قلم وکاروئ.
- تر دې چې اليگزينډر اعظم چې يې ښخوه، نو دواړه لاسونه يې خالي وه، نو هغه څه چې تر لاسه کولی يې نشی پريښده.
- له (۳) او (۳) نه (۳۳)هم لاسته راوړلی شئ که يوازې ذهن مو په کار واچوئ.
- ډېرې ښځې د وړو،وړو خبرو له امله خپل ژوند نه دوزخ جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Manage your time as**

**You manage your money**



## وخت مو د پیسو په څېر اداره کړئ

ایا په دې خبر يئ چې په عمومي ډول په (۷۵) کاله ژوند کې (۲۵) کاله په خوب، (۸) کاله په مطالعې، (٦) کاله په ناروغۍ،(۷) کاله په رخصتۍ، (۴) کاله په خوراک او څښاک، (۳) کاله په بدلون او نورو فعالیتونو کې تېرېږي او يوازې (۱۲) کاله کار کولو لپاره مونږ سره پاتې کېږي.

چارلس شواب یو شتمن امریکي و، هغه په (۱۹۳٦) کال کې یو کس ته یوازې د دې لپاره (۲۵) زره ډالره ورکړل چې یو داسې مشوره ورکړي چې هغه خپل وخت څرنگه ښه تیرولی شي، مشوره ورکوونکي داسې مشوره ورکړه چې "سهار چې کله پاڅېږئ، نو د ټولو هغه کارونو لړلیک باید درسره وي چې په ورځ کې تر سره کړئ او تر ټولو اړین کار باید د لړلیک په سر کې وي.

★★★

- ځيني خلک چې هر چېرته ځي خوشحالي له ځان سره وړي او ځينې خلک چې له هر ځایه راځي خوښي ځان سره راوړي.
- له ستونزو مه ویرېږئ همدا ستونزې انسان جوړوي.
- دماغو دننه یو ځای دی چې جنت ترې هم جوړولی شئ او دوزخ هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## درې سلنه بې پروايي+ درې سلنه سستي + درې سلنه بې ځايه لګښت= ۹۰ سلنه مالي ستونزې

ډېر خلک داسې فکر کوي که چېرې په ګټه کې يې (۱۰) سلنه زياتوالی راشي، نو د مالی ستونزو به وژغورل شئ، مګر دا خبره له حقيقته ډېره لرې ده، مالي ستونزې له هر کس سره وي، که هغه (۳۰۰۰) ګټه کوي او که (۹۰۰۰۰) زره، که هغه ملازم وي يا ولسمشر، خبره د ډېرې ګټې نه ده ځکه ځينې وخت ډېر ګټيالي له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، چې دا ستونزه د بې پروايۍ له کبله رامېنځ ته کېږي ، نو د همدې لپاره ويل کېږي چې وړو لګښتونو ته پام کوئ، ځکه ځينې وخت يو وړوکی سوری يوه لويه کيښتۍ ډوبولی شي. دغه ستونزې د سستۍ نه هم پيدا کېږي، نو ځکه ويل کېږي چې په وخت پيوند د بې وخته (۹) پيوندونو نه غوره دی، او همداسې دغه ستونزې د بې ځايه لګښتونو نه هم پيدا کېږي، داسې ويل کېږي هغه څوک چې (۴) ګټې او (۵) کاروي د بېوې ساتلو اړتيا ورته نشته، که وګورو له همدې درې لاملونو د يو ځای کېدو سره مونږ د (۹۰) سلنه مالي ستونزو سره مخامخ کېږو، الله ﷻ دې وکړي چې پاتې (۱۰) سلنه کې زمونږ قسمت ښه وي.


★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د نورو له بدی نه د ځان ساتلو لپاره غوره دا ده چې نور د خپلې بدی نه وژغورئ.
- ✓ په ټوله نړۍ کې هر کس د خوشحالۍ لاس ته راوړلو کوښښ کوي، خو د هغې لاس ته راوړلو لپاره غوره لاره دا دی چې خپلې غوښتنې کمې کړئ
- ✓ پدې مه خفه کېږئ چې ستا په اړه خلک څه فکر کوي، ځکه هغوی خپله دې خبرې ته خفه وي چې ته یې په اړه څه فکر کوی.
- ✓ "هو ته شتمن يئ خو زه مالداره".
- ✓ په وړو، وړو خبرو خفګان پرېږدئ او هېڅکله وړو، وړو شیانو ته اجازه مه ورکوئ چې خوښي درڅخه واخلي.
- ✓ د يو معيوب لويه تېروتنه دا ده چې د بدن علاج کوي خو د دماغو نه او دا ښکاره خبره ده چې دماغ او بدن يو بل سره تړلي دي او هر يو ته ځانته، ځانته علاج نه کېږي.
- ✓ که خوب نه درځي، نو تر هغه وخته پورې يو کار وکړئ يا کتاب ولولئ تر څو خوب نه وي درغلی.
- ✓ دا په ياد ولرئ چې هېڅوک د لږ خوب له لاسه نه دي مړه شوي او نه تاواني شوی، بې خوبي د ډېر فکر کولو نه پيدا کېږي.
- ✓ خوښي د هغو عطرو په څېر وي، تر هغې يې په نورو نه شی شيندلی، تر څو دې په ځان نه وي شيندلي.
- ✓ د بېلابېلو زاويو د لېدو پرته، شيان په بېل ډول نه شی تر لاسه کوئ.
- ✓ کاروبار د کارونو د پوره کولو نوم دی.
- ✓ (٦٩) سلنه پخوانيو محاسبو او ليکونو ته پام نه کېږي.
- ✓ د يو مالک لپاره د ځان وژنې ښه لاره دا ده چې له دې انکار وکړي چې کله، چيرته او څنګه کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## قهر مو دوښمن دی

- د قهر (۱۰) دقيقو کې د خوښۍ (٦۰۰) ثانيې له لاسه ورکوی.
- په دې کی خوښي نشته چې څه غواړی هغه تر لاسه کړئ، بلکې خوښي په دې کې ده څه چې لرې هغه خوښ کړئ.
- نړۍ ته که مو ښه وړاندې کړل، ښه به تر لاسه کړئ.
- ځينې خلک د دې لپاره خفه وي چې د خفګان لپاره ورسره څه نه وي.
- دماغ چې د څه په اړه فکر او باور کوي هغه تر لاسه کوي، نو د همدې لپاره تل د خوښی په اړه فکر وکړئ.
- سړی بايد صادقه وي او د تل لپاره صادقه وي.
- يو وړوکی کړنه د ډېرو لفظونو نه دروند وي.
- ډېرې تيروتنې مونږ په خپله رامنځ ته کوو.
- هغه په کاميابۍ باندې د خوښی لپاره (۵) دقيقې لري او د ناکامۍ د وير لپاره يو ثانيه.
- د خفه شوي کس د قهر نه د ځان ساتلو لپاره غوره لاره دا دی چې چپ پاتې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "گټه" بده کلمه نده

ګټه هغه قوت دی چې مونږ لوړ پرواز ته هڅوي، په کاروبار کې د بریا ضمانت دی، تر هغې پورې چې له بدو لارو مو ګټه نه وي تر لاسه کړې په اړه یې فکر مه کوئ، دا مو حق دئ چې خپلو وسایلو کې ډېروالی راولئ خو دا هغه وخت ممکن کېدای شي چې خپل خدمت او محصولاتو له لارې نور خوښ وساتئ، د غوره خدمت وړاندې کولو پرته ګټه کول د لېونیانو په څېر خوب لېدلو پرته بل څه نه دي، یوازې ګټې په نظر کې نیولو سره مو کاروبار نه روانېږي، د دې تر څنګ باید خپل خدمت او کیفیت هم ښه کړئ، چې بیا مو له ترقۍ نه هېڅوک نه شي منعې کولی او همدې ته بریا وایي.

★★★

- دریمه سترګه مو وکاروئ.
- د ټول کائینات بنسټیز هدف خوښي تر لاسه کول دي.
- د تدریس په دوران کې خلک زده کړه کوي.
- عقل هم کله نا کله د کم عقلو خوند څکي.
- کم عقله او مړه شوي خلک هېڅکله خپل لوری نه بدلوي.
- عالم هغه څوک دی چې وایي زه په هېڅ نه پوهېږم.
- سترړیا غوره تکیه ده.
- خپل عادت محاسبه کړئ، ناوړه عادت مو تباه کوي.
- مرغان له ګړي نه اوبه څکلی شي، مګر خالي کولی یې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Small and lean is beautiful, effective, efficient and economical.

## کوچنی والی شرم نه دی
## وړوکي او نازکه شیان ډېر ښکلي، موثر او ګټور وي

★★★

- نړۍ کې د بریا راز په دې کې دی چې کله پل مخې ته درشي او پرې تیر شئ.
- هوښیار خلک له ګټې نه؛ له ماتې زده کړه کوي.
- " هغه دې تیر وخت وه په کاروبار کې د بریا لپاره نن ته څه کولی شی"؟
- هوښیار هغه کس دی چې له هغو شیانو سره هم وخت تیروي چې بدلولی یې نشي.
- کوم وخت چې مونږ خوشحاله یو، نو نور هم خوښ ساتلی شو.
- ښه سلوک د ښې رتبې او شتمنۍ نه نه تر لاسه کېږي، بلکې ښه رتبه د ښه سلوک نه پیدا کېږي.
- خفګان تل له خالي دماغو نه پیدا کېږي.
- د راتلوونکي کال هر ورځ کې په خپلو خوشحالیو کې زیاتوالی راولئ، خفګانونه مو کم کړئ او خپلې ستونزې مو پرې پوره،پوره تقسیمې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## ما سره پیسې ولې کمې دي، چې زه ګټه هم کوم؟

★★★

- پور که هر څومره په ګټه ورکړئ هغه ستاسو لپاره بې ګټې ده، که یو شی په نغدو په کمه ګټه هم ورکړئ، نو له احتیاج او خفګان نه لرې پاتی کېدای شئ.
- خفه نه خوشحاله اوسئ.
- ایا له خپل کاروباره خوښ یې؟.
- صحت مند خلک تل د ځان په اړه فکر کوي او رنځور خلک ځان له پامه غورځوي.
- د بدیو لپاره غوره علاج په ورځ کې په صادقانه ډول د فرایضو تر سره کول دي.
- بریا ستاسو شخصیت پورې اړه لري.
- زړه مو له ځان سره او خیمې بیلې ودروئ.
- په جسماني ډول ښه، دماغي ډول هوښیار او روحاني ډول قوي اوسئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ستورو لاسته راوړلو کوښښ وکړئ، که هغه تر لاسه نه کړئ، نو لاسونه به مو چټل هم نشي**

★★★

- نظر مو تل په ستورو ساتئ که وغواړی، نو تر لاسه به يې کړئ ځکه چې منزل هغه خلک تر لاسه کوی چې ارادې لوړې ساتي.
- ناکامي په هوښیارۍ سره د بیا پیل لپاره یو فرصت دی.
- کار کې صداقت کول کوم شرم نه دی، شرم د ناکامۍ په وېره کې دی.
- تېره توره یوازې په غوښه کې ټپ پیدا کوی، مګر تېره ژبه روح ویلی کوي.
- ډېر خلک په دې پوهېږي چې ژوند څنګه ښه تېرېږي، مګر په دې نه پوهېږي چې څنګه يې ښه تیر کړي.
- هره ورځ ګټې تر لاسه کولو لپاره غوره لاره دا ده چې وخت مو د بیګ په څېر جوړ کړئ او وړوکی، وړوکی ځای د وړو، وړو شیانو نه ډک کړئ.
- د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې د فکر کولو وړ وي.
- د کامیابۍ لپاره د تشریح اړتیا نه شته او د ناکامۍ لپاره خو بیخي نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## قهر نه د ځان ساتلو لارې

پلته سر لري خو دماغ نه، نو ځکه په لږ سولېدو سره اور اخلي او ځينې وخت همدا لږ اور د ډېرې تباهی او بربادی لامل کېږی، دغه پلته زمونږ لپاره يو لوی درس دی، مونږ سرونه لرو او د پلتې برعکس دماغ هم او ګټه مو په دې کې ده چې وړو، وړو خبرو باندې د غوسې پر ځای له صبر او تحمل نه کار واخلو، چې همدا د هوښيارو خلک لار ده.

★★★

- ✓ ژوند کې (۹۰) سلنه کارونه سم وي يوازې (۱۰) سلنه کارونو ته ناسم ويلی شو.
- ✓ ځکه مسکا کوو چې خوښ يوو، ځکه خوښ يوو چې مسکا کوو.
- ✓ وخت تېرېږي او بېرته نه رادرومي.
- ✓ وزګار وخت کې مو اړين کارونه تر سره کړئ، ځکه چې د نن پريښودل. شوی کار مو د سبا وخت اخلي.
- ✓ انسان يوازينې مخلوق دی چې الله ﷻ ورته د مسکا طاقت وربخلی.
- ✓ خواري لومړۍ خوښي ده.
- ✓ يوه مسکا په کور کې د لمر د رڼا په څير ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## هېڅکله ماتې مه منئ

که مقابله ونه کړئ، نو په يقيني ډول د نورو لپاره د مقابلې فضا تياروئ، مقابله زمونږ دښمن نه ملګری دی او په خوښۍ ورته غاړه ورکړئ او که ځان ورڅخه ساتی، نو د پيريدونکو ښه خدمت وکړئ، مونږ ټولو سره طاقت او کمزوري شته او دواړه حريفان لري، که ميدان ګټل غواړئ، نو په خپل طاقت سره بايد د حريفانو کمزورۍ واخلئ،

★★★

- تجربه دا درښايئ چې لومړی ټول اړين کارونه راغونډ کړئ او په ښه ډول ترې لېدنه وکړئ، ترتيب او تنظيم لومړی اړين کار دی او بيا د کلونو تجربې.
- ځينې وخت پرېکړه نه کول د بد عمل نه ډېر خطرناک وي.
- دماغ زمونږ د وجود هغه برخه ده چې لږ يې کاروو او بله خوا زړه، سږي او خوله زمونږ د اړتيا نه ډېر کاريږي، ځينو کړنو کې مونږ دماغ کم په زحمت کوو.
- تر دې چې د لږې پانګې له کبله به له يوې ګټورې غوا هم ټول عمر شيدی تر لاسه نه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## پتنګ له هوا سره نه، مخالف لوري ته اولوزي

ویل کېږي چې الماس د سولېدو او انسان د امتحان پرته نه شي پوره کېدای، که له ستونزو سره مخامخ شئ، نو ستونزه به ستونزه پاتې نه شي، د میډال ګټلو لپاره جنګ کول پکارېږي، په یاد ولرئ چې په سختې سره جنګ ګټلو خوند ځو ځلې له هغه جنګ ډېر وي چې یوازې یوه ټوکه درته ښکاري، تل د جنګ لپاره تیار اوسئ.


★★★

- ستاسو دماغ د بانک د حساب په څېر دی، په هغې کې ښه فکرونه، مثبت نظرونه او په زړه پورې تجربې ور واچوئ. د بیلګې په ډول د تلویزیون او ریډیو بې ګټې پروګرامونو نه ډډه وکړئ، پایله تاسې په د ښه فکرونو قابل شئ.
- دماغ د فکرونو فابریکه ده او ته د تولیداتو مدیر یئ، ښه او بد اوس تا پورې اړه لري او د نورو خلکو فکرونه ستا لپاره خام مواد دي.
- له نورو واورئ، خو پرېکړه خپله وکړئ.
- تېروتنه ښه ښوونکی دی.
- که د رسېد غوښتونکی یې، نو هېڅکله نظر مه ورکوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Your mind is like an acre of land



## دماغ مو د یو جریب ځمکې په څېر دی

دماغ مو د یو جریب ځمکې په څېر دی، د یو بزگر په څېر د ښې پایلې لپاره به د هغې ځمکې ښه ساتنه کوئ، د مطالعې او لوست له لارې هغه کرلی شی، د ځان په څېر خلکو سره په ناستې هغه زرغون کولی شئ او د بې ځایه خلکو له ناستې ځان ساتلو لپاره پرې د بکتریا سپری شیندل پکار دی تر څو پکې نوي، گټور او ښکلي فکرونه وده وکړي.


★★★

- بانک هم د کاروبار په څېر دی او هدف یې گټه لاسته راوړل وي، خپل ټول کاروبار یو بانک پورې مه تړئ.
- مخکې تر دې چې سپی په لغته وهې ځان په دې پوه کړئ چې مالک یې څوک دی.
- د نړۍ تر ټولو غوره انځور هم د هېڅ کار نه وي، تر هغې چې په کېمرې کې وي.
- شتمن خلک خپل کاروباري پلان کې لومړۍ تېروتنه دا کوي چې د ټول معاش فکر د مالیې د ورکړې نه مخکې کوي، خو غوره لاره دا ده چې خپل ټول معاش مو له فکر نه وباسئ او یوازې  د هغه معاش په اړه ځان خبر ساتئ چې د مالیې د ورکړې وروسته تر لاسه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Beware of expenses;**
**A small leak**
**Can sink a big ship.**




**وړو، وړو لګښتونو ته ځان وساتئ، ځکه چې ځينې وخت يو وړوکی سوری يوه لويه کېښتۍ ډوبولی شي**

★★★

- په څارنه کې له صبر کار واخلئ او عمل کې له بې صبری.
- بوديجه يو ننګونه ده.
- ډېر خلک د ښه کار په اړه فکر کوي، د دې پر ځای چې ښه کار وکړي
- ښه مدير هغه څوک دی چې له خپلو شيانو ښه ګټه واخلي او يو ښه مدير هغه څوک هم کېدای شي چې کاروبار نه ښه ګټه تر لاسه کړي، هغه هم يو ښه مدير کېدای شي چې خپل کاروبار ښه روان وساتي، خو ډېر ښه مدير هغه څوک کېدای شي چې د کارکوونکو په دماغ کې د نوو فکرونو د پيدا کولو هنر يې زده وي.
- کوم خلک چې خپل خيالات په ښه ډول کاروي، له هغو غوره دی چا سره چې ډېر خلک، ډېرې پيسې او ډېر سامان وي.
- ننداړتونونه جوړ کړئ، نيمګړتياوې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


problems,problems

everywhere




## ستونزې، ستونزې هر ځای ستونزې

" دلته هغه بدبخته ارام کوي چې په ژوند کې له هېڅ ډول ستونزې سره مخ شوی نه وي".

که ستونزه وي، نو څه وشو؟ داسې خلک چې هېڅ ستونزه نه لري په قبرستان کې يې موندلی شئ، نو خوشحاله شئ چې ستونزه لرئ، ستونزې چې هر څومره ډېرې وي، نو هغومره ډېر وخت به ژوندی يئ.

که هېڅ ستونزه نه لری، نو الله ﷻ ته په سجده شئ او دا ووايئ" ای الله ﷻ ايا ستا پر ما باور نشته؟ ماته نورې ستونزې ولې نه راکوی؟

★★★

- بوخت خلک هغه ځای کې پنځه دقيقې نه مصرفوي، چې يوې ته يې اړتيا وي.
- هره شپه له خوبه مخکې منفي فکرونه له ځان نه لرې کړئ.
- ډېر خلک د ماسټرۍ پرته په کاروبار کې بريالي شوي، مګر د زيرکتيا پرته هېڅوک نه دي بريالی شوي.
- مدير کارونه په ښه ډول تر سره کوي او لارښود ښه کارونه تر سره کوي.
- په ډېرو شرکتونو کې فکرونو، کاغذونو، خلکو او محصولاتو لپاره د درغلی هېڅ دروازه نه وي.
- قهر، کينه او انتقام د کاروبار لپاره وژونکي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## ډېر باور ممکن تاسو ووژني

★★★

- د چا کور ته په پټه خوله او ناڅاپه مه ننوځئ.
- کله مو چې کور ته مېلمه راغی له خپل تليفون څخه استفاده مه کوئ ، او که امکان يې لره نو بند يې کړئ.
- له ډېر وخت وروسته مو چې خپل ولېد دا ورته مه وايه چې زوړ شوی يئ، ختم شوی يئ، د چا په ظاهر قضاوت مه کوه.
- ټول وخت تفريح مه کوئ، ورزش او مطالعې ته وخت ورکړئ.
- د کار په چاپيريال کې رسمي جامې واغوندئ.
- کال کې يو ځل د غاښونو ډاکټر ته ورشئ غاښونه به مو سالم وي.
- خپل هېواد بد مه يادوئ او بل چاته هم اجازه مه ورکوئ چې څوک مو د هېواد بې احترامي وکړي.
- کله چې دعا کوئ په ساده الفاظو يې وکړئ ، داسې لکه د الله سره چې په خپله ژبه خبرې کوئ.
- فکرونه تر هغې پورې بې ځايه وي چې ونه کارول شي.
- که څوک تېره درپسې پورته کوي، نو ځان ترې مه ساته بس ځان هغه ځای ته ورسوه کوم ځای ته يې چې تېره ونه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لارښود یوازېنی کس دی، چې توپیر پیدا کوي

رهبر یعنې لارښور د (lord) نه اخیستل شوی چې په سمندر کې د بهري کیښتۍ د لارې معنا ورکوی، رهبر د بهري کیښتۍ مشر ته هم ویل کیږي. چې په طوفاني ورځو کې سمندر په مېنځ کې د بهري کیښتۍ لوری ټاکي او له خطرونو نه یې ژوغوري، اوس نو که د یو هېواد مشر وي، که د کاروبار، کور یا د یوې ځانګې مشر وي، نو دغه ځانګړتیاوې او وړتیاوې باید ولري.

۱: د ژور فکر کولو وړتیا ولري

۲: د ښې وینا وړتیا ولري

۳: په راتلوونکي باندې پام کولو سره غوره ګامونو پورته کولو وړتیا ولري

۴: ناممکن د ممکن کولو وړتیا ولري

د هر ګوند کړنه د مشر کړنه وي، نو همدې لپاره یو ګوند یا جماعت د خپل مشر انځور وي که چېرې مشر ښه وي، نو ټول به ښه وي، کنه ناکامي حتمي ده.

★★★

- قسمت نه وروسته، پخوالی او ډېره خواري د کاروبار لپاره غوره وسله ده
- د یو ناممکن زغم زغمل له ماشوم نه سړی جوړوي
- ګټه مهمه ده خو شتمني وساته، چې راتلوونکی کې یې بیا وکاروئ
- په عام او ښه مدیر کې توپیر دا دی، کومه پرېکړه چې ښه مدیر په (۳) دقیقو کې کوی یو عام مدیر پرې (۳۰) ورځې مصرفوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالي ستونزو د حل لپاره (۱۱) تکلارې

۱: ټول حقايق په يو کاغذ باندې وليکئ.
۲: اړتياوو پوره کول د پانګې په کتو سره وکړئ.
۳: په هوښيارۍ سره مصرف کول زده کړئ.
۴: د ګټې مخې ته ستونزې مه ډېروئ.
۵ : پور مو ژر ورکړئ.
٦ : په ناروغۍ، اور او په بېړنيو پيسو باندې مصرف کم کړئ.
۷ : خپل ځان بيمه کړئ.
۸ : د اولادونو د پيسو احترام زده کړئ.
۹ : که وس مو رسېږي، نو د خپل پخلنځي لګښتونه کم کړئ.
۱۰: هېڅکله دوکه مه کوئ.
۱۰ : که مو مالي حالت ښه کولی نه شو، نو ځان مطمين کړئ او پر هغه څه افسوس مه کوئ چې بدلولی يې نشی.

★★★

- سبا ته په کاروبار کې د پاتې کېدو لپاره بايد نن څه وکړی ؟
- تر هغې پورې په خپل کاروبار کې نشي برياليی کېدای، تر څو پورې د نړۍ تر ټولو ښه کاروبار په څېر ورته فکر ونه کړی، په کاروبار کې زړه لګول او په زړه کې يې ساتل ضروري وي.
- ډېر وخت خلک په دې خبره باور ساتی، چې په قدرتي ډول خلک د ترقۍ په لور ځي.
- تل په اوله چوکې کينئ دې سره تاسو د ځان په اړه لوی او غوره فکر کوی.
- غوښتلو سره ډېر او فرمايش ورکولو سره لږ درکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## بریا تل هغه څه نه وي چې ښکاري

★★★

- بده وینا له غوره وینا ډېره تیز رفتاره وي.
- په خاموشۍ سره د نورو کمزوري په ګوته کولی شم او خپلې کنټرولی شم.
- لباس سره انسان نه جوړېږي، مګر په شخصیت باندې مو اثر کوي.
- کمپیوټر خراب کارونه نشي سمولی.
- نوو شیانو په اړه فکر کول یو قدرتي کار دی او نوي شیان جوړول اختراع ده، په قدرتي کارونو کې کمی نه وي یوازې په اختراع کوونکو کې وي.
- لوری د تګ نه ډېر مهم دی، مونږ په خپل تګ کې دومره مصرفه یو چې یو ځای تګ ته مو هېڅ پام نه وي.
- ډېر خلک د پراخوالي له کبله خپل کاروبار په خطر کې غورځوي.
- بنسټ ایښودونکي هغه خلک وي چې لوړ فکر لري.
- کاروباري اړیکو کې له احتیاط نه کار واخلئ، کنه له مېنځه تلو لپاره تیار شئ.
- هغه یو لوی سړی دی او که ښه؟ یو سپک سړی ښه کېدای شي او همداسې یو لوی سړی سپک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



A chain is as strong as its weakest link




## ځنځیر هومره قوي کېږي څومره چې پکې کمزوري کړۍ وي

په ځوانۍ کې مې له یو چا اوریدلي وه چې په چا کې څومره نیمګړتیاوې وي، نو هومره قوي جوړیدلی شي، کله چې ماته شوې کړۍ د حرارت په واسطه جوړه شي، نو هغه د مخکې نه ډېره قوي کېږي همداسې د فکرونو او جذباتو له کبله مونږ د خپل شخصیت نیمګړتیاوې بدلولی شو، کوم کس چې په قدرتي ډول په ځان کې ښه والی را ولی هغه ډېر په زړه پورې وي،

★★★

- بدلون سره ځان مه بدلوئ، مګر د بدلون نه مخکې ځان بدل کړئ.
- څوک چې یو مکتب خلاصوي یو زندان بندوي.
- ځینې وخت په دې پښیمانه شم چې ما خبرې ولې کولې؟ چې ولې پاتې نشم؟.
- تعلیم او لرګی ډېر مه کاروئ، ځکه دا دواړه موسمي وي.
- وړوکی غل اعدام کېږي او غټ ژغورل کېږي.
- په خپله لاره کې پاتې شئ او دومره یې ښکل کړئ چې یادګار پاتې شي.
- د راتلوونکي ښه والي لپاره له ماضي درس زده کړئ.
- نوم مو پېژندنه ده، د ژوند په څېر یې ساتنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له خفگانه د ځان ساتلو شپږ تګلارې

**له دې مخکې چې تا له مېنځه یوسی.**

۱: ځان بوخت وساتئ او خفگان له ذهنه وباسئ

۲: وړو، وړو خبرو باندې مه خفه کېږئ او وړو خبرو ته دا اجازه مه ورکوئ چې خوښي مو له منځه یوسي.

۳: خپل تېر وخت ښخ کړئ.

۴: بې ځایه خبرو ته غوږ مه نیسئ.

۵ : د خفگان لپاره "تاوان مه کوئ" یوه تخته ولگوئ او ځان سره دا پرېکړه وکړئ چې کومو خبرو باندې خفگان ستاسو لپاره گټوره دی، له هغه ډېرو ته اجازه مه ورکوئ.

٦ : خفگان په ځان مه سپروئ په خفگان تاسو سپاره شئ.

★★★

- ډېرو خلکو کې دا نیمگړتیا وي چې په ځان پام نه ساتی، په ځان پام وساتئ
- زه د علم پېریدونکی یم
- د کوم شي تر لاسه کول چې یقیني وي له هغه نه ډېر په هغه شرط وتړئ چې له لاسه مو وځي
- خپلوستونزو په اړه چا ته مه وائ ځکه چې هېڅوک پرې خپل وخت نه مصرفوي.
- که د ځان اهمیت درسره وي، نو هېڅوک مو ذلیله کولی نشي
- څوک چې تاسو خوښوي که د هغه یو کال یا څلور کاله مخکینې خبرو ته مخ واړوئ، نو تاسې به د یو روشن فکره تصور ورته وکړی او دا به ووایې چې د حالاتو سره یې خپل ځان بدل کړی، مگر کوم کس چې مو خوښ نه وي او هغه داسې وکړي، نو هغه ته بیا د دروغجن لقب ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مهم کار مو همدا نن تر سره کړئ، له دې مخکې چې درباندې بوج شي

سستي کول په کار کې غلا ده، سبا ته د مهمو کارونو د پرېښودلو عادت مو منزل او کامیابۍ نه لرې ساتي، په یاد ولرئ چې یو لوی اور هم پر وخت د یو ګلاس اوبو اچولو سره مړ کېږي، همداسې پر وخت پیوند مو د بې وخت (۹) پیوندونو ساتی، نو له همدې امله مخکې له دې چې پرېښودل شوی کار مو وروسته خپل بوج لاندې راولی له دی ځان وساتئ، نو بیا وګورئ چې بریالیتوبونه او ګټې به ستاسو قدمونه ښکل کړي، اوږد سفر هم له یو وړوکي قدم نه پیل کېږي، قدم مو پورته کړئ او دغه لوی سفر مو خپلو قدمونو لاندې په خاپوړو وګورئ،

★★★

- بیزو چې څومره لوړوالی ته خېژي هغومره خپله لکۍ خوروي.
- سړی چې څومره لوړ والي ته رسیږي فکر یې وړوکی کېږي، په ځان پام وکړئ.
- طوفان چې څومره تیز وي هغومره ژر کراریږي.
- داسې خلکو ته پیسې ورکول چې وړتیا یې نه لري، له هغه ډېره ښه ده چې داسې خلکو ته صلاحیت ورکړی چې پیسې ورسره نه وي.
- د یو کیلو شاتو جالې جوړولو لپاره مچیو ته (۲۰) لکه ګلانو نه ګرده ټولول پکارېږي.
- دا خبره په ژوند کې ډېره په زړه پورې ده، که چېرته د ښو پرته له نورو ځان وساتئ، نو ډېر وخت هغه تر لاسه کېږي.
- هر سړی په اخیر کې مړ کېږي.
- په خلاصه ټنډه وخاندئ، دا ستا په اعتماد کې ډېرالی راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خفګان ولې؟

یوازې دوه داسې شیان دي چې خفګان پرې ښودلی شو، پـه رنځوریـدو او ښـه کېدو، که صحت مند یئ، نو ډېر ښه او که رنځور یئ، نو دوه خبرو ته بیا خفګان، یا خو به ښه کېږی او یا به مړ کېږی، که ښه شوی، نو ډېرښه او که مړ شو، نو بیـا دوو خبرو ته خفګان، یا به جنت ته ځـی یا بـه دوزخ تـه، کـه جنـت تـه لاړې، نـو ډېرښه او که دوزخ ته لاړې، نو خپلو ملګرو سره په لېدو بـه دومـره مصروفه شـی چې د خفګان لپاره به درسره وخت نه وي، نو د همدې لپاره وخانـدئ خفګـان پـه څه خبره؟

★★★

- ځینې وخت په خپله د ځان دښمن کېږو.
- کله چې ماشومان له میز سره ټکر وکړي مونږ میز ملامتوو دا یو غلطه روزنه ده.
- کله چې په دوهم یا دریم مقام کې یئ، نو خواري وکړه او که په لومړي مقام کې یئ، نو بیا هم خواري وکړه.
- د ښه کېدو احساس ډېر په زړه پورې وي.
- ښښنه ژر او په خوښی سره ....... قهر په ځنډ او په پوره فکر سره.
- یوازې لومړی قدم ستونزمن وي.
- دا ښه خبره ده چې الله ﷻ تاسو ته خپل راتلوونکی نه در ښایي کنه تاسو به د ځان وژنې کوښښ کړی وای.
- په نړۍ کې هېڅ ګل بې له اغزو نشته، کوم خلک چې د ګل ښکلا له پامه غورځوي او یوازې اغزو ته پام کوي د هغه مثال د هغه کس په څیر دی چې ستورو لېدو پر ځای په خټه باندې پام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ژوند (۱۲) ارزښتونه

۱: د وخت ارزښت

۲: استقامت کې بریا

۳: د ساده ګۍ عظمت

۴: د رویې شتمني

۵: د بیلګې موثریت

٦ : د فرضو احساس

۷ : مالی کړنو کې زیرکتیا

۸: په زغم کې نیکي

۹: وړتیاو کې غوره والی

۱۰ : د مهربانۍ زور

۱۱: د خوارۍ خوښي

۱۲: په اصلیت باندې فخر

★★★

- ✓ انسان ډېر وخت په هغه ځای کې غورځیږي، چې د قوي والي تصور کوي.
- ✓ لږ وخت لپاره تاسو صحیح کېدای شئ، مګر په راتلوونکی کې همدا ستا تر ټولو لویه تېروتنه کېدای شي.
- ✓ له ماتې پرته ماتې ته د تسلیمېدو هنر زده کړئ.
- ✓ چې څاه ګانې وچې نه شي، د اوبو کمی نه محسوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## بل څوک مه پرېږدئ، چې فکر مو و وژني

★★★

- هر څوک له خپل دماغ نه خوشحاله وي، خو هېڅوک له خپلې شتمنۍ نه خوشحاله نه وي.
- کله چې (۴۰) کلن شوی، نو هر کال به له یو نوي خفګان سره مخ کېږی.
- که په ریښتیا سره خپل دښمن سوځول غواړی، نو خاموشه شه او هغه یوازې پرېږدئ.
- خپله ماته په شګو او بریا مو د مرمرو په تېږه ولیکئ.
- هر څه مو چې ولیدل پر هغه نیمي باور وکړئ او څه مو چې واریدل پر هغې هېڅکله باور ونکړئ.
- کور خو مې وسوځیده، مګر اوس سمندر لیدلی شم.
- تل ځان خوشحاله ساتئ ځکه د خفګان په وخت کې له تاسو سره مرسته کوي.
- که یو وخت کې ډېر کارونو کول درته پکار وي، نو لومړی ترې د غوره کار پیل وکړئ.
- هېڅکله مو دنده له پامه مه غورځوئ، بیا وګورئ چې تاسو ډېر طاقتوره یئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ستړيا او خفګان نه د ځان ساتلو او خپل طاقت او جذبې د خوندي ساتلو شپږ تګلارې

۱ : ستړيا نه مخکې ارام وکړئ.
۲: کار تر ځنګ د ارام کولو هنر زده کړئ.
۳: که د کور ښځه یئ، نو کور کې ارام وکړه او د خپل شتون او خوارۍ ساتنه وکړه.
۴: د کار دغه درې عادتونه خپل کړئ.
۵ : د اړینو کاغذونو پرته نور ټول بې کاره کاغذونه له میز نه لرې کړئ.
٦ : کارونه مو د اړتیا پر بنسټ تر سره کړئ.
۷: کله چې یوې ستونزې سره مخ شوی اول یې حل کړه او له هغې وروسته د حقایقو په رڼا کې پرېکړه وکړئ.
۸ : منظم کېدو او څارنې هنر زده کړئ.

★★★

- هیرول د الله ﷻ د راکړل شوی قدرتونو نه یو قدرت دی.
- د هغه امید مه ساتئ چې ناشونی وي.
- یوه وړوکی لیکنه د یوې غورې حافظې ښه ده.
- ستونزه دا نه ده چې حل کولی یې نشی، ستونزه دا ده چې د ستونزې نه ناخبره یئ.
- موسم نه بدلېږي بلکې هوا کې بدلون راځي.
- لویوالي سره واړه کارونه تر سره کړئ.
- که کارونه مو په لومړي ځل سره صحیح تر سره کړل، نو ژوند مو اسانېږي.
- کله مو چې هر څه جوړول، نو پر بنسټ یې ډېره خوارۍ وکړئ.
- ښه والی په ګزونو کې نه په اینچ کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## يو ستونزمن پېريدونكی په احتياط سره كنټرول كړئ

ستونزمن او بېلابېلو پېريدونكو نه د وېرې اړتيا نشته، هغه ستا اصلي ګټه او ازموينه ده، دا فرصت درکوي چې خپل وړتيا او زيرکتيا په کار واچوئ او ځان يو ښه پلورونکی ثابت کړئ ستونزمن پېريدونکی ستا په تګلارو کې ځنډ را ولي تر ځو په ښه ډول خپل پېريدونکی مطمئن کړئ او ډېره ګټه تر لاسه کړئ.

د ستونزمن پېريدونکي د كنټرولولو لپاره تاسو ته زيرکتيا په کار ده، هغه بايد ستا د مينې او توجو وړ وي، د هغه ناز پورته کړئ بيا وګورئ هغه څه کوي، يو ځل هغه را نرم کړئ او بيا يې د ځان په لور را وګرځوئ او په مسکا سره يې بيرته ولېږئ هغه به بېرته (۱۰۰) پېريدونکي تاسو ته راولي.

★★★

- بختور هغه كس دی چې يو كار ورته وسپارل شي، لدې لويه خوښي ورته بله نشته.
- هېڅوک ستا د رضا پرته تا د کمترۍ په احساس کې نه را ولي.
- د يو ستونزې حل ډېر اسانه دی، کله چې له ستونزې خبر و اوسئ.
- که د خوارۍ پرته خوښي را درمومي، نو دا زمونږ نصيب دی.
- پرېکړه نه کول يو ناوړه عادت دی له دې نه ښه ده چې غلطه پرېکړه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## فکر کول پرېږدئ، کار پیل کړئ

★★★

- د موږک د منډې ستونزه دا  ده چې ګټې وروسته به هم موږک وي.
- اداره که هر څومره لویه وي خو یو وړوکي کار کې هومره وخت مصروفوي.
- څوک چې ځان وژنه کوي هغه مه قتلوئ.
- زما په فکر د بریا پکې هیڅ برخه نشته، مګر تاسو د ماتې نه ډېر څه زده کولی شی.
- د څراغ روښانه کولو لپاره په هغې کې تیل اچول ضروري وي.
- په یو تاو شوی لاره کې تاسې سیده نشی تللی.
- د یو غټ هدف لپاره ډېرو لفظونو ته اړتیا ده.
- که دوه کسه یو کار کې موافقه وي، نو د یو پاتې کېدل بې ګټې ده او که دواړه موافقه نه وي، نو د دواړو پاتې کېدل بی ګټې ده.
- له هغه چا سره هیڅکله جنګ مه کوئ چاسره چې پرېښودولو لپاره هیڅ نه وي.
- نیمه شپه تیل مصرفولو نه غوره دا ده چې د ورځې ویښ پاتې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## اصلي ګټه، پېرېدونکي دي، نور ټول بې ګټې

پېرېدونکی سردرد مه ګڼه هغه زمونږ اصلی ګټه ده، د هغوی درناوی وکـړئ، ځکه چې هغوی زمونږ کارکوونکو ته معاش ورکوی او زمونږ لګښـتونه هـم زغمـي، یوازې پیریدونکی هغه چرګه ده چې د سرو هګـۍ اچـوي تـل او هـر ه ورځ، نـو د هغوی ښه درناوی او خدمت وکړئ او پایله کې ښه ګټه تر لاسه کړئ.

کومه کمپنۍ چې په ګټه کې ډوبه وي ډېر ژر ماتې سره مخ کېږي، د ورځې ګټـه ختمه کړئ ، هغه د میاشتې اصول جوړ کړئ د کال نه او پېرېدونکو ته پـام کـوئ ځکه چې په اصل کې هغه ستا مشر دی.

★★★

- ✓ زمونږ رایه زمونږ راتلوونکی راښایي.
- ✓ که هندوانه چړې سره ټکر شي، نو دا ځان وژنه ده زړورتیا نه.
- ✓ ستونزه یو داسې بهانه ده چې تاریخ هېڅکله قبول کړی نه دی.
- ✓ کوم خلک چې کار په طبیعي ډول تر سره کوي نو د هغوی د څارنې لپاره هېڅ اړتیا نشته.
- ✓ که داسې ښائي چې څومره طاقتوره یئ، نو ستا او د ښځې تر مېنځ هېڅ توپیر نشته.
- ✓ وخت ساتلو لپاره هم وخت مصرفیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## خپل ځان کې موسکا راوستل یو ارزانه لاره ده

موسکا وکړئ، نړۍ به له تاسره موسکا وکړي که وژاړی، نو تاسو به ځان یوازې احساس کړی، مونږ د دې لپاره موسکا نه کوو چې خوشحاله یو، مونږ د دې لپاره خوشحاله یو چې موسکا کوو، زه خفه وم چې بوټان نه لرم، بیا مې په کوڅې کې داسې یو کس ولیده چې پښې یې نه درلودې.


★★★

## انتقاد باندې د خفه کېدو نه د ځان ژغورلو درې لارې

۱: غیر عادلانه انتقاد چې اکثره خلک د بل په کامیابۍ باندې خفه کېږي او کینه ورسره پیدا کوي خو په یاد ولرئ چې مړی څوک په لغته نه وهي.
۲:تاسو چې غوره هر څه تر سره کولی شي تر سره یې کړئ او بیا بې فکره په سر د انتقاد چترۍ ونیسئ او د انتقاد له باران نه خوند واخلئ
۳: د خپلو تیروتنو ښه حساب وکړئ.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هر څه په مناسب وخت کې لاس ته درځي

الله ﷻ مونږ ته د روحاني او مادي اړتیاو لاس ته راوړلو لپاره په کال کې ځانګړي ساعتونه راکړي، الله ﷻ دغه ساعتونه په ورځو او میاشتو باندې تقسیم کړي، که چېرې دغه له لاسه ورکړو، نو تر لاسه کول یې ناشونې ده.

الله ﷻ د وخت دغه شتمني په ټولو برابره ویشي او ټولو ته د زده کړې برابر فرصت ورکوي، مونږ چې په دنیا کې هر څه تر لاسه کوو دا د الله ﷻ د ډالۍ هغه نمونه ده چې مونږ ورته وخت وایو.

هر څوک خپل ار زښت په خپله ټاکي

★★★

- که له چا کومه تمه ونه لرئ ټول ستا دوستان دي
- پاکه پوهه په ناپاکو زړونو کې ځای نه نیسي
- د ژوند غوره دستور دا دی چې پر خپل نفس باور ولرو.
- هغه څه چې په قهر او غضب پیلېږي له شرم او پښیمانۍ سره ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د نورو د ژغورلو لپاره ځيني وخت تاسو بايد يو قدم شاته واخلئ**

- د دنيا په ځای پر ځان مسلط شئ.
- خوشالي هغه پريشاني ده چې موږ يې په لټه کې يو.
- کله چې بډايان جنګ پيلوي دا فقيران دي چې پکې مري.
- پاکه پوهه په ناپاکو زړونو کې ځای نه نيسي.
- د ژوند غوره دستور دا دی چې پر خپل نفس باور ولرو.
- هغه څه چې په قهر او غضب پيلېږي له شرم اوپښيمانۍ سره ختمېږي.
- د يو بل احترام وکړئ، نه دا خلک بيا راځي او دا وخت بيا راځي.
- کله چې دې ملګری ورک شو ويې لټوه، خو کله چې بدل شو بيا مه ورپسې ګرځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## چارلي چاپلین

- کله چې ژوند ستاسو د ژړا لپاره سل دلیلونه وړاندې کړي، نو تاسو ورته د موسکا لپاره زر دلیله وړاندې کړئ.
- که خوشحاله وئ، په غلي توګه وخاندئ ترڅو غم راویښ نه شي او که خپه وئ نو په ارامه توګه وژاړئ ترڅو خوښي ناهیلې نه شي.
- ممکن ژوند هغه محفل ونه اوسي چې تا یې هیله درلوده، خو اوس چې ورته رابلل شوی یې، نو څومره چې کولی شې ترې خوند واخله.
- دا زمونږ د ژوند د تضادونو څخه دي، چې خلک تل په مهمو وختونو کې تېروتنې کوي.
- انسان که غریب او نېستمن وي ښه ده نسبت هغې ته چې پست او بې عاطفې واوسي
- مونږ فکر ډېر کړی خو احساس مو کم کړی
- تر ټولو غوره دوست مې هېنداره ده، کله چې زه ژاړم، هغه نه خاندي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



Everybody talks about Mother's love




But nobody talks about father's sacrifice.

**هر څوک د مور د مینې په اړه خبرې کوي، خو د پلار د قربانۍ خبره څوک نه کوي**

- په کوم کور کې چې پلار شتون لري له هغه کور نه ډېر پـه امـن کـې وي چې دروازې ته یې (۱۰) قلفونه اچولي وي.
- پلار هغه لویه هستي ده چې د هغه د خولو بوي قیمـت هـم اولاد نـه شي پوره کولی.
- غوره پلار د زوی او لور تر منځ توپیري چلند نه کوي
- پلار سخت کار کوي تر څو اولادونه یې ارامه ژوند ولري.
- پلار د شفقت بحر دی.
- پلار هغه څوک دی چې تل د خپل اولاد ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





A mother is she who can take the place of all others but
Whose place no one elase can take.

**مور هغه ده چې د نورو ټولو ځای نیولی شي، خو بل څوک یې ځای نشي نیولی**

- کله چې مور وي، نو هېڅکله په خپلو افکارو کې یوازې نه یاست، هره مور، د هر څیز په اړه دوه ځله فکر کوي، یو ځل د ځان او بل ځل د خپل اولاد لپاره. (سوفیا لورن)
- زما د ږیرې څه نا څه وېښتان سپین شوي وو، خو کله چې مور زما په هلکه خبرې کولې، خلکو داسې فکر کاوه، چې زوی یې کوچنی هلک دی، چې د مور شیدې روي . (اناتول فرانس)
- یوه ښه مور د سلو ښوونکو ارزښت لري. (جورج هربرټ)
- یوازې مور او پلار له کومې تمې پرته د خپل اولاد غوښتنې پوره کوي. (ستراُرد)
- د مور زړه په دې کچه پراخ دی، چې تل کولای شئ، په هغه کې بښنه او تېرېدنه پیدا کړئ. (انوره دوبالزاک)
- مور هغه بانک ته ورته ده، چېرته چې موږ خپل غمونه او دردونه خوندي کوو.(دیود تالماج)
- د ژړلو لپاره تر ټوله غوره ځای د مور غېږ ده.(جدی)
- د مور لاسونه له مهربانۍ او شفقت څخه جوړ شوي دي او کوچنیان ډېر په خوښۍ ورباندې خوب کوي.(ویکتور هوګو)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- مور هغه هستي ده چې د اولاد په سلگونو زره رازونـه پـه سـينه کـې پـټ ساتي.
- مور هغه هستي ده چې د ستاينې لپاره يې په نړۍ کې الفـاظ نـه مونـدل کېږي.
- مور د رڼا او ښودنې ځلی دی
- د مور او گل تر منځ توپير نه تر سترگو کېږي.
- په کوچنيوالي کې مور مې دا احساس را کړ، چـې هرڅـه شـوني دي او زه په دې باندې باور لرم. (هاوارډ شولټز)
- مور په کور کې د زړونو مقناطيس او قطبي ستوری دی. (سمايلز)
- مور مې زما په خاطر ډېر زيات کړاونه گاللي دي، خو فکـر کـوم، چـې پـه ژوند کې يې له دې ټولو کړاوونو څخه خوند اخيستی دی. (مارک تواين)
- د ژوند لومړنی درس، چې بايد مور او پـلار يـې خپلـو اولادونـو تـه ور زده کړي، رښتينولي ده. (شوپنهاور)
- له مينې څخه کرکه لرم د دې لپاره چـې د لـومړي ځـل لپـاره مـين شـوم خپله مور مې هېره کړه. (مارک تواين)
- مور په ټولنه کې هغه تله ده چې ټول اولادونه ورته يو شان وزن لري او په نړۍ کې هغه موجود دی چې زړگې پرې راټولېږي.
- د نړۍ تر ټولو سرمايداره انسـان هغـه څـوک دی چـې د مـور دعـا ورسره وي.
- د مور مقام دومره لوړ دی چې له وطن سره يې تشبيه کړې.(ناپليون اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالیتوب

ژباړن: زاهدالله ازل

د کتاب منځپانګې:

- بریا د هر څه معشوقه ده
- د نیم دماغ سړی هیڅ نه شي کولی
- کلونګی هیڅ کله نه تښتي
- غوره کتاب مو ژوند بدلولی شي
- فرښتونه دوهم ځل تیاره هم په لاس راځي
- سیني نه د ځان ساتلو لپاره ټګلاري
- د ستري لپاره غوره ټګلارې
- په کمه کار د توانو لپاره کتور وي
- د بریا قانون
- وخت مو د پیسو په څېر اداره کړئ
- ټل خوک به پرودلی چې فکر مو و وزاني
- هر څه په مناسب وخت کې لاس ته درځي



بناغلی زاهد الله ازل د نجیب الله همدرد زوی د لغمان ولایت، الینګار ولسوالۍ، کتاخیلو کلي اوسیدونکی او په قوم نیازی دی. نوموړی په (۱۳۷۱هـ لمریز) د سنبلې په میاشت لغمان ولایت الینګار ولسوالۍ کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې کوزې پښتونخوا، جلوزو کیمپ هجرت او ثابت ښوونځو کې او ثانوي زده کړې یې د نجم الجهاد عالي لیسه کې په (۱۳۹۳ هـ لمریز) کال پای ته ورسولې. د لیسې په دوران کې زاهدالله ازل په خینو کورسونو کې د ریاضي او انګلیسي ژبې استاد پاتې شوی. او په (۱۳۹٦ لمریز) کال کې د کونړ سید جمال الدین افغاني پوهنتون له اقتصاد پوهنځي څخه کادر کې فارغ شوی دی. له فراغت وروسته تر یوکال پورې په احمدشاه دراني لیسه کې د استاد په صفت دنده تر سره کوله او له هغې وروسته یې د ننګرهار د کسیکرو او هتیوالو خوښي سره د اداري او مالي مدیر په حیث دنده ترسره کړې. ښاغلي ته د لومړي ژباړل شوي کتاب (بریالیتوب) په تړاو مبارکي ورکووم او د داسې علمي خدمتونو په خاطر ورته دعا کووم.

په درنښت

ضیاء الله خالاند

۱۴۰۰/۱۰/۳۰هـ لمریز




میهن خپرندویه ټولنه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library